فهرس

وخت..1
د وخت اهمیت..4
په قرآن کریم کې د وخت ذکر..9
ورځ او شپه په قرآن کریم کې..10
د شپې او ورځې بدلون..16
د ورځې دوا ړه طرفونه...18
د ورځې او شپې اختلاف...19
سحر وختي (الصبح)..22
شروق د لمر ختلو وخت..25
د څاښت وخت (الضحی)..27
د ماسپښین وخت...29
د مازیگر وخت...30
د غروب (لمر لوېدو) وخت...33
ماښام وخت...35
د ماسختن وخت...36
د شپې آخر (د پېشمني) وخت...38
سپېده داغ (د سحر د راختلو) وخت....................................39
د ورځې د رڼا له امله د ستورو د ورکېدلو وخت........................42
په قرآن کریم کې دوخت اهمیت..42
د وخت په اړه د انسان مسئولیت..44
د وخت قدر کول..45
د خپل عمر ساتنه کول...48
د بل انسان د ژوند ساتنه کول..61
د وخت اهمیت په قرآن کریم کې..65
په وخت باندې قسم..67
د عباداتو لپاره خپل وخت تعین شوی دی...........................76
مونځ په خپل وخت کې فرض دی.......................................76
روژه د رمضان په میاشت کې فرض ده................................79
حج په خاصو میاشتو کې فرض دی....................................81
الأشهر الحرم...87
په اشهر الحرم کې جهاد کول...89
په اشهر الحرم کې د دیت مسئله.......................................95
خپلې ښځې ته د ور نېږدې کېدلو نه د قسم وخت........................96
عدت...98

د عدت وخت...99
عدت کله په میاشتو سره وي..99
د کونډې د عدت وخت...100
ظهار 102
د ظهار په عدت کې هم وخت تعین شوی دی....................102
د ظهار کفاره 105
د قتل خطاء په کفاره کې هم وخت دی...........................106
په اذکارو او تسبیحاتو کې د وخت یادېدل 107
د هغه چا ستاینه شوې چې د وخت ساتنه کوي............108
د بې فایدې وخت نه تېرولو حکم 110
بې فایدې وخت تېروونکي به پښېمانه وي.................111
وخت د الله د قدرت له نښو څخه دی 115
د وخت په ساتلو تنبیه ....Error! Bookmark not defined.
په فارغ وخت کې ذکر کوئ..139
خاتمه 139
د وخت اهمیت پېژندل...140
په ډېرو کارونو کې د مهمو کارونو غوره کول 143
د هدف تعین کول 144
د هر کار لپاره د هغه مناسب وخت ورکول 144
د وعدو اول او آخر محدود کول 145
د وخت له ضائع کونکو څخه ځان ساتل...........................146
د عذر په ویلو کې زړورتیا 147
خپلو کارونو ته ترتیب ورکول...148
کلکه اراده 149
هر کار په خپل وخت کول..149
د آرام او خوب وخت محدود کول 150
د بل چا د وخت قدر کول...151
د مؤلف چاپ شوي آثار..156

وخت

بېشکه په دنیا کې د انسان ټوله سرمایه د هغه عمر دی محدودې ثانیې او محدودې دقیقې او ساعتونه دي چې تېرېږي هغه چا چې دا محدود وخت په ښه توګه استعمال کړو او کار یې ورڅخه واخیست نو ډېر د ښه قسمت خاوند دی او هغه کسان چې دا وخت یې ضائع کړو او په داسې څه کې یې مصرف کړو چې ده ته په ښه نه ورځي نو داسې یو قیمتي شی یې ضائع کړل چې کله به هم ده ته بېرته په لاس ورنشي .

او د انسان د پیدائښت د لحظې نه د هغه تر مرګه پورې دا غزېدلی لوی نعمت الله انسان ته ددې لپاره ورکړی دی چې کار ورڅخه واخلي او ددې لوی نعمت قدر هغه وخت ډېر زیاتېږي چې انسان په خپل ژوند کې د بلوغ په مرحله کې داخل شي پدې وخت کې انسان هغه حالت ته داخل شي چې په کومه مرحله کې د انسان امتحان اخستل کېږي او انسان ته هغه ذمه واري او مسئولیتونه ور په غاړه کېږي د کوم لپاره چې پیدا شوی دی الله ددې امتحان په اړه فرمایي :

الَّذِیۡ خَلَقَ الۡمَوۡتَ وَ الۡحَیٰوۃَ لِیَبۡلُوَکُمۡ اَیُّکُمۡ اَحۡسَنُ عَمَلًا ؕ وَ ہُوَ الۡعَزِیۡزُ الۡغَفُوۡرُ ۙ(۲)[1]

ترجمه : هغه الله چې پیدا کړی یې دی مرګ او ژوندون لپاره د دې چې و ازمویې تاسې چه کوم یو له تاسې ډېر ښه دی د عمل له مخې (چې بیا درکړي تاسې ته جزا د اعمالو) او همدغه الله ښه غالب قوی دی ډېر مغفرت کونکی دی .

یعني د مړینې او د ژوند سلسله هغه الله قائمه کړیده مونږ او تاسې مخکې هېڅ نه وو بیا الله ژوند راکړو او ددېنه وروسته به بیا مړه کیږو بیا به مو له هغه مرګ نه وروسته بېرته ژوندي را پاڅوي لکه الله چې په سورة بقرة کې په ۲۸ آیت کې فرمایي چې (اول تاسې مړه وئ بیا یې ژوندي کړئ بیا به تاسې بېرته مړه کوي بیا به تاسې بېرته ژوندي کوي او بیا به تاسې ټول هغه ته رجوع کوئ) .

نو د ژوند او مرګ دا سلسله ددې لپاره ده چې د اعمالو امتحان واخیستل شي چې څوک ښه او څوک بد اعمال کوي په اول ژوندون کې امتحان دی او په بل ژوند کې د هغه نتیجه په لاس راځي تاسې فرض کړئ که د دنیا د ا ژوند نه وای نو بیا به د عمل موقع له کومه کېده او تاسې فرض کړئ که

[1] سورة الملک آیة ۲

چېرته مرګ نه وای نو بیا به نېک اعمال چا کول؟ خو ټول خلق به غافل پراته وو او په اطمنان سره (چې د مرګ وېره به یې نه وه) خپل ژوند به یې کاوه او که چېرته د مرګ نه وروسته بېرته را ژوندي کېدل نه وای نو بیا به ددې ژوند د امتحان نتیجه چېرته ورکول کېده ؟

د آیت په آخر کې الله فرمایي چې هغه الله غالب او مغفرت کونکی دی پدې معنی چې هغه داسې غالب ذات دی چې د هغه د نیولو څخه هېڅوک نشي خلاصېدلی او سره ددې بښونکی دی چې څوک ورڅخه بښنه وغواړي هغه ته بښنه کوي.

او همدا عمر دی چې د انسان په ژوند کې د یوه داسې قیمتي شي حیثیت لري چې هېڅ ډول یې ارزښت نه کمیږي او چې یو ځل له لاس نه وزي بیا یې بېرته د ورګرځېدلو هېڅ امکان نه وي او د انسان یو فردي طاقت او قوت خو پرېږده چې په د نیا کې کوم ډول قوتونه او طاقتونه سره را ټول شي نو هغوی بیا د یوې دقیقې تېر شوي وخت په را ګرځولو باندې قادر نه وي او نه به پدې باندې څوک و توانیږي چې یوه دقیقه وخت وړاندې کړي بلکه دا هرڅه د الله په نظام او د هغه په اجازه سره چلیږي چې هېڅوک پکې هېڅ ډول تصرف نشي کولی نو وخت چې هرڅنګه وي او په هر وخت کې وي ډېر د قدر وړ او محترم شی دی لکن دا د بلوغ نه وروسته د انسان تر مرګ پورې هغه وخت دی چې یو انسان ته د یوې حقیقي سرمایې حیثیت

لري چې بايد انسان يې په داسې ډول مصرف کړي چې دده لپاره په دنيا او آخرت کې د نېکمرغۍ او خوشحالۍ سبب شي نو ددې خبرې د اهميت له امله دا ده پدې موضوع باندې دا رساله ستاسې تر لاسونو در ورسېده .

د وخت اهميت

د تاريخ د مطالعې نه مونږ ته را ښکاره شويده چې کومو خلکو له وخت نه فايده پورته کړېده يعني چې کوم کار په کوم وخت کې په کار وو په همغه وخت کې يې کړی دی نو هغه کسانو د کاميابي مخ ليدلی دی او هغه کسان چې د وخت قدر يې نه دی کړی او کوم کار چې په کوم وخت کې په کار وو په هغه وخت کې يې نه دی کړی نو هغوی د کاميابي څخه ډېر لري پاتې شوي دي .

د اسلامي تاريخ د مطالعې څخه مونږ ته را ښکاره کيږي چې پخوانيو صالحينو د وخت قدر پېژندلی وو او خپل وخت به يې نه پرېښودو چې بې ځايه او بې فايدې تېر شي حضرت ابي الدرداء فرمايي :

ابن آدم ! طأ الأرض بقدمك فإنّها عن قليل تكون قبرك ! ابن آدم ! إنّما أنت أيّام، فكلما ذهب يوم ذهب بعضك. ابن

آدم ! إنّك لم تزل في هدم عمرك منذ يوم ولدتك أمك .[1]

ترجمه : ای د آدم زويه (انسانه) پدې زمکه باندې په خپلو پښو وګرځه (عمل وکوه) ځکه لږ وروسته به همدا زمکه ستا قبر شي ای د آدم زويه (انسانه) بېشکه ته له ورځو څخه جوړ شوی يې نو چې ستا يوه ورځ تېرېږي ستا له بدن څخه يوه برخه کميږي له کومې ورځې نه چې ته خپلې مور پيدا کړی يې ته د خپل عمر په ختمولو کې يې .

په پورتني حديث کې حضرت ابي الدرداء د انسان عمر له هغه تعمير سره مشابه کړی دی چې انسان يې ړنګوي نو معنی دا چې هرڅومره لوی تعمير وي چې انسان په ورځ کې يوه خښته هم ترې لرې کوي نو پدې يقين دی چې آخر به هم دا تعمير پای ته رسيږي نو په همدې ډول د انسان عمر دی محدودې ورځې شپې ساعتونه دقيقې او ثانيې دي او ددېنه څوک خبر نه دي چې کله به پای ته رسيږي نو دا وخت خو هسې هم تيريږي که څوک ويده هم وي دده عمر لنډيږي او که څوک په کوم کار او عمل مصروف وي هم وخت ختميږي نو بختور هغه کسان دي چې وخت يې په داسې ډول استعمال کړو چې دده د آخرت په ښه ورشي.

[1] البيهقي في شعب الايمان

په یوه حدیث کې رسول الله ﷺ فرمايي :

ليس من يوم يأتي على ابن آدم إلا ينادي فيه: يا ابن آدم، أنا خلق جديد، وأنا فيما تعمل غدا عليك شهيد، فاعمل فيّ خيرا أشهد لك به غدا، فإني لو مضيت لم ترني أبدا .

ترجمه : په بني آدم (انسان) باندې هېڅ ورځ نه راځي مګر ده ته پکې اواز کيږي : ای د آدم زويه زه (ورځ) يو نوی مخلوق يم او ته چې څه کوې سبا زه په هغه باندې ګواه يم نو په ما کې نېک عمل وکوه سبا به زه ستا لپاره د هغه نيکي ګواهي ووايم او چې زه يو ځلې لاړم بيا به مې بالکل ونه وينې .

امام ابن قيم رحمه الله فرمايي :

كلّ آفة تدخل على العبد فسببها ضياع الوقت، وفساد القلب، وتعود بضياع حظه من الله، ونقصان درجته ومنزلته عنده.[1]

ترجمه : انسان ته چې کوم آفت رسيږي نو سبب يې د وخت ضائع کول وي او د زړه خرابېدل وي او دا د الله سره د انسان د خير برخه ضائع کوي او د

[1] رسالة ابن قيم الى اخوانه

ﷲ په وړاندې ددې انسان درجه او منزله ښکته کوي .

په پورتني کتاب کې مخکې امام ابن قیم رحمه ﷲ فرمايي :

وصّى بعض الشيوخ فقال: احذروا مخالطة من تضيع مخالطته الوقت، وتفسد القلب، فإنّه متى ضاع الوقت وفسد القلب انفرطت على العبد أموره كلّها، وكان ممّن قال ﷲ فيه : " وَلا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا"[1]

ترجمه : بعض شيخانو په نصيحت کې فرمايلي دي : د هغه چا سره د کېناستلو نه ځان وساتئ چې له هغوی سره کیناستل ستاسې وخت ضائع کوي او زړه خرابوي ځکه کله هم چې وخت ضائع او زړه خراب شي نو بیا په انسان باندې د هغه ټول کارونه ګډ وډ شي او بیا د هغه کسانو څخه شي چې ﷲ د هغوی په اړه فرمايي : د هغه چا مطابعت مه کوه چې مونږ د هغوی زړه د خپل ذکر نه غافل کړی دی او هغه د خپلو خواهشاتو طرفداري کړیده او د هغه کار تر حد تېر شوی وو.

1 (الکهف:28)

او که مونږ د وخت په اهميت باندې څوک چاته څه ونه وايي بلکه صرف يو څوک دا فکر وکوي چې د انسان عمر دا وخت دی او دا معلومې دقيقې او معلومې ثانيې دي چې ددېنه يوه دقيقه هم کمېږي هغه بېرته نشي را ګرځېدلی نو ددېنه هم انسان د وخت په اهميت باندې په سمه توګه پوهېدلی شي .

او همدا عمر دی چې انسان يې په سمه توګه وکاروي نو د الله په وړاندې د هغه د عيش نه د ډک ژوند (جنت) مستحق کيږي چې بيا به يې آخر نه وي ددې امله په قرآن کريم کې او په احاديثو کې وخت ته ډېر زيات اهميت ورکړل شوی دی پدې رساله کې (مشت نمونه خروار) په قرآن کريم کې د وخت د اهميت څه نکتې ستاسې په وړاندې ايږدم .

په قرآن کریم کې د وخت ذکر

په قرآن کریم کې په متعددو ځایونو کې د وخت او یا د هغه د اجزاوو ، ورځې او شپې او نور داسې ذکر راغلی دی لکه د مثال په ډول د شپې ذکر په قرآن کریم کې په ۹۲ ځایونو کې راغلی دی او د ورځې ذکر په قرآن کریم کې په ۵۷ ځایونو کې شوی دی او ددېنه علاوه د الصبح ، الاصباح، الفلق او بکرة او یا دې څخه نور جوړشوي الفاظ چې معنی یې ورځ وي په مختلفو ځایونو کې ذکر شوی دی او په متعددو ځایونو کې یوم لفظ چې مطلب یې ورځ وي هم ذکر شوی دی او په اکثر دې آیتونو کې چې هلته شپه او ورځ یاد کړل شوي دي الله په مونږ باندې د خپل احسان ښکارونه کړېده چې هغه مونږ ته د ورځې او شپې یو په بل سره بدلون پیدا کړی دی او د دوی دواړو د بدلون څخه وخت پیدا کیږي چې په کوم سره ددې دنیا بقاء ده او په کوم سره چې د دنیا ټول کارونه مخ په وړاندې ځي او ټاکل شوي او مقرر شوي میعادونه پای ته رسیږي ، میوې پخیږي او موسمونه بدلیږي او د همدې شپې او ورځې بدلون دی چې د الله د لویو قدرتونو څخه شمارل کیږي ددې امله دې چې په قرآن کریم کې یې زیات ذکر راغلی دی

ورځ او شپه په قرآن کریم کې

الله په قرآن کریم کې شپه یاده کړیده او د هغې یې صفت کړی دی پدې سره چې هغه تیاره وي ، پټونکې وي ورځ ترېنه سلخ شي او هغه تیاره پاتې شي ، هغه په ورځ باندې د پردې په ډول راشي هغه پټه کړي ، خلک په هغې کې سکون او آرام کوي ، کائنات په خپله تیاره کې پټوي او داسې نور همدارنګه الله په قرآن کریم کې ورځ هم یاده کړیده او د لمر د وجود له امله یې په رڼا والي سره د هغې صفت کړی دی او دا چې هغه روښانه وي ، په هغې کې لیدل کېدلی شي ، په هغې کې انسان د خپل ضرورت مطابق کارونه کولی شي ، تجارت او نور معاملات په ښه ډول کېدلی شي ، الله فرمایي چې سحر وختي تنفس وکوي یعني د تنفس سره نوی ژوند شروع شي په ځینې آیتونو کې شپه او ورځ دواړه یاد کړل شوي دي او په ځینې کې به یو وي زه یو څو آیتونه ستاسې خدمت ته د نمونې په ډول را ټولوم الله فرمایي :

وَالَّذِينَ كَسَبُواْ السَّيِّئَاتِ جَزَاء سَيِّئَةٍ بِمِثْلِهَا وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ مَّا لَهُم مِّنَ اللّهِ مِنْ عَاصِمٍ كَأَنَّمَا أُغْشِيَتْ وُجُوهُهُمْ قِطَعاً مِّنَ اللَّيْلِ مُظْلِماً أُوْلَـئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ .[1]

ترجمه : او هغه کسان چې کسب یې کړی دی د بدو (لکه کفر او نفاق) جزا د بدي (د دوی) په

[1] یونس27

قدر د بدي ده (نه ترې زياته) او پټوي به دوی لره ذلت (رسوايي) نه به وي دوی ته له (عذابه د) الله هيڅ ساتونکی ګواکې پټ کړی شوي دي مخونه د دوی په قطعو(ټوټو) د شپې سره حال دا چې تک تور به وي دغه صاحبان د اور (د دوزخ) دي ، هم دوی په دغه دوزخ کې تل اوسېدونکي دي.

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَى كَوْكَباً قَالَ هَـذَا رَبِّي فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لا أُحِبُّ الآفِلِينَ .[1]

ترجمه : نو چې کله تياره شوه په دوی باندې شپه نو وليد (ابراهيم) يو ستوری ويې ويل دا رب زما دی (ستاسې په ګمان) نو چې کله يې غروب وکولو (غائب شو) حضرت ابراهيم وويل زه غائب کېدونکي نه خوښوم (زه خپل خدای داسې څه شی نه شم منلی چې هغه غيب کيږي) .

وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَاهَا .[2]

ترجمه : او توره تياره يې کړه شپه د هغه (آسمان) او را ئې ويسته ورځ رڼا ددغه آسمان .

وَآيَةٌ لَّهُمْ اللَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظْلِمُونَ .[3]

ترجمه : او يو دليل (د قدرت د الله) دوی ته شپه ده چې را وباسو مونږ له هغې (شپې) څخه

---

1 الأنعام76

2 النازعات29

3 يس37

ورځ پس نا ځاپه دوی ننوتونکي وي په تیارو کې
.

وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْهَاراً وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ .[1]

ترجمه : او دغه (الله) همغه ذات دی چې غوړولی ئې ده زمکه او پیدا ئې کړه په دغې زمکې کې غرونه ثابت (درانه چې د مضبوطو میخونو په شان ولاړ دي) او ویالې (د اوبو) او هرو قسمو میوو نه ئې پیدا کړي دي په دغې زمکې کې جوړه دوه (لکه سور سپین، ژیړ تور، خواږه تروه، واړه او غټ) پټوي په تیاره د شپې سره ورځ ، بېشکه په دي مذکوره وو خبرو کې خامخا دلائل د قدرت دي لپاره د (هغه) قوم چې فکر کوي (په مصنوعاتو د الله کې) .

وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى .[2]

ترجمه : قسم دی په شپه کله چې پټ کړي (هر شی په تیاره خپله کې)

أَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا اللَّيْلَ لِيَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِراً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ .[3]

---

[1] الرعد3
[2] الليل1
[3] النمل86

ترجمه : آیا نه ویني دا (منکران د حشر) چه بېشکه مونږ ګرځولي مو ده شپه (توره تیاره) لپاره د دې چې آرام وکړي دوی پکې او (ګرځولې مو ده) ورځ لېدونکې (تکه سپینه روښانه چه کسب او کار پکې وکړي) بېشکه په دغه (تعاقب د لیل او نهار) کې خامخا دلائل (د قدرت او عبرت) دي د پاره د (هغه) قوم چې ایمان یې راوړی دی .

هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُواْ فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِراً إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ .[1]

ترجمه : ﷲ هماغه ذات دی چې ګرځولې یې ده تاسې ته شپه (تیاره) د پاره ددې چې آرام شئ تاسې په دې کې او (ګرځولې ئې ده) ورځ ښوونکې (روښانه) بېشکه په دغه (ظلمت او نور) کې خامخا ډېر دلائل (د قدرت او وحدانیت) دي د پاره د قوم چې آوري دغه قرآن (په غوږونو د زړه) .

سَوَاء مِّنكُم مَّنْ أَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَن جَهَرَ بِهِ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِاللَّيْلِ وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ .[2]

ترجمه : یو شان دي له تاسو نه (علم د ﷲ ته) هر هغه څوک چې پټوي خبره (په زړه خپل کې) او هر هغه چې ښکاره کوي دا خبره او هر هغه څوک

[1] یونس67
[2] الرعد10

چې هغه پیدا کوونکي دي په شپه کې او هر هغه څوک چې ظاهروونکي (د عمل خپل دي په ورځ کې) .

وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِبَاساً وَالنَّوْمَ سُبَاتاً وَجَعَلَ النَّهَارَ نُشُوراً .[1]

ترجمه : او همدغه (الله) هغه (ذات) دی چې ګرځولې ئې ده تاسې ته (په کامل قدرت خپل سره) شپه لباس (پوښاک) او ګرځولې یې ده تاسې ته) خوب آرامي او ګرځولې یې ده ورځ وخت د شوریدلو او ګرځېدلو (لپاره د طلب د معاش) .

كَانُوا قَلِيلاً مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ .[2]

ترجمه : وو به دوی (په دې صفت) چې په لږ برخه د شپې کې به ویده کېدل او په نوره شپه کې به یې عبادت کاوه .

وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاساً وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشاً .[3]

ترجمه : او ګرځولې ده مونږ شپه جامه (پوښاک) او ګرځولې ده مونږ ورځ (وخت د طلب د) معاش (او د کارونو) .

قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَداً إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَاء أَفَلَا تَسْمَعُونَ.[4]

[1] الفرقان47
[2] الذاريات17
[3] النبأ10او ١١
[4] القصص71

ترجمه : وواېه (اى محمده دوى ته) آيا وينئ (يعني څرنګه در ښکاري) که چيرې و ګرځوي الله پر تاسې دغه شپه اوږده هميشه تر ورځې د قيامت پورې نو څوک دي هغه (معبود) بې له الله چې راوړي تاسې ته رڼا (چې پکې طلب د معاش وکړئ) .

هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاء وَالْقَمَرَ نُوراً وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُواْ عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ مَا خَلَقَ اللّهُ ذَلِكَ إِلاَّ بِالْحَقِّ يُفَصِّلُ الآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ. [1]

ترجمه : الله هغه ذات دى چې ګرځولى ئې دى لمر رون ځلېدونکى او سپوږمى روښانه او مقدر (مقرر) کړې ئې دى هر يوه ته منزلونه لپاره ددې چې پوه شئ تاسې په شمېر د کلونو او په حساب (د مياشتو او ورځو نورو) ، نه دى پيدا کړى الله دا څيزونه مګر په حقه (او تدبير) سره په تفصيل سره بيانوي (ښکاره کوي الله) دلا ئل (دقدرت خپل) د پاره د قوم چې پرې پوهيږي .

وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ آيَتَيْنِ فَمَحَوْنَا آيَةَ اللَّيْلِ وَجَعَلْنَا آيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً لِتَبْتَغُواْ فَضْلاً مِّن رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُواْ عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنَاهُ تَفْصِيلاً . [2]

---

1 يونس5
2 **الإسراء 12**

ترجمه : او ګرځولي ده مونږ شپه او ورځ دوه دلیله (د کامل قدرت خپل) نو محوه کړه مونږ علامه د شپې او وګرځوله مونږ علامه د ورځې روښانه (چې هرشی پکې لیدل کیږي) لپاره د دې چې طلب کړئ تاسې (په رڼا د ورځې کې) فضل له رب خپل او (د پاره ددې) چې معلوم کړئ و پوهیږئ تاسې (په دغه اختلاف د دې شپو او ورځو کې) شمار د کلونو او حساب (د اوقاتو) او هر څیز (چې تاسې ورته اړ یئ) بیان کړي دی مونږ هغه په بیانولو واضحو سره .

د شپې او ورځې بدلون

او د شپې او ورځې نه علاوه د دوی په مینځ کې داسې وختونه وي چې په رڼا او تیاره کې یو له بل نه بدل وي په هغه حالتونو کې شپه په ورځ او ورځ په شپه بدلیږي الله د هغه حالتونو ذکر هم په مختلفو ځایونو کې کړی دی الله فرمایي :

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى وَأَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ .[1]

ترجمه : ایا نه وینې ته (ای مخاطبه بلکه وینې یې) چې بېشکه الله ننباسي شپه (په کامل قدرت خپل سره) په ورځ کې او ننباسي (الله) ورځ په شپه کې او مسخر کړی په کار اچولي ئې دي تاسې

[1] لقمان29

ته لمر او سپوږمۍ هر یو (له دغو دواړو نه لکه نور سیارات) روان دي (په آسمان خپل کې) تر ټاکلې (مقرر کړې) مودې پورې.

يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ . [1]

ترجمه : ننباسي (ﷲ) شپه په ورځ کې او ننباسي (ﷲ) ورځ په شپه کې او مسخر په کار کې ئې لګولي دي لمر او سپوږمۍ چې هر یو بهیږي (روان دي) تر یوې نیټې په نامه کړی شوي (چې ورځ د قیامت ده) دغه (ذات موصوف په پورتنیو صفاتو) ﷲ دی رب ستاسې خاص هم ده ته دی سلطنت او هغه (بتان چې بولئ یې تاسې (ای مشرکانواو عبادت یې کوئ) بې له دغه (ﷲ) نه دی مالکان دوی د نرۍ پردې چې (په زړی د خرما (کې پرته وي) .

وَآيَةٌ لَّهُمْ اللَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظْلِمُونَ . [2]

ترجمه : او یو دلیل (د قدرت د ﷲ) دوی ته شپه ده چې را وباسو مونږ له هغې (شپې) څخه ورځ پس نا څاپه ننوتونکي وي په تیارو کې .

---

[1] فاطر13
[2] یس37

لَا الشَّمْسُ يَنبَغِي لَهَا أَن تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ .[1]

ترجمه : نه دی لمر لا ئق دغه لره (او له وسه يې پوره نه ده) چې لاندې کړي سپوږمئ (په زمان مکان اوصافو کې) او نه شپه ړومبی کېدونکې ده له ورځې او دغه ټول (فلکي اجرام) په آسمان کې چور ليدونکي دي (لامبو پکې وهي فراخ پکې روان دي) .

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ يُكَوِّرُ اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى أَلَا هُوَ الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ .[2]

ترجمه : پيدا کړي دي (الله) آسمانونه او زمکه په حقه سره (چې دليل شي په وجود د صانع مطلق) تا ووي (نغاړي داخلوي الله) شپه پر ورځې او تاووي (نغاړي داخلوي الله) ورځ په شپه کې (يا زياتوي د شپې نه په ورځې او له ورځې نه په شپې باندې او مسخر کړې په کار لګولی يې دي لمر او سپوږمی چې هر يو روان دی تر نيټې په نامه کړی شوې پورې (چې ورځ د قيامت ده) واورئ خبر دار شئ چې الله ښه زبردست قوي غالب ښه بښونکی دی.

د ورځې دواړه طرفونه

[1] يس40

[2] الزمر5

د ورځې په دواړو طرفونو کې هم داسې وختونه وي چې هلته د شپې تياره او ورځې رڼا سره شريکه شي لکن د ورځې رڼا وربانديې غالبه وي او اکثر ددې دواړو رڼا ګانو شرکت يو نوی رنګ جوړوي چې اکثر ډېر جالب او په زړه پورې وي (هغه حالتونه د سحر وختي او ماښام وي) الله د هغه حالتونو ذکر هم کوي الله فرمايي :

وَأَقِمِ الصَّلاَةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفاً مِّنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ .[1]

ترجمه : او قائم کړه (سم ودروه سره له ټولو حقوقو په ترتيب) لمونځ په دواړو طرفونو د ورځې او په ساعاتو له شپې (چې نېږدې وي ورځې ته) بېشکه چې نيکي (پنځه وخته مونځ) لرې کوي بدي (کوچنۍ (واړه) ګناهونه) دغه (فرمان او وعده) پند دی د پاره د پند قبلوونکو.

د ورځې او شپې اختلاف

شپه او ورځ هر وخت يو په بل پسې راځي لکن يو له بل څخه اکثر مختلفې وي چې يوه اوږده وي بله لنډه شي او چې بله اوږده شي نو هغه بله لنډه شي ددې تعاقب او اختلاف ذکر هم الله په مختلفو ځايونو کې کړی دی الله فرمايي :

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنزَلَ اللّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن

[1] هود 114

مَّاء فَأَحْيَا بِهِ الأرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخِّرِ بَيْنَ السَّمَاء وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ.[1]

ترجمه : بېشکه په پيدا کولو د آسمانواو (په پيدا کولو) د زمکې کې او په اختلاف د شپې او د ورځې کې (چې اوږديږي ، لنډيږي پر له پسې رڼا او تياره راځي ، يخيږي او ګرميږي) او په بېړيو (کشتيو) هغو کې چې رواني وي په درياب کې په هغه سره چې فايده رسوي خلکو ته او په هغه څه کې چې نازل کړي دي الله له (طرفه د) اسمانه له اوبو څخې نو ژوندی (زرغونه) کړي ئې ده په هغو (اوبو) سره زمکه وروسته د مرګه (وچوالي) د هغې او (حيواناتو) څخه ، او په ګرځولو (بدلولو) د بادونو کې او په (درولو د) هغې وريځې چې مسخره کړی شوې ده په مينځ د آسمان او د زمکې کې هرو مرو (خامخا) دليلونه دي (په وحدانيت باندې) د پاره د هغه قوم چې د عقل څښتنان (خاوندان) دي.

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لِّأُوْلِي الألْبَابِ.[2]

ترجمه : بېشکه په پيدا کولو د آسمانونو او زمکې کې (سره له هغو شيانو چې په دغو دواړو کې دي) او په اختلاف د شپې او ورځې کې (چې تل

---

[1] البقرة 164
[2] آل عمران190

اوږديږي ، لنډيږي پر له پسې ځي او را ځي کله رڼا کله تياره کله يخ او کله توديږي) هرو مرو (خامخا) دلائل دي (د الله د قدرت) لپاره د خاوندانو د (خالصو) عقلونو .

إِنَّ فِي اخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَّقُونَ. [1]

ترجمه : بېشکه په اختلاف د شپې او ورځې کې (چې تل اوږديږي او لنډيږي او يوه په بلې پسې راځي يخ او ګرميږي او په هغو ځيزونو کې چې پيدا کړي دي الله په آسمانونو کې او زمکه کې خامخا دلائل دي (د قدرت) د پاره د قوم چې ويريږي (له رحمانه او ځان ساتي له ګناه نه) .

وَهُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ وَلَهُ اخْتِلَافُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ. [2]

ترجمه : او دغه الله هغه ذات دی چې ژوندي کوي او وژل کوي او خاص د هم ده کار دی اختلاف بدلول د شپې او د ورځې نو آيا پس تاسې عقل نه چلوئ (او عبرت نه اخلئ؟) .

وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن رِّزْقٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ آيَاتٌ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ. [3]

ترجمه :او په اختلاف د شپې او ورځې (په تياره او رڼا، تزئيد او تنقيص او نورو کې) او په

[1] يونس6
[2] المؤمنون80
[3] الجاثية5

هغه کې چې نازل کړي دي الله (له طرفه دې) آسمان له (اسباب د) روزق (باران، حرارت) پس (الله) ژوندي کړي ده په دې (اوبو) سره زمکه پس له مرګه (وچوالي) د هغې او په بدلولو د بادونو (په يو قسم بل قسم سره) دلائل (د قدرت) دي د پاره د (هغه) قوم چې عقل چلوي .

سحر وختي (الصبح)

په شپه او ورځ کې هم ځينې خاص وختونه دي چې له کوم لوري نه د خاص اهميت حامل وي الله د هغوی ذکر هم کوي د سحر وختې نه را واخله تر لمر ختلو پورې داسې وخت وي چې له ځان سره يوه نوې ورځ راوړي الله ورځخه په و الصبح اذا تنفس سره تعبير کړی دی يعني چې کله تنفس وکوي او اول تنفس چې کوم شی کوي هغه اول را ژوندی شي او دا هغه وخت وي چې ورو ورو د شپې تياره ختمه شوې وي او کائنات ورو ورو په رڼا کېدو وي الله ددې وخت ذکر هم کړی دی او فرمايي :

قَالُواْ يَا لُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُواْ إِلَيْكَ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ اللَّيْلِ وَلاَ يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ إِلاَّ امْرَأَتَكَ إِنَّهُ مُصِيبُهَا مَا أَصَابَهُمْ إِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ أَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيبٍ. [1]

ترجمه : پرښتو حضرت لوط ته وويل ای لوط مونږ ستا د رب استازي يو بېشکه دوی تاته نشي رسېدلی د شپې په يوه برخه کې د خپل اهل سره

---

[1] هود 81

ولاړ شه او په تاسې کې به هېڅوک هم شا ته نه ګوري بغير ستا د مېرمنې بېشکه هغې ته به هغه څه ورسيږي څه چې دوی ته رسيږي او د دوی د عذاب وخت سحر دی آيا سحر نېږدې نه دی؟

وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ. [1]

ترجمه : (قسم دی) په سحر کله چې رڼا شي

وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ. [2]

ترجمه : قسم دی په سحر کله چې تنفس وکوي

وَقَضَيْنَا إِلَيْهِ ذَلِكَ الأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَؤُلاء مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ. [3]

ترجمه : او مونږ حضرت لوط ته دا وحی کړې وه چې ددې خلکو به په سحر وختي کې جرړه پرې کړل شي .

فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِينَ. [4]

ترجمه : هغوی په سحر وختي کې چيغې ونيول (عذاب وربانديې راغلو چې د يوې چيغې اواز سره وربانديې شروع شو) .

وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِم مُّصْبِحِينَ. [5]

ترجمه : او تاسې د هغوی په ځايونو باندې په داسې حالت کې تېرېږي چې دربانديې سبا شوی وي

---

1 المدثر34
2 التکوير18
3 الحجر66
4 الحجر83
5 الصافات137

(د ورځې له مخې تاسې په هغه ځایونو باندې تېرېږئ)

إِنَّا بَلَوْنَاهُمْ كَمَا بَلَوْنَا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ إِذْ أَقْسَمُوا لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ.[1]

ترجمه : بېشکه مونږ و مو ازمویل دغه (مکیان په قحط سره) لکه چې ازمویلي وو مونږ خاوندان د باغ کله چې قسمونه وخوړل دوی ټولو چې هرو مرو (خامخا) پرې به کړو میوې د هغه باغ په اول وخت د صباح کې (او استثناء یې ونه کړه یعني ان شاء الله یې ونه ویله .

فَتَنَادَوا مُصْبِحِينَ.[2]

ترجمه : بیا یې یو بل ته ور غږ کړل په وخت د صباح کې .

فَالِقُ الإِصْبَاحِ وَجَعَلَ اللَّيْلَ سَكَناً وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ حُسْبَاناً ذَلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ.[3]

ترجمه : چوونکی د رڼا یعني د سبا دی (بیوونکی د تیارو د شپې او د جهل راوستونکی د رڼا د ورځې د علم دی) او ګرځولې ئې ده شپه آرامځی او (ګرځولې ئې دی) لمر او سپوږمی (نښې د) حساب (د پاره د اوقاتو) دغه (ذکر شوي شیان) اندازه کول دي د ښه غالب (قوي په انفاذ د

1 القلم17
2 القلم21
3 الأنعام96

احکامو) ښه عالم (خبر دار په تدبیر د عالم)
.

فَسُبْحَانَ اللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ. [1]

ترجمه : پس (تسبیح ووایئ د الله) تسبیح د الله کله چې داخل شئ په بېګاه (ماښام) کې او کله چې ننوزئ په سبا کې .

شروق د لمر ختلو وخت

کله چې سحر شي نو د مشرق له لوري نه لمر را پورته شي چې ورته شروق ویل کیږي د ورځې رڼا په زیاتېدو شي او لمر خپلې شغلې په کائناتو باندې ور پریږدي الله ددې حالت ذکر هم په خپل مبارک کتاب کې کړی دی الله فرمایي :

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَآجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رِبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِـي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِـي وَأُمِيتُ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ. [2]

ترجمه : آیا نه دې دی لیدلی تا (یعني ای محمده ستا علم نه دی رسېدلی قصې دې) هغه سړي (نمرود) ته چې جګړه (حجت بازي) ئې کړې وه ابراهیم سره په (حق د) رب د ده کې له دې جهته چې ورکړی وو ده ته الله ملک (بادشاهي) کله چې

1 الروم 17
2 البقرة 258

وویل ابراهیم رب زما هغه ذات دی چې ژوندي کوي او مړه کوي وویل (نمرود) چې زه (هم) ژوندي کوم (واجب القتل په عفوې سره) او مړه کوم (بېګناه په قتل سره) وویل ابراهیم نو بېشکه الله راولي نمر له (لوري د) مشرقه نو ته (ای نمروده) راوله هغه (نمر) له (لوري د) مغربه نو حیران (او شرمنده) شو هغه چې کافر شوی وو (یعني نمرود) او الله نه ښيي (د خیر سمه صافه لاره) قوم د ظالمانو ته (په سبب د ظلم د دوی پر خپلو نفسونو) .

وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَاوَرُ عَن كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمْ فِي فَجْوَةٍ مِّنْهُ ذَلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ مَن يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُ وَلِيّاً مُّرْشِداً.[1]

ترجمه : او وینې به ته لمر کله چې را خیژي نو میلان کوي له غاره د دوی ښي طرف ته او کله چې لوېږي نو پرېږدي دوی (او ترې تېرېږي) کیڼ طرف ته او دوی په ارت میدان کې دي له دې غاره دغه (مذکوره احوال د دوی) له دلائلو (د قدرت) د الله دي هرچاته چې سمه صافه لیاره ور وښوده الله نو همغه دی د سمې صافې لیارې موندونکی او هرڅوک چې ګمراه ئې کړی (الله) نو له سره به نه مومې ته ده ته کوم ولي دوست لیاره ښوونکی.

---

[1] الكهف17

فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ. [1]

ترجمه : نو ونیول هغوی لره غږ هیبتناک (د جبریل) حال دا چې داخلېدل دوی په وخت د ختلو د لمر کې .

فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ. [2]

ترجمه : پس وروسته د دغو (سبطیانو) لاړل دغه (قبطیان او ور ورسېدل) هغوی ته په وخت د ختلو د لمر کې.

د څاښت وخت (الضحی)

د څاښت وخت چې مبارک وخت وي او پدې وخت کې لمر په پوره توګه له خپل مشرق نه را پورته شوی وي او تر اوسه پورې لا غرمه شوې نه وي نو ددې وخت ذکر هم په قرآن کریم کې شوی دی الله فرمایي :

أَوَ أَمِنَ أَهْلُ الْقُرَى أَن يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ. [3]

ترجمه : آیا په امن کې دي اهل د قریو (ښارونو) له دې نه چې راشي دوی ته عذاب زمونږ په څاښت کې حال دا چې دوی په لوبو مشغول وي .

قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّينَةِ وَأَن يُحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى. [4]

---

1 **الحجر73**
2 **الشعراء60**
3 **الأعراف98**
4 **طه59**

ترجمه : وویل (موسی) وخت د وعدې د تاسې ورځ د جشن (د قبطیانو) ده او دا چې را ټول کړل شي خلق په وخت د څاښت کې .

وَأَنَّكَ لَا تَظْمَأُ فِيهَا وَلَا تَضْحَى.[1]

ترجمه : او بېشکه ته به نه تږی کېږې په دغه جنت کې او نه په دې ګرمي کیږې .

وَالضُّحَى.[2]

ترجمه : قسم دی په وخت د څاښت باندې .

وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَاهَا.[3]

ترجمه : او توره تیاره یې کړه شپه د دغه (آسمان) او را وئې ایسته ورځ رڼا د دغه (اسمان) .

كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَاهَا .[4]

ترجمه : ګواکي دغه (منکران) په هغې ورځې کې چې ویني دغه (قیامت داسې به ګڼي) لکه چې نه ئې وو کړی ځنډ (ایسارتیا) (په دنیا یا په قبرونو خپلو کې) مګر (په قدر د) ماښام آخر د ورځې یا په قدر د څاښت .

وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا.[5]

ترجمه : قسم دی په لمر باندې او په رڼا د هغه باندې .

1 طه119
2 الضحی1
3 النازعات29
4 النازعات46
5 الشمس1

إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ.[1]

ترجمه : بېشکه چې مونږ تابع او مسخر کړي مو وو غرونه له دغه (داوود) سره چې تسبيح به يې ورسره ويلې په آخره او په اوله برخه د ورځې کې .

د ماسپښين وخت

لږ وروسته د ماسپښين وخت وي چې لمر د اسمان تر نيمايي ور تېر شي او غرمه ختمه شي پدې وخت کې دماسپښين مونځ روا شي ددې وخت ذکر هم په قرآن کريم کې راغلی دی الله فرمايي :

وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيّاً وَحِينَ تُظْهِرُونَ.[2]

ترجمه : او خاص هم ده ته ده ټوله ثناء صفت په آسمانونو کې او په زمکه کې او کله چې ننوځئ په آخر د ورځې کې او کله چې ننوځئ (په وخت د) ماسپښين کې.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِن قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ الظَّهِيرَةِ وَمِن بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاء ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَّكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ .[3]

---

[1] ص18
[2] الروم18
[3] النور58

ترجمه : ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعني ای مؤمنانو!) ښایي چې اجازه د وغواړي له تاسې (په وخت د ننوتلو) کې پر تاسې باندې هغه وینزې مریونه او خادمان چې مالکان شوي وي د هغو ښي لاسونه د تاسې او هغه کسان چې نه دي رسېدلي حد د (احتلام بلوغ) عقل ته له تاسې (احرارو) دری کرته پخوا له لمانځه د صبا او په هغه وخت کې چې وباسئ تاسې جامې خپلې د غرمې په وخت کې او پس له لمانځه د ماسختن (دغه وختونه) دری وختونه د خلل پیدا کېدو د ستر دي تاسې ته نشته پر تاسې او نه پر دوی باندې هېڅ گناه (وبال) تېر له دغو دریو وختونو (په بې اجازې ننوتلو د دوی کې پر تاسې) دوی گرځېدونکي دي پر تاسې (په تللو او ننوتلو لپاره دخدمت) ځینې ستاسې پر ځینو نورو (گرځېدونکي یئ یو په بل) همداسې (لکه چې دغه بیان یې درته وکړ ښکاره بیانوي الله تاسې ته آیتونه (د احکامو) او الله ښه عالم دی (په ټولو احوالو) ښه حکمت واله دی .

د مازیگر وخت

په ماسپښین پسې لږ وروسته د مازیگر وخت وي د لمر رنگ پکې زیړ وي پدې وخت کې د مازیگر د مانځه وخت دی دا وخت په دنیاوي کارونو کې ډېر رول لري اکثر خلک پدې وخت کې مصروف وي اکثر دا مونځ د دنیاوي کارونو له امله قضاء کیږي

ددې وخت ذکر هم په قرآن کریم کې راغلی دی الله فرمايي :

وَالْعَصْرِ.[1] (ولو أن المعنى هنا هو الزمن أو الدهر)

ترجمه : قسم دی په وخت د مازیگر (که د عصر نه د مازیگر معنی واخیستله شي)

وَقَالُوا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلَى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَأَصِيلاً.[2]

ترجمه : او وائي (کفار) دا قصې دي د ړومبنیو خلقو چې لیکلي دي هغه (محمد) پر لیکونکو پس هغه لوستل کیږي په ده (لپاره د لیکلو) صبا او بېگا (مازیگر) .

وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلاً.[3]

ترجمه : او تسبیح وایئ (لمونځ کوئ) ده ته په صبا او بېگا (مازیگر) کې.

لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ وَتُسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلاً.[4]

ترجمه : لپاره ددې چې ایمان راوړئ تاسې په الله او په رسول د دغه (الله) او مدد وکړئ د هغه د دین او تعظیم وکړئ د هغه او هغه (الله) ته نسبت د پاکي وکړئ صبا او بېگا (مازیگر) .

---

1 العصر1
2 الفرقان5
3 الأحزاب42
4 الفتح9

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَأَصِيلاً. [1]

ترجمه : او یادوه نوم د رب خپل صباح ګهیځ (سبا) او بیګا (مازیګر) .

[1] الإنسان25

حَافِظُواْ عَلَى الصَّلَوَاتِ والصَّلاَةِ الْوُسْطَى وَقُومُواْ لِلّهِ قَانِتِينَ.[1]

ترجمه : ساتنه کوئ تاسې ! پر (ټولو) لمونځونو باندې او (خصوصاً) په لمانځه د منځني باندې (چه مازیګر دی) او دریږئ تاسې الله ته ویریدونکي (په ادب سره) .

د غروب (لمر لویدو) وخت

بیا د مازیګر نه لږ وروسته لمر په مغرب کې کیني او دیته غروب وایي د ورځې کارونه او مصروفیتونه پای ته رسیږي خلک چې ټوله ورځ یې له کورونو څخه په روزګارونو او مصروفیاتو پسې له کور نه بهر تېره کړې وي پدې وخت کې کورونو ته ځي هغه کسان چې ستړې ورځ لري اوس یې د آرام وخت را نیږدې کیږي په کائناتو باندې ورو ورو تیاره ، خاموشي او سکون خپریږي دا د ماښام وخت دی ددې وخت ذکر هم په قرآن کریم کې شوی دی الله فرمایي :

وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَاوَرُ عَن كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمْ فِي فَجْوَةٍ مِّنْهُ ذَلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ مَن يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُ وَلِيّاً مُّرْشِداً.[2]

ترجمه : او وینې به ته لمر کله چې را خیژي نو میلان کوي له غاره د دوی ښي طرف ته او کله چې

---

[1] البقرة 238
[2] الکهف17

لويږي نو پريږدي دوى (او ترې تيريږي) كينې طرف ته او دوى په ارت ميدان كې دي له دې غاره دغه (مذكوره احوال د دوى) له دلائلو (د قدرت) د الله دي هرچاته چې سمه صافه لياره ور وښوده الله نو همغه دى د سمې صافې لياري موندونكى او هرڅوك چې گمراه ئې كړى (الله) نو له سره به نه مومي ته ده ته كوم ولي دوست لياره ښوونكى.

حَتَّى إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوْماً قُلْنَا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِمَّا أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّا أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْناً. [1]

ترجمه : تر هغه پورې چې ورسېدو ځاى د پرېوتلو د لمر ته نو ئې ومونده دغه (لمر) چې ډوبېدو په (لويه) چينه كې (لكه سيند ډک) له تورو ختو او وئې موند نژدې هغه ته يو قوم (د كفارو) وويل مونږ اى ذو القرنينه يا خو په عذاب كړه دغه خلق (په قتل سره كه چېرته دوى ايمان را نه وړي) يا ونيسه په دوى كې يوه ښه لاره (په ارشاد او نصيحت سره كه چېرته دوى ايمان راوړي)

فَاصْبِرْ عَلَى مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا وَمِنْ آنَاء اللَّيْلِ فَسَبِّحْ وَأَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرْضَى. [2]

ترجمه : پس صبر كوه (اى محمده) پر هغو خبرو چې دوى ئې وايي او تسبيح وايه سره له حمده

---

[1] الكهف86

[2] طه 130

ثناء د رب خپل (لمونځ کوه) پخوا له ختلو د لمر (د سحر مونځ) او پخوا له پرېوتلو د دغه (لمر د ظهر او عصر مونځ) او په ځينو اوقاتو کې له ساعتونو د شپې پس تسبيح وايه (لمونځ اداء کړه د مغرب او د عشاء) او په دواړو څنګونو (اطرافو) د ورځې کې (پر لمانځه ډېره توجه ولره يا په دغو اوقاتو کې تسبيح سره له حمد ووايه) .

ماښام وخت

د لمر د لوېدو نه وروسته ډېر وخت نه وي تېر چې په فضاء کې تياره خپره شي او هغه ستوري چې تر اوسه پورې نه ښکاره کېدل را ښکاره کيږي او فضاء ته يوه نوې ښکلا ورکوي ددې وخت ذکر هم په قرآن کريم کې شوی دی الله فرمايي :

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَى كَوْكَباً قَالَ هَذَا رَبِّي فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لا أُحِبُّ الآفِلِينَ. [1]

ترجمه : نو کله چې تياره شوه په ده باندې شپه نو وليد (ابراهيم) يو ستوری ويې ويل (ستاسې په ګمان کې) دا زما رب دی نو کله چې هغه ستوري غروب وکړو (غائب شو) وويل (ابراهيم) چې زه نه خوښوم غروب کونکي (هغه شی چې غائب کيږي هغه زه په خدايي نشم منلی زه ترې کرکه کوم) .

---

[1] الأنعام76

إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَاء الدُّنْيَا بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ.[1]

ترجمه : بېشکه مونږ ښائسته کړی مو دی دغه آسمان نژدې په ښائست سره چې ستوري دي .

د ماسختن وخت

او دا چې د ماښام شفق (يوه رڼايي په کنارو د اسمان کې) غيب شي نو د شپې تياره نوره هم زياته شي دې وخت ته غسق ويل کيږي ددې وخت ذکر هم په قرآن کريم کې شوی دی الله فرمايي :

أَقِمِ الصَّلاَةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَى غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوداً.[2]

ترجمه : قائموه (سم و دروه له ټولو حقونو سره) لمونځ وروسته له زواله د لمر تر تيارې د شپې پورې (يعني د ظهر، عصر، مغرب، او عشاء، لمونځونه اداء کړه!)

وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ.[3] (والغاسق هو من يمشى مُتلصصا وقت الغسق)

ترجمه : او له شره د تيارې شپې کله چې تکه توره شي (او هرشی پټ کړي) (او غاسق هغه چاته وايي چې پټ پټ ځي په تياره کې).

پدې وخت کې د شپې د مانځه (ماسخوتن) د مانځه وخت شروع کيږي دې وخت ته د عشاء وخت وايي

---

[1] الصافات6
[2] الإسراء78
[3] الفلق3

نېکبخته مسلمانان انسانان ټول پدې وخت کې د الله په وړاندې خپل د عبادت سر ښکته کوي مبارک وخت دی الله ددې وخت ذکر هم په قرآن کريم کې کړی دی الله فرمايي :

أَقِمِ الصَّلاَةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَى غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوداً.[1]

ترجمه : قائموه (سم و دروه له ټولو حقونو سره) لمونځ وروسته له زواله د لمر تر تيارې د شپې پورې (يعني د ظهر، عصر، مغرب، او عشاء، لمونځونه اداء کړه!)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِن قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ الظَّهِيرَةِ وَمِن بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاء ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَّكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ.[2]

ترجمه : ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعني ای مؤمنانو!) ښايي چې اجازه د وغواړي له تاسې (په وخت د ننوتلو) کې پر تاسې باندې هغه وينزې مريونه او خادمان چې مالکان شوي وي د هغو ښي لاسونه د تاسې او هغه کسان چې نه دي رسېدلي حد د (احتلام بلوغ) عقل ته له تاسې (احرارو) درې کرته پخوا له لمانځه د صبا او

---

[1] الإسراء 78
[2] النور 58

په هغه وخت کې چې وباسئ تاسې جامې خپلې د غرمې په وخت کې او پس له لمانځه د ماسختن (دغه وختونه) درې وختونه د خلل پيدا کېدو د ستر دي تاسې ته نشته پر تاسې او نه پر دوی باندې هېڅ ګناه (وبال) تېر له دغو دريو وختونو (په بې اجازې ننوتلو د دوی کې پر تاسې) دوی ګرځېدونکي دي پر تاسې (په تللو او ننوتلو لپاره دخدمت) ځينې ستاسې پر ځينو نورو (ګرځېدونکي يئ يو په بل) همداسې (لکه چې دغه بيان يې درته وکړ ښکاره بيانوي الله تاسې ته آيتونه (د احکامو) او الله ښه عالم دی (په ټولو احوالو) ښه حکمت واله دی .

وَجَاؤُواْ أَبَاهُمْ عِشَاء يَبْكُونَ. [1]

ترجمه : او راغلل (د يوسف ورونه) خپل پلار ته په بېګاه کې پداسې حال کې چې دوی ژړل.

د شپې آخر (د پېشمني) وخت

د ماسخوتن څخه وروسته شپه شي پخه شي ټول کائنات پکې ساکن شي تردې چې د شپې آخر شي نو د پېشمني وخت شي پدې وخت کې دعاګانې ډېرې زر قبليږي مبارک وخت دی ډېر فضائل لري ددې وخت ذکر هم په قرآن کريم کې شوی دی الله فرمايي :

الصَّابِرِينَ وَالصَّادِقِينَ وَالْقَانِتِينَ وَالْمُنفِقِينَ وَالْمُسْتَغْفِرِينَ بِالأَسْحَارِ. [1]

---

[1] يوسف16

ترجمه : (هسې متقيان چې) صبر كوونكي دي (په طاعت او مصيبت او له معصيت څخه) او صادقان دي (رښتيني دي په ايمان) او په ځاى راوړونكي دي د حكم (د الله) او خيرات كوونكي دي په رضا د (الله) او مغفرت غوښتونكي دي په آخر د شپو كې .

وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ. [2]

ترجمه : او په وخت د ګهيځ (سحر وختي) كې دوى مغفرت غوښت له الله نه د ګناهونو خپلو .

سپېده داغ (د سحر د راختلو) وخت

د سحر د راختلو وخت چې پدې وخت كې هغه كسان چې سبا يې د روژې د نيولو اراده وي خوراك او څښاك بندوي او پدې وخت كې د سحر د مانځه وخت كيږي او د يوه نوي سحر د راختلو وخت وي ددې وخت ذكر هم په قرآن كريم كې شوى دى الله فرمايي :

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَآئِكُمْ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ عَلِمَ اللّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ فَالآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُواْ مَا كَتَبَ اللّهُ لَكُمْ وَكُلُواْ وَاشْرَبُواْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَتِمُّواْ الصِّيَامَ إِلَى

---

[1] آل عمران17
[2] الذاريات18

اللَّيْلِ وَلاَ تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ تِلْكَ حُدُودُ اللّهِ فَلاَ تَقْرَبُوهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ. [1]

ترجمه : حلال کړل شوي دي تاسې ته په شپه د روژې کې یو ځای والی (جماع) له ښځو خپلو سره دوی لباس دي تاسې لره او تاسې لباس یئ دوی لره معلوم دی الله ته چې بېشکه تاسې یئ چې خیانت کوئ په ځانونو خپلو پس رجوع ئې په رحمت سره وکړه په تاسې باندې او عفوه ئې وکړه له تاسې (د تېر خیانت) نو اوس جماع کوئ! له خپلو ښځو سره (د روژې په میاشت کې) او وغواړئ! هغه شی چې لیکلي (مقرر کړي دي) الله ستاسې لپاره او خورئ ! او څښئ! تاسې تر هغه پورې چې ښکاره شي تاسې ته تار سپین (جلا) (جدا) له تاره توره (چې سپین تار) له سبا څخه (دی) بیا پوره کړئ ! روژه (خپله) تر شپې پورې او مه نژدې کېږئ ښځو ته (په جماع سره) حال دا چې تاسې معتکفان یئ په مسجدونو کې دا احکام او حدود د الله دي نو مه نژدې کېږئ دوی ته (په ماتولو سره) هم داسې (لکه چې دا ئې درته بیان کړل) بیانوي الله آیتونه خپل له پاره د خلقو چې دوی ځان وساتي (ددې حدودو له مخالفته) .

أَقِمِ الصَّلاَةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَى غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوداً. [1]

---

[1] البقرة 187

ترجمه: قائموه (سم و دروه له ټولو حقونو سره) لمونځ وروسته له زواله د لمر تر تیارې د شپې پورې (یعني د ظهر، عصر، مغرب، او عشاء، لمونځونه اداء کړه!)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِن قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ الظَّهِيرَةِ وَمِن بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاء ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَّكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ. [2]

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعني ای مؤمنانو!) ښایي چې اجازه د وغواړي له تاسې (په وخت د ننوتلو) کې پر تاسې باندې هغه وینزې مریونه او خادمان چې مالکان شوي وي د هغو ښي لاسونه د تاسې او هغه کسان چې نه دي رسېدلي حد د (احتلام بلوغ) عقل ته له تاسې (احرارو) دری کرته پخوا له لمانځه د صبا او په هغه وخت کې چې وباسئ تاسې جامې خپلې د غرمې په وخت کې او پس له لمانځه د ماسختن (دغه وختونه) دری وختونه د خلل پیدا کېدو د ستر دي تاسې ته نشته پر تاسې او نه پر دوی باندې هېڅ ګناه (وبال) تېر له دغو دریو وتونو (په بې اجازې ننوتلو د دوی کې پر تاسې) دوی ګرځېدونکي دي پر تاسې (په تللو او ننوتلو

---

1 الإسراء 78
2 النور 58

لپاره دخدمت) ځينې ستاسې پر ځينو نورو (ګرځېدونکي يئ يو په بل) همداسې (لکه چې دغه بيان يې درته وکړ ښکاره بيانوي الله تاسې ته آيتونه (د احکامو) او الله ښه عالم دی (په ټولو احوالو) ښه حکمت واله دی .

د ورځې د رڼا له امله د ستورو د ورکېدلو وخت

لږ وروسته بيا د ورځې قدرتي رڼا مخ په زياتېدو شي هغه ځلانده ستوري چې تر اوسه پورې يې دنيا ښائسته کړې وه د ورځې د رڼا له امله د انسانانو له نظرونو څخه رخصت اخلي او بيا تر بل ماښام پورې نه ښکاره کيږي ددې وخت ذکر هم په قرآن کريم کې شوی دی الله فرمايي :

وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ.[1]

ترجمه : او په بعض برخه د شپې کې پس تسبيح وايه د دغه (الله) او د وروستو د ستوريو څخه (يعني د شپې په آخره کې هم تسبيح وايه)

په قرآن کريم کې دوخت اهميت

په قرآن کريم کې الله ښکاره کړيد چې دا دنيا د يو محدود وخت لپاره اباده ده او دا به بيا ختميږي شيطان الله ته وويل چې ماته مهلت راکړه نو الله ورته وويل چې هو! تاته تر يو

[1] الطور49

معلوم وخت پورې مهلت درکړل شوی دی پدې اړه الله فرمايي :

قَالَ رَبِّ فَاَنۡظِرۡنِیۡۤ اِلٰی یَوۡمِ یُبۡعَثُوۡنَ (۳۶) قَالَ فَاِنَّکَ مِنَ الۡمُنۡظَرِیۡنَ (۳۷) اِلٰی یَوۡمِ الۡوَقۡتِ الۡمَعۡلُوۡمِ (۳۸) [1]

ترجمه : وويل (ابليس) ای ربه زما وګوره (مهلت راکړه) ماته تر هغې ورځې پورې چې بيا پورته کولی شي (خلق) له قبورو ، وفرمایل (الله) نو بېشکه چې ته له کتليو (مهلت ورکړيو) شويو ئې تر (هغې ورځې د وخت معلومه (فناء د مخلوقاتو) پورې.

يعني له ابتداء نه د الله په علم کې همداسې وو چې تر يوې معلومې مودې پورې به دنيا پاتې کيږي او شيطان چې له الله نه وغوښتل چې ده ته د اجازه ورکړل شي چې دی د تر يوه وخته پورې پاتې شي نو الله هم ورته وفرمايل چې دی تر يوه معلومه وخته پورې پاتې کېدلی شي .

په بل ځای کې الله فرمايي :

قُلۡ اِنَّ الۡاَوَّلِیۡنَ وَ الۡاٰخِرِیۡنَ (۴۹) لَمَجۡمُوۡعُوۡنَ ۬ۙ اِلٰی مِیۡقَاتِ یَوۡمٍ مَّعۡلُوۡمٍ (۵۰)[1]

---

[1] سورة الحجر آية ۳۷ تر ۳۸

ترجمه :ووایه ته (ای محمده! دوی ته) بېشکه مخکني (خلق) او وروستني (خلق) به مخامخا ګرد به ټول شي وخت د ورځې معلومې ته (چې قیامت دی)

یعني د قیامت ورځ معینه شوې ده لکن یوازې الله ته معلومه ده چې څه وخت به وي .

په پورتني آیت کې الله چې کوم وخت یاد کړی دی دا ډېر لوی وخت دی او دا هغه وخت دی چې پدې وخت د دنیا ژوند پای ته رسیږي او د آخرت د ژوند شروع کیږي او د دنیا د هر مخلوق لپاره دا مهم وخت دی په خاصه توګه د هغه انسانانو لپاره چې الله پیدا کړي دي او بیا د الله په نعمتونو کې ژوند کوي او په نتیجه کې تکبر کوي او د الله له لارې نه په غلطه لاره ځي نو هغوی ته یو خبر دی چې په یو معلوم وخت کې او په یو معلوم ځای کې به تاسې سره را ټولول کېږئ .

د وخت په اړه د انسان مسئولیت

لکه چې تېر شول چې وخت یوه قیمتي سرمایه ده الله انسان ته ورکړیده د هغه په اړه د انسان مختلف مسئولیتونه دي د مثال په ډول د هغه قدر کول، په سمه توګه د هغه استعمال کول، د هغه څخه فایده پورته کول او داسې نور.

---

1 سورة الواقعة آیة ٤٩ او ٥٠

د وخت قدر کول

لږ وروسته به راشي چې په قرآن کريم کې وخت ته ډېر زيات اهميت ورکړل شوی دی ځرنګه چې قرآن کريم انسان ته د الله يو پيغام دی نو انسان ته د لارښونې او هدايت لپاره را لېږل شوی دی نو د وخت د اهميت په اړه په آياتونو سره انسان ته ور ښيي چې د وخت ساتنه وکوي او په هغه ځه کې بې مصرف نه کړي چې دده لپاره نه په کار کيږي او بايد صرف په هغه کارونو کې بې مصرف کړي چې دده او يا نورو خلکو په کار شي او الله انسان ته بيا بيا وايي چې ته کوم عمل کوې هغه حسابيږي که هغه لوی وي او که وړوکی که خير وي او که شر الله فرمايي :

فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ۟(٧) وَ مَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ٪(٨)[1]

ترجمه : پس هغه ځوک چې عمل وکوي په اندازه د يوې ذرې د خير نيکي نو ور وبه رسي (جزاء د هغه) او هر هغه ځوک چې عمل وکوي په اندازه د يوې ذرې د شر بدي نو وبه ويني (سزاء د هغه)

يعني هر انسان ته به د هغه ذره ذره عمل که ښه وي او که بد دده په مخ کې کېښودل کيږي او بيا به د هغې مطابق جزا او سزا ورکول کيږي .

[1] سورة الزلزلة آية ٧ او ٨

نو ددې آيت نه انسان ته خپله لاره په ښکاره ډول سره ښکاره کيږي چې بايد څه وکوي او مخکې ددې چې د الله په وړاندې د پوښتنې لپاره ودريږي بايد څه وکوي او کله چې الله انسان ته عمر ورکړي او بيا هغه انسان وفات شي نو رسول الله ﷺ فرمايي چې هلته انسان بيا هيڅ عذر نشي ويلى ځکه دده د عذر د بهانې د ختمولو لپاره الله دده ته شپېته کاله (د مثال په ډول) عمر ورکړى وو نو دى دا نشي ويلى چې وخت نه وو او يا زه زر مړ کړل شوم پدې اړه حضرت ابو هريره فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايل :

أعذر الله إلى امرئ أخَّر أجله حتى بلَّغه ستين سنة.[1]

ترجمه : الله انسان ته هيڅ عذر پرې نه ښود چې اجل يې تر دې پورې وروسته کړو چې ده ته يې شپېته کاله عمر ورکړو .

معنى دا چې الله انسان ته د شپېتو کالو عمر ورکړي پدې کې ژوند کوي او پدې وخت کې له هر ډول وخت نه تېريږي ماشوم توب ، ځواني زوړ والى او داسې هر ډول وختونه تکليفونه او راحتونه ويني او زيات وخت دده لپاره د عبادت او طاعت ضمينه برابره وي نو دده لپاره هيڅ

[1] رواه البخاري

ډول عذر نه پاتې کيږي چې دی يې د الله په وړاندې ووايې .

يعني هغه کسان چې په ماشومتوب کې مړه شي نو د هغوی لپاره دا عذر شته چې هغوی ووايي دوی ته د لويېدلو او د عقل د پخېدلو وخت نه وو ورکړل شوی او دوی ته دومره مهلت ورنه کړل شو چې دوی د الله په آيتونو او نعمتونو کې فکر وکوي او بيا نېک عملونه وکوي لکن هغه کسان چې د سپين ږيرتوب عمر ته ورسيږي په هغوی باندې د الله دليل جوړ دی چې الله به ورته وايي ماتاسې ته عقل درکړی وو، دماغ مې درکړي وو، حواس مې درکړي وو ، پيغمبر درغلی وو او بالآخره مې حضرت

محمد ☸ پيغمبر در لېږلی وو چې د هغه رسالت د منسوخ کېدو وړ نه وو او تر قيامته پورې د خلکو د هدايت لپاره پاتې وو بيا ددينه وروسته ستاسې لپاره هېڅ عذر پاتې نه دی او دا خبره چې څوک به وايي چې زه نه پوهېدم ، مونږ مې نه وو زده ، د روژې په احکامو نه وم خبر نو د يو اصيل او د اختيار لرونکي انسان په حق کې نه پوهه بالکل عذر نه ګڼل کيږي او په هر چا باندې د ا لازم دي چې دا زده کړي چې مونږ څنګه کيږي ، روژه څنګه نيول کيږي او په کوم شي ماتيږي او داسې نور ..

د خپل عمر ساتنه کول

ځرنګه چې د انسان عمر انسان ته د الله له لوري نه يو نعمت او تحفه ده نو انسان به د هغه ساتنه کوي او په هغه کې به تول هغه تصرفات نه کوي چې دده خوښه وي بلکه تر ممکن حده پورې به د خپل ځان ساتنه کوي لدې ځای نه مونږ ته را معلوميږي ترڅو چې د الله په لاره کې د جهاد مسئله نه وي او ترڅو چې د خپلو حقونو ، خپل مال او خپل اهل خپل دين نه د دفاع مسئله نه وي نو انسان به ځان د خطر ځای ته نه ور غورځوي او که د ياد کړل شويو شيانو په دفاع کې څوک ځان خطر ته ور وغورځوي او ووژل شي نو دا شهيد دی پدې اړه حضرت سعيد بن زيد روايت کړی دی هغه فرمايي ما له رسول الله ﷺ څخه واوريدل هغه فرمايل : مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دَمِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ.[1]

ترجمه :څوک چې د خپل مال نه په دفاع کې ووژل شي هغه شهيد دی ، څوک چې د خپل دين په دفاع کې ووژل شي هغه شهيد دی ، څوک چې د خپل ځان په دفاع کې ووژل شي هغه شهيد دی ، څوک چې د خپل اهل په دفاع کې ووژل شي هغه شهيد دی .

او ددې صورتونو څخه بغير ځان په خطر کې ورکول د ځان حفاظت نه کول او يا ځان وژنه ګڼل کيږي چې لويه ګناه ده او څرنګه چې مونږ ددې رسالې د سر نه پدې لګيا يو چې عمر او ژوند د الله له

[1] رواهُ **أبو داود، والنَّسائيُّ**

لوري نه یو لوی نعمت دی او په انسان باندې لازم دي چې ساتنه یې وکوي نو ددې امله ځان وژنه نا روا ګڼل شویده او پدې اړه به متعدد احادیث ستاسې په وړاندې کېږدم خو مخکې له دې به دې خبرې ته ستاسې فام را وګرځوم چې یو څوک ځان ولې وژني؟

ددې خبرې شروع له دې ځای څخه ده چې شیطان هر وخت کوښښ کوي چې انسان ورڅخه د الله عبادت او داسې کار ته خلاص نشي چې په هغې سره الله رضا کېږي

ځکه خو ده عهد کړی دی د شیطان ددې عهد په اړه الله فرمايي :

قَالَ رَبِّ بِمَآ اَغۡوَيۡتَنِىۡ لَاُزَيِّنَنَّ لَهُمۡ فِى الۡاَرۡضِ وَ لَاُغۡوِيَنَّهُمۡ اَجۡمَعِيۡنَۙ (٣٩) اِلَّا عِبَادَکَ مِنۡهُمُ الۡمُخۡلَصِيۡنَ (٤٠)[1]

ترجمه : وویل (ابلیس) ای ربه زما قسم دی ما لره په ګمراه کولو د تا ما لره چه ښائسته به کړم هرو مرو (خامخا) (ګناهونه) دوی ته په زمکه کې او زه به ګمراهان کړم هرو مرو (خامخا) دوی ټول . مګر خو هغه بندګان ستا له دوی څخه چې خالص کړل شوي دي (له ګناهونو)

[1] سورة الحجر آية ٣٩ او ٤٠

يعني شيطان وويل چې انسانانو ته به د دنيا پسرلی ور ښکاروم او د نفساني غوښتنې په جال کې به يې را ګير کوم

ددې وجې نه خو الله بيا بيا په قرآن کريم کې انسان خبروي چې شيطان يې دښمن دی بايد ورڅخه ځان وساتي الله د شيطان د دښمني په اړه فرمايي :

إِنَّ الشَّيْطَٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ۚ إِنَّمَا يَدْعُوا حِزْبَهُۥ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَٰبِ السَّعِيرِ ﴿٦﴾[1]

ترجمه : بېشکه شيطان تاسې ته دښمن دی پس تاسې هم ونيسئ دی (خپل) دښمن بېشکه همدا خبره ده چې بولي شيطان ډله خپله (ځای د هلاک ته) ترڅو شي دوی له ملګرو د دوزخ څخه .

الله فرمايي چې د شيطان چلونو او فريبونو ته هوښيار اوسئ او د هغه په فريب دوکه نه شئ هغه کله هم تاسې ته ښه مشوره نه درکوي ځکه هغه ستاسې ازلي دښمن دی او هغه کوښښ کوي چې تاسې هم له خپل ځان سره په دوزخ کې ملګري کړي ډول ډول کوښښونه کوي ترڅو تاسې له سمې لارې نه واړوي تاسې ته داسې فکرونه او خيالونه در اچوي چې د هغوی په مرسته تاسې د الله له ذکر او ياد څخه غافل کړي نو په تاسې لا زمه ده چې

1 سورة فاطر آية ٦

دا دښمن خپل دښمن وګڼئ او د هغه خبرو ته غوږ ونه نيسئ او دا خبره ورته ښکاره کړئ چې مونږ ستا په خبرو دوکه نه خورو او ته چې په کومه لاره مونږ بيول غواړې مونږ په هغه لاره نه ځو .

ددې امله الله په قرآن کريم کې ټولو انسانانو ته سمې لارې ته د راتلو بلنه ورکوي او خپل عبادت ته يې متوجه کوي او همدا د ژوند بهترينه ميوه ده چې انسان يې بايد ورڅخه واخلي او دا هغه غوره څه دي چې انسان بايد ورباندې خپل عمر مصرف کړي او که دا له انسان نه پاتې شي نو بيا به د شيطان اطاعت کوي او د هغه په خوښه به چليږي او دا د دنيا او آخرت تاوان دی هېڅ هوښيار به داسې ونه کوي چې قيمتي شی پرېږدي او ارزانه خسيس او داسې شی واخلي چې دده نه د دنيا په ګټه تماميږي او نه د آخرت او شيطان ټول عمر انسان داسې کارونو او اعمالو ته ور غواړي چې هغه بد وي او د انسان هېڅ ډول په ګټه نه تماميږي بلکه په دنيا او آخرت کې د شرمېدلو او خجالت سبب کيږي په آخرت کې به بيا شيطان هم دا انسانان ملامتوي او ورته به وايي چې لتاسې سره زما څه زور خو نه وو ما خو تاسې مجبور کړي نه وئ چې تاسې زما لاره خوښه کړئ بس ما خو صرف تاسې ته بلنه درکړه او تاسې زما بلنه ومنله اوس ما مه ملامتوئ خپل ځان ملات کړئ الله د هغه حالت د واقعې په اړه فرمايي :

وَ قَالَ الشَّيۡطٰنُ لَمَّا قُضِيَ الۡاَمۡرُ اِنَّ اللّٰہَ وَعَدَكُمۡ وَعۡدَ الۡحَقِّ وَ وَعَدۡتُّكُمۡ فَاَخۡلَفۡتُكُمۡ ؕ وَ مَا كَانَ لِيَ عَلَيۡكُمۡ مِّنۡ سُلۡطٰنٍ اِلَّاۤ اَنۡ دَعَوۡتُكُمۡ فَاسۡتَجَبۡتُمۡ لِيۡ ۚ فَلَا تَلُوۡمُوۡنِيۡ وَ لُوۡمُوۡۤا اَنۡفُسَكُمۡ ؕ مَاۤ اَنَا بِمُصۡرِخِكُمۡ وَ مَاۤ اَنۡتُمۡ بِمُصۡرِخِيَّ ؕ اِنِّيۡ كَفَرۡتُ بِمَاۤ اَشۡرَكۡتُمُوۡنِ مِنۡ قَبۡلُ ؕ اِنَّ الظّٰلِمِيۡنَ لَہُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ (٢٢)[1]

ترجمه : او وبه وايي شيطان كله چې فيصله شي امر (د حساب په قيامت كې) بېشكه چې الله وعده كړې وه له تاسې سره (په دنيا كې) وعده د حق (چې له مرګ نه وروسته بيا را ژوندي كېدل جنت او دوزخ دی) او وعده كړې وه ما لتاسې سره بيا نو خلاف مې وكړو له تاسې سره (په وعده كې لكه چې اوس در ښكاره شو) او نه وو ماته پر تاسې باندې هېڅ حكومت (او غلبه) مګر دا قدر چه و بللئ ما تاسې (ګمراهي ته) نو قبول كړو تاسې (په تشو غولولو سره) دعوت زما نو مه ملامتوئ تاسو ما او ملامت كړئ ځانونه خپل نه يم زه اوس فرياد رس (له عذابه خلاصونكی) ستاسې او نه يئ تاسې فرياد رس (له عذابه خلاصونكی) زما بېشكه زه كافر (منكر بيزاره يم) له هغه اشراكه د تاسې ما لره (له الله سره په طاعت كې) پخوا له دې نه په دنيا كې) نو (فرمايي الله) بېشكه چې ظالمان شته دوی ته عذاب ډېر دردناك .

---

[1] سورة ابراهيم آية ٢٢

یعني په هغه وخت کې چې کله د ټولو کارونو فیصله وشي چې جنتیان به جنت او دوزخیان به دوزخ ته ځي نو هلته پخوا له دې نه چې دوزخیان دوزخ ته ولویږي دوی به په لعین ابلیس باندې الزام اچوي او ورته وایي به ای لعینه په دنیا کې تا مونږ تېر ایستو او له سمې لارې څخه د بې لارې کړو او پدې نني مصیبت باندې د ککړ کړو نو اوس زمونږ څه تدبیر او چاره هم وکړه د مثال په توګه څه سفارش مو وکړه یا څه بل حل را وباسه چې ددې سختو عذابونو څخه مو نجات په برخه شي نو ابلیس لعین به د دوی ځواب وکړي چې الله د صادقو او رښتینو پیغمبرانو په واسطه لتاسې سره د جنت ، دوزخ او بیا را ژوندي کېدلو وعدې په داسې توګه کړې وې چې د هغې رښتیا والی تاسې ته د معجزو او نښو څخه ښکاره وو او نن هم تاسې ته ثابت شو او ما لتاسې سره په دنیا کې د درواغو وعدې وکولې چې دهغې درواغ والی په دنیا کې هم په لږ فکر سره ښکاره کېدای شو او دلته هم اوس ښه ښکاره شو لما سره په دنیا کې څه زور او حکومت نه وو چې تاسې مې غلطې لارې ته په زور را ږولي وای ما خو صرف تاسې خپلې بدې لارې ته را وغوښتئ او تاسې پخپله په منډهٔ زما ډلې او زما لارې ته راغلئ ولې تاسې ړانده وئ چې زما هره خبره مو منله؟ نه مې در باندې زور وکولو ، نه مې درته کوم پرې کړی دلیل وویل او نه مو بله څه معجزه ولیده اوس په ما الزام مه اچوئ زما

ځکه زیات په خپلو ځانونو ملامتي وواياست زما په غاړه هم ستاسې د غولولو جرم پاتې دی زه په خپله په مشکل کې یم اوس تاسې زما سره څه ډول مرسته نشئ کولی او نه زه ستاسې سره څه مرسته کولی شم اوس دلته زه او تاسې ټول سره برابر یو هېڅوک یو د بل فریاد نشي آورېدلی په دنیا کې ځینې ستاسې زه د الله سره شریک و ګڼلم چې ما به کومې خبرې ورته کولې هغه به یې منلې او د الله خبرې به یې پرېښودې زه اوس ستاسې د هغه شرک نه منکر یم او بالکل ورځخه بېزار یم او یا دا مطلب چې زه لتاسې ځخه ددې امله بېزاره یم چې تاسې زما خبره پداسې ډول منله چې لما نه مو خپل خدای جوړ کړی وو که تاسې زما خبره نه منلی نو زه به هم اوس دومره مجرم نه وای اوس الله فیصله کړېده چې ظالمانو لره دردناک عذاب دی اوس به هرڅوک خپل عذاب ګالي .

الله خپلو بندګانو ته دا قصه ددې لپاره کوي چې دا تېره شوېده نه ده بلکه مخکې را روانه ده نو ددې لپاره چې پداسې حالت کې واقع نه شي باید خپل ځان وساتي او د شیطان خبرې ونه مني .

لکن په دنیا کې شیطان د انسان په دماغو باندې تر ډېره حده احاطه کوي او هغه ته مختلف ډول فکرونه او خیالونه ور یادوي چې ددې فکرونو ځخه کله انسان داسې په تنګ شي چې لدې ځخه د

خلاصون لپاره د یوې لارې لټون کوي او کله چې په داسې مشکلاتو کې را ګېر شي چې دده په نظر دا ډېر لوی تکلیف غم او مصیبت دی نو پدې فکر کې وي چې ددې غم نه بلکه له خپل ځان او له خپل ژوند نه هم ځان څنګه خلاص کړم نو شیطان دده په لارښونه شروع وکوي اود هغه په ذهن کې ور تخته کړي چې یوازینی د حل لاره داده چې ته خپل ځان ووژنه او څرنګه چې دی هم له مخکې نه فکرونو پسې اخستی وي نو د شیطان دا خیال او فکر یې په زړه کې ځای ونیسي بالآخره د خپل ځان د وژلو فیصله وکوي سره ددې چې په ښکاره سره ده ته د آخرت عذابونه ددنیا د ژوند له تکلیفونو څخه سپک ښکاره کیږي لکن په رښتیا کې د هغه دنیا تکلیفونه کوم چې له مرګ نه وروسته انسان ته په مخه ورځي ددې دنیا له تکلیفونو څخه ډېر سخت دي پدې دنیا کې که انسان په یو ماحول کې ډېر په تنګ شي لږ تر لږه د تښتېدلو صورت خو پکې شته په هغه دنیا کې خو د تښتېدلو صورت هم نشته او پدې دنیا کې چې عذاب څومره سخت شي نو بیا هم تمه شته چې ختم به شي او معلومه خبره ده چې ددې دنیا عذاب او تکلیف څومره سخت شي نو بالآخره پای لري او ختمیږي او الله په ښکاره الفاظو سره انسان لدې څخه منع کوي چې هغه د دنیا د مشکلاتو له امله ځان ووژني الله فرمایي :

وَ لَا تَقۡتُلُوۡۤا اَنۡفُسَکُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰہَ کَانَ بِکُمۡ رَحِیۡمًا (۲۹)[1]

ترجمه : تاسې خپل ځانونه مه مړه کوئ بېشکه الله په تاسې باندې مهربان دی .

په بل ځای کې الله د خپلو پاکو بندګانو صفت بیانوي چې هغوی داسې نفس نه وژني چې د الله هغه وژل حرام کړي وي الله فرمایي :

وَ الَّذِیۡنَ لَا یَدۡعُوۡنَ مَعَ اللّٰہِ اِلٰـہًا اٰخَرَ وَ لَا یَقۡتُلُوۡنَ النَّفۡسَ الَّتِیۡ حَرَّمَ اللّٰہُ اِلَّا بِالۡحَقِّ وَ لَا یَزۡنُوۡنَ ۚ وَ مَنۡ یَّفۡعَلۡ ذٰلِکَ یَلۡقَ اَثَامًا (ۙ۶۸) یُّضٰعَفۡ لَہُ الۡعَذَابُ یَوۡمَ الۡقِیٰمَۃِ وَ یَخۡلُدۡ فِیۡہٖ مُہَانًا (*ۖ۶۹)[2]

ترجمه : او بندګان د رحمن هغه کسان دي چې نه بولي سره له الله معبود بل او نه وژني دوی نفس هغه چې حرام کړی دی الله (د هغه وژل) مګر په حق سره او نه کوي دوی زنا . او هر چا چې وکړه یو له دغو شیانو نو ملاقات به وکړي او وبه ویني سزا د ګناه خپلې چې دوه چند به کړل شي دوی ته عذاب (د دوزخ) په ورځ د قیامت کې او تل به پاتې وي په دغه (عذاب) کې په داسې حال کې چې خوار ذلیل، سپک او بې اعتباره به وي .

1 سورة النساء آية ۲۳
2 سورة فرقان آية ٦٨ او ٦٩

همدا رنګه رسول الله ﷺ په سختو الفاظو د خپل نفس د هلاکولو او ځان وژلو څخه منع کړېده د حضرت ابي هريره نه روايت دی هغه فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل :

مَنْ تَرَدَّى مِنْ جَبَلٍ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَهُوَ في نَارِ جَهَنَّمَ يَتَرَدَّى فِيهِ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيها أَبَدًا، وَمَنْ تَحَسَّى سُمًّا فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَسُمُّهُ في يَدِهِ يَتَحَسَّاهُ في نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فيها أَبَدًا، وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَديدَةٍ فَحَدِيدَتُهُ في يَدِهِ يَجَأُ بِها في بَطْنِهِ في نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيها أَبَدًا . [1]

ترجمه : چا چې ځان له غره نه را وغورځولو او پدې ډول يې ځان مړ کړو نو دا به د جهنم په اور کې وي همېشه به خپل ځان پکې را غورځوي (همېشه به هغه تکليف محسوس کوي چې د کوم نه دی مړ شو) چا چې زهر وڅښل نو هغه زهر به يې په لاس کې وي او دی به هماغه زهر څښي او همېشه به په اور کې وي او که چا خپل ځان په کومه وسپنه سره مړ کړو نو هغه به يې په لاس کې وي همېشه به يې په خپله ګېډه کې وهي او د دوزخ په اور کې به همېشه وي .

په بل حديث کې حضرت ابو هريره په يوه واقعه کې فرمايي :

[1] صحيح مسلم

شَهِدْنا مَعَ رسول الله صلى الله عليه وسلم خَيْبَرَ، فَقالَ لِرَجُلٍ مِمَّنْ يَدَّعِي الإِسْلامَ: (هذا مِنْ أَهْلِ النَّارِ، فَلَمّا حَضَرَ الْقِتالُ قاتَلَ الرَّجُلُ قِتالاً شَدِيدًا فَأَصابَتْهُ جِراحَةٌ، فَقِيلَ يا رسول الله الَّذِي قُلْتَ إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَإِنَّه قَدْ قاتَلَ الْيَوْمَ قِتالاً شَدِيدًا، وَقَدْ مَاتَ، فَقالَ صلى الله عليه وسلم: إلى النَّارِ قَالَ فَكادَ بَعْضُ النَّاسِ أَنْ يَرْتابَ؛ فَبَيْنَما هُمْ عَلى ذلِكَ إِذْ قِيلَ إِنَّهُ لَمْ يَمُتْ وَلكِنَّ بِهِ جِراحًا شَدِيدًا، فَلَمّا كانَ مِنَ اللَّيْلِ لَمْ يَصْبِرْ عَلى الْجِراحِ فَقَتَلَ نَفْسَهُ: فَأُخْبِرَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم بِذلِكَ، فَقالَ: اللهُ أَكْبَرُ أَشْهَدُ أَنّي عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ، ثُمَّ أَمَرَ بِلالاً فَنادى في النَّاسِ: إِنَّه لا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلاّ نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ، وَإِنَّ اللهَ لَيُؤَيِّدُ هذا الدِّينَ بِالرَّجُلِ الْفاجِرِ).

ترجمه : مونږ د رسول الله ﷺ سره د خیبر په واقعه کې حاضر وو رسول الله ﷺ د یو کس په اړه چې د اسلام دعوه یې کوله وفرمایل چې دا کس د اهل النار (د اور له خلکو) څخه دی کله چې جنګ شروع شو هغه کس ډېر سخت جنګ وکولو بالآخره هغه زخمي شو رسول الله ﷺ ته وویل شول (کوم صحابي ورته وویل) یا رسول الله ﷺ د کوم کس په اړه چې تاسې ویلي وو چې هغه له اهل النار څخه دی هغه خو نن ډېر سخت جنګ وکولو او اوس هغه مړ شو رسول الله ﷺ بیا هم وویل : هغه اور ته ورغلو نیږدې وه چې ځینې خلکو پکې شک کړی وی خو دی

چې په همدې حالت کې وو چا وویل : هغه کس مړ نه شو بلکه هغه زخمي شو کله چې شپه شوه په خپل زخم یې صبر ونه کولو بالآخره یې پخپله خپل ځان مړ کړو رسول الله ﷺ ته دا خبر ورکړل شو رسول الله ﷺ وویل : الله اکبر زه ددې ګواهي ورکوم چې زه د الله بنده او د هغه رسول یم بیا یې بلال ته امر وکولو او هغه په خلکو کې اعلان وکولو : جنت ته نه ننوزي مګر مسلمان نفس او الله بېشکه ددې دین تائید په یو فاسق سړي سره هم کوي .

په بل ځای کې د حضرت سهل بن سعد الساعدي نه روایت دی هغه فرمایي یو وخت رسول الله ﷺ د مشرکینو سره په جنګ کې مخامخ شو او دوی او مشرکینو سخت جنګ سره وکولو دوی چې بېرته خپلو مرکزونو ته لاړل نو د جنګ په وخت کې د مسلمانانو په ډله کې یو کس وو چې هغه ډېر ښه جنګ کولو چې له مشرکینو څخه به ځوک هم په مخه ورتلل په توره به یې وهل چا وویل چې نن به چاته هم دومره اجر نه وي ورکړل شوی لکه فلاني ته به چې ورکړل شوی وي رسول الله ﷺ وفرمایل لکن هغه له اهل النار (دوزخیانو) څخه دی په مجلس کې یو ځوک پا ځېدل ویې ویل : زه دده ملګری کوم (ګورم چې آخر څه کیږي) دا کس هغه تعقیب کولو کله به چې هغه روان وو دی به هم پسې روان چې هغه به ودریدو نو دی به هم ودریدو

تردې چې هغه کس (چې ښه جنګ يې کولو) سخت زخمي شو او بيا يې (د زخم په تکليف باندې صبر ونه کولو) په خپله توره باندې ئې خپل ځان مړ کړو بيا دا تعقيب کونکی کس راغلو رسول الله ﷺ ته يې وويل : زه ددې ګواهي ورکوم چې ته د الله پيغمبر يې رسول الله ﷺ ورته وويل : دا خبره ولې کوې؟ هغه کس وويل مخکې چې تاسې د يو کس په اړه خبره وکوله چې هغه له اهل النار څخه دی خلکو ته دا خبره لويه ښکاره شوه (سخته ورته ښکاره شوه چې دومره تکړه مجاهد د اصحاب النار څخه ولې دی؟) نو ما دوی ته وويل چې زه به يې ستاسې لپاره تعقيب کړم نو زه په هغه پسې ووتلم تردې چې هغه سخت زخمي شو نو بيا يې ځان پخپله مړ کړو رسول الله ﷺ وويل :

إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فيما يَبْدُو لِلنَّاسِ وَهُوَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ فِيما يَبْدُو لِلنَّاسِ وَهْوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ .[1]

ترجمه : کله کله يو کس په ښکاره کې د جنت کارونه کوي لکن هغه د اهل النار څخه وي او کله کله يو کس په ښکاره کې د دوزخ کارونه کوي (بد عملونه کوي) لکن په حقيقت کې هغه د اصحاب الجنة څخه وي.

---

[1] صحيح مسلم

په پورتني حدیث کې یاد شوی کس سره ددې چې یو تکړه مجاهد دی د رسول الله ﷺ او د اسلام په دفاع کې یې داسې قرباني ورکړیده چې د هغه وخت حاضرینو یې په قربانی باندې ګواهي ورکوله لکن بیا هم ځرنګه چې د زخم نه وروسته یې خپل ځان په خپله مړ کړو نو رسول الله ﷺ یې په دوزخي کېدلو باندې فیصله وکوله ځکه چې د کوم تکلیف ، غم ، درد له امله ځان وژل د الله په فیصله او قضاء باندې خپله غصه ښکاره کول دي .

د بل انسان د ژوند ساتنه کول

او ځرنګه چې انساني نفس ته الله ډېر زیات قدر ورکړی دی هغه څوک چې کوم انسان ووژني د هغوی د پاره په قرآن کریم کې سخت وعید راغلی دی الله د بل انسان د قتل په اړه فرمایي :

وَ مَنۡ یَّقۡتُلۡ مُؤۡمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِیۡهَا وَ غَضِبَ اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَ لَعَنَهٗ وَ اَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِیۡمًا (٩٣) [1]

ترجمه : او هرڅوک چې مړ کړي کوم مؤمن په قصد سره (او بیا دا قتل ځان ته روا هم وګڼي) نو جزا دده دوزخ دی (په داسې حال کې) چې تل به وي دغه حلال ګڼونکی د قتل په هغه دوزخ کې او قهر کړی دی الله په ده باندې او لرې کړی دی الله

[1] سورة النساء آیة ٩٣

دی له خپل رحمت څخه او الله تیار کړی دی ده ته عذاب ډېر لوی .

په بل ځای کې الله فرمايي :

مِنۡ اَجۡلِ ذٰلِكَ ۛۚ كَتَبۡنَا عَلٰى بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ اَنَّهٗ مَنۡ قَتَلَ نَفۡسًۢا بِغَيۡرِ نَفۡسٍ اَوۡ فَسَادٍ فِى الۡاَرۡضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيۡعًا ؕ وَ مَنۡ اَحۡيَاهَا فَكَاَنَّمَاۤ اَحۡيَا النَّاسَ جَمِيۡعًا ؕ وَ لَقَدۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا بِالۡبَيِّنٰتِ ثُمَّ اِنَّ كَثِيۡرًا مِّنۡهُمۡ بَعۡدَ ذٰلِكَ فِى الۡاَرۡضِ لَمُسۡرِفُوۡنَ (٣٢) [1]

ترجمه : په سبب ددې (قتل) ليکلي وو (حکم کړی وو) مونږ پر بني اسرائيلو (اولاده د يعقوب) چې بېشکه شان دادی هرڅوک چې ووژني يو نفس بې له (عوض ، بدل د) بل نفس نه (يا بې) له فساده په زمکه کې (چې په ملک کې ئې فساد کړی وي) نو ګواکي وژلي ئې دي خلق ټول او هر چا چې ژوندی کړو دغه (يو نفس چې سبب شي د ژوندون يې) نو ګواکي ژوندي کړې ئې دي خلق ټول. او خامخا په تحقيق راغلي وو دوی ته رسولان زمونږ په حکمونو ښکاره بيا په تحقيق سره ډېر له دوی نه پس له دې (راتلو د رسولانو نه هم) په زمکه (په ملک) کې خامخا مسرفان (له حده تېرېدونکي) دي.

---

[1] سورة المائدة آية ٣٢

یعني په ناحقه قتل کې ډېر د دنیا او آخرت تاوانونه دي او خورا ډېرې بدې نتیجې وربانديې مرتبې کیږي تردې چې قاتل پخپله وروسته ډېر افسوس کوي نو ددې امله الله فرمايي چې مونږ بني اسرائیلو ته ویلي وو چې څوک یو بې ګناه نفس ووژني (چې مرګ یې روا نه وي) نو دا داسې ده لکه وژلې یې چې وي ټول خلق او څوک چې په خپل کوښښ سره یو انسان له مر ګ نه وساتي دا داسې ده لکه ټول خلک چې ده ژوندي کړي وي .

ددې آیة په تفسیر کې امام ابن حجر الهیتمي فرمايي :

په پورتني آیت کې یې د یو کس قتل د ټولو خلکو د قتل سره برابر کړو ددې لپاره چې د ټولو خلکو د قتل بد والی خو هر چاته ښکاره دی چې ډېره لویه ګناه ده داسې د یو کس قتل هم دی بل دا چې که خلک خبر شي چې څوک راځي او دوی ټول مړه کوي نو دوی به خامخا د هغه کس په مقابل کې پاڅون وکوي او له خپلو ځانونو څخه به دفاع وکوي او هغه کس به پرې نه ږدي چې دوی قتل کړي نو داسې که کوم ظالم د یو کس د قتل اراده هم کوي باید خلک یې په شریکه دفاع وکوي او د هغه د قتل مخه ونیسي همدارنګه که څوک په ظلم باندې ووژل شي باید دهغه د حقونو طلب ټول خلک په داسې ډول سره وکوي لکه دوی چې د خپلو حقونو غوښتنه کوي .

د حضرت براء بن عازب نه روايت دی هغه فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل :

لزوال الدنيا أهون على الله من قتل مؤمن بغير حق.[1]

ترجمه : بېشکه د ټولې دنيا زوال د الله په وړاندې د يو مسلمان د ناروا قتل نه سپک (بې اهميته) دی .

حضرت ابو هريره فرمايي رسول الله ﷺ فرمايل :

اجتنبوا السبع الموبقات " ، قالوا : يا رسول الله وما هن ؟ قال : " الشرك بالله ، والسحر ، وقتل النفس التي حرم الله إلا بالحق ، وأكل الربا ، وأكل مال اليتيم ، والتولي يوم الزحف ، وقذف المحصنات المؤمنات الغافلات .[2]

ترجمه : د اوو هلاکونکو شيانو څخه ځان وساتئ صحابه وو ورڅخه پوښتنه وکوله چې کوم اوه شيان دي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

١. د الله سره شريک نيول .

---

1 سنن ابن ماجة
2 صحيح البخاري

۲. سحر کول .

۳. د هغه نفس وژل چې الله یې وژل حرام کړي وي مګر په حق سره.

٤. سود خوړل

٥. د یتیم مال خوړل .

٦. په جهاد کې شاته تلل.

٧. په پاکو نا خبره (چې هغوی لدې تور نه بالکل خبرې نه وي) مسلمانو ښځو باندې تور لګول .

د وخت اهمیت په قرآن کریم کې

په قرآن کرم کې وخت ته ډېر لوی اعتبار ورکړل شوی دی او په مختلفو الفاظو څخه ورڅخه تعبیر شوی دی د مثال په ډول حین، دهر، الآن، الاجل، الیوم، الامد،

السرمد، الابد، الخلد ، العصر او داسې نور الفاظ ورته کارول شوي دي او په شریعت کې لوی عبادتونه تر وخت پورې تړل شوي دي لکه مونځ روژه حج چې د دوی اداء بغیر د خاص وخت څخه نه کیږي چې په ورځ کې په کال کې او په میاشت کې معلوم وخت لري او یوازې په هماغه وختونو کې که وکول شي نو د قبول وړ ګرځي او

په قرآن کریم کې وخت ته لوړه مرتبه او لوی قدر ورکړل شوی دی چې په لاندې طریقو سره یې ذکر راغلی دی :

په وخت باندې قسم

په قرآن کريم کې په مختلفو ځايونو کې په وخت او په ځينې اجزاوو د وخت باندې قسم کړل شوى دى پدې قسم کې ديته اشاره ده او پدې خبره تنبيه ده چې وخت او وخت ساتل له محترمو قضاياوو څخه دي چې بايد ورته فکر او نظر وشي او چېرته هم چې په وخت باندې قسم شوى دى نو هلته الله يو عظيم ا لشان حقيقت په ځواب ددې قسم کې راوړي او په کوم شي باندې چې الله قسم کوي دا دهغه شي لوړه مرتبه او قدر ښکاره کوي او الله په قرآن کريم کې په سحر باندې په لسو شپو باندې او په شپه باندې ، په ورځ باندې قسم کړى الله فرمايي:

فَلَا أُقۡسِمُ بِالۡخُنَّسِ (١٥) الۡجَوَارِ الۡكُنَّسِ (١٦) وَ الَّيۡلِ اِذَا عَسۡعَسَ (١٧) وَ الصُّبۡحِ اِذَا تَنَفَّسَ (١٨) اِنَّہٗ لَقَوۡلُ رَسُوۡلٍ كَرِيۡمٍ (١٩) ذِىۡ قُوَّةٍ عِنۡدَ ذِى الۡعَرۡشِ مَكِيۡنٍ (٢٠) [1]

ترجمه : نو (قسم خورم زه) په شپې چې کله را وخيږي مخ را وګرځوي (په تيارو خپلو سره) او (قسم خورم زه) په صبا کله چې سا ووهي را وخيږي (روښانه شي) بېشکه دا قرآن خامخا قول او وينا د رسول عزتمن (جبريل) ده چې خاوند د

1 سورة التكوير آية ١٥ تر ٢٠

قوت او زور دی په نزد د څښتن (خاوند) د عرش مرتبه لرونکی دی .

ددې آية په تفسير کې شاه عبد العزيز فرمايي :

ګواکي لمر ته يې د لامبو وهونکي کب او ماهي سره تشبيه ورکړېده او د لمر هغه وړانګې چې د لمر څخه پخوا خپريږي د ماهي لکی ته ورته کړې دي لکه څنګه چې ماهی په سيند کې پټ تيريږي د هغه د حرکت له امله اوبه چپې وهي او شوريږي همدا ډول لمر هم پخوا تر سپېده داغ او لمر بريښي .

ځينې وايي د سهار تنفس هغه د سحر وختي باد نسيم دی چې د سپېده داغ نه وروسته چليږي .

علماء ددې قسم په تفسير کې فرمايي چې د شپې را ښکاره کېدل او يا سحر راتلل دنيا رڼا کېدل او تياره کېدل د هغه حالت سره مشابهت لري چې دنيا ته به کله د پيغمبرانو په واسطه باندې رڼا راتله او کله به د پيغمبرانو د راتګ د ځنډېدلو له امله تياره راغله لکه د رسول الله ﷺ نه وړاندې چې د ډېر وخت لپاره بل پيغمبر نه وو راغلی نو په دنيا باندې د جهالت يو ډول تياره خپره شوې وه هغه داسې تياره وه چې د حق او باطل توپير پکې نه کېدو او نه پکې د داسې يوې رڼا تمه وه لکه د شپې ويده خلک چې پدې

تمه وي چې سحر به شي رڼا به را پورته شي لکن الله په خپل فضل کرم سره د جهالت د ډېر وخت تياره د رسول الله ﷺ په راتګ سره ختمه کړه او دنيا يې رڼا کړه .

په بل ځای کې الله فرمايي :

فَلَآ أُقۡسِمُ بِالشَّفَقِ (١٦) وَ الَّيۡلِ وَ مَا وَسَقَ (١٧) وَ الۡقَمَرِ اِذَا اتَّسَقَ (١٨) لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا عَنۡ طَبَقٍ (١٩) [1]

ترجمه : پس قسم خورم په شفق سپينوالي د عشاء نه پس له سور والي د ماښام او په شپه او په هغه (ځيزونو) چې جمع کړي وي (شپې هغه په تيارو خپله کې) او (قسم خورم) په سپوږمۍ کله چې پوره شي خامخا سواره به شئ وبه رسېږئ تاسې ای خلقو يو حال ته وروسته له بل حال نه .

يعني انسانان او نور ژوندي شيان چې د ورځې د رزق په لټون کې له کورونو او خپلو هستوګنو څخه بهر ګرځيږي او هر چېرته د خپلو ضروورياتو په لټون کې بوخت وي د شپې له لوري ټول سره يو ځای شي پداسې شپه او په مکمل سپوږمي چې د څوارلسمې د مياشتې دی په هغې باندې قسم چې په دنيا کې به د مختلفو حالتونو او مختلف ډول ژوند نه تېر شئ او بالآخره به ددې سلسلې په

[1] سورة الانشقاق آية ١٦ تر ١٠

آخر کې آخري مرحلې ته ورسېږئ چې هغه مرګ دی په هغه پسې بيا د قبر زندګي ده بيا د قيامت را ژوندي کېدل دي او بيا هلته څنګه حالتونه تېرېدل دي الله پدې هرڅه باندې خبر دی او دا همداسې دي لکه په شپه کې چې کله شفق وي نو يو ډول سره او سپينه رڼا وي نو دا رڼا په حقيقت کې د لمر پاتې شوي اثرات او اغيزې دي او په هغه پسې بيا د شپې بله مرحله شروع کيږي چې دنيا تپه تياره شي چې هرشی پکې پټيږي او په شپه کې سپوږمۍ هم را پورته کيږي چې د هغې رڼا هم درجه په درجه زياتيږي او په څوارلسمه شپه کې سپوږمۍ د شپې له شروع سره تر سهاره پورې په داسې ډول را خيږي چې د شپې هغه توره تياره له مينځه وړي نو ځينې علماء وايي کېدای شي ددې حالتونو په قسم سره په خاص کولو کې دېته اشاره وي چې د انسان د ژوند ، د مرګ او ورسته د مرګ نه چې څه کيږي دا حالتونه هم د شپې همدې بدلون ته ورته دي چې کله يو څه رڼا پکې وي او کله تياره وي او کله بيا ښه رڼا وي و الله اعلم.

په بل ځای کې الله فرمايي :

وَ الشَّمۡسِ وَ ضُحٰىہَا ۪ۙ(۱) وَ الۡقَمَرِ اِذَا تَلٰىہَا ۪ۙ(۲) وَ النَّہَارِ اِذَا جَلّٰىہَا ۪ۙ(۳) وَ الَّیۡلِ اِذَا یَغۡشٰىہَا ۪ۙ(۴) [1]

ترجمه : قسم دی په لمر باندې او په رڼا د هغه باندې او په سپوږمۍ باندې چې کله راځي په دغه لمر پسې (يعني د لمر له ډوبېدلو څخه وروسته کله چې د سپوږمۍ رڼا خپره شي) او (قسم دی) په ورځ باندې کله چې ښکاره کړي دغه (لمر) (يعني کله چې په ورځ کې لمر د خپلې پوره پلوشې او پوره رڼا سره د خپلو شعاعو پرېښودونکی شي) او (قسم دی) په شپه باندې کله چې پټ کړي هغه (لمر) په تياره خپله کې (يعني کله چې د شپې تياره ښه توره شي او د لمر د رڼا هېڅ نښه نه وي) .

دلته الله په لمر د هغه په رڼا په سپوږمي ورځ او شپه باندې قسم کوي د قسم ځواب وروسته را روان دی چې الله فرمايي قد افلح من زکها (په تحقيق سره نجات ومونده په مراد ورسېدل هغه څوک چې پاک يې کړ دا (نفس له ګناهونو) .

په بل ځای کې الله فرمايي:

---

[1] سورة الشمس آية ١ تر ٤

وَ الَّیۡلِ اِذَا یَغۡشٰی ۙ(۱) وَ النَّہَارِ اِذَا تَجَلّٰی ۙ(۲) وَ مَا خَلَقَ الذَّکَرَ وَ الۡاُنۡثٰۤی ۙ(۳) اِنَّ سَعۡیَکُمۡ لَشَتّٰی ؕ(۴)[1]

ترجمه : قسم دی په شپه کله چې پټ کړي (هر شی په تیاره خپله سره) او (قسم دی) په ورځ باندې کله چې روښانه شي او (قسم دی) په هغه ذات باندې چې پیدا کړی ئې دی نارینه او ښځه (له یو اوبو نه ، او جواب د قسم دادی) چې‌ه بې‌شکه سعی عملونه ستاسې راز راز (ډول ډول) دي (چه ځینې اطاعت کوي او ځینې معصیت) .

په بل ځای کې الله فرمایي :

وَ الضُّحٰی ۙ(۱) وَ الَّیۡلِ اِذَا سَجٰی ۙ(۲) مَا وَدَّعَکَ رَبُّکَ وَ مَا قَلٰی ؕ(۳) [2]

ترجمه : قسم دی په ځاښت (چه روښانه دی) او قسم دی په شپه کله چې تیاره شي (او پټ کړي موجودات په تیاره خپله کې) چه نه دی درکړي رخصت تاته (نه یې پریښی) رب ستا او نه یې ته دشمن نیولی یې (ای محمده !)

وَ الۡفَجۡرِ ۙ(۱) وَ لَیَالٍ عَشۡرٍ ۙ(۲) وَّ الشَّفۡعِ وَ الۡوَتۡرِ ۙ(۳) وَ الَّیۡلِ اِذَا یَسۡرِ ۚ(۴)[1]

---

[1] سورة الليل آية ١ تر ٤
[2] سورة الضحى آية ١ تر ٣

ترجمه : قسم دی په فجر (صبا) باندې او په شپو لسو باندې او په جفت باندې او (قسم دی په) طاق باندې او په شپه باندې چې کله ځي را ځي توره تياره کيږي .

حضرت شاه صاحب ددې آية د تفسير کې ليکي :

د لوی اختر په صبا حج اداء کيږي او لس شپې له هغه څخه پخوا شپې دي او جفت او طاق د روژې وروستنی عشره ده او د شپې له تګ څخه مراد د معراج په شپه کې د رسول الله ﷺ تلل دي چې دا ټول متبرک اوقات دي نو ځکه الله دې وختونو ته نور لا زيات قدر ورکړو او پدې يې قسم وکولو .

ټولو مفسرينو کرامو د والليل اذا يسر نه د شپې د تيارې خپريدل اخيستي دي ګواکي د سبا د قسم په مقابل کې يې د شپې د راتلو قسم ياد کړ لکه چې د جفت په بدل کې يې چې طاق ياد کړو او د ليال عشر څخه ممکن دی چې چې مطلب لس شپې مراد وي نو په هر صورت الله وخت دومره معزز ګڼلی دی چې ددې وړ يې ګرځولی دی چې هغه مبارک او عاليشان ذات وربانديې قسم وکوي .

په بل ځای کې الله فرمايي :

1 سورة الفجر آية ١

وَ الۡعَصۡرِ ۙ(۱) اِنَّ الۡاِنۡسَانَ لَفِیۡ خُسۡرٍ ۙ(۲) [1]

ترجمه : قسم دی په عصر چې بېشکه انسان خامخا په زیان کې دی (په صرف کولو د خپل قیمتي عمر په فاني شیانو کې)

عصر زمانې ته ویل کیږي یعني د پورتني آیت مطلب دادی چې قسم په زمانه باندې چې د انسان عمر هم پکې داخل دی چې دا عمر د سعاداتو او کمالاتو د ګټلو د پاره یوه لویه پانګه (سرمایه) ده او په همدې عمر کې انسان مختلف شیان ویني او یا عصر په عربي کې د مازیګر وخت ته ویل کیږي نو د پورتني آیت مطلب دادی چې قسم دی په مازیګر وخت باندې چې د دنیایي کارونو او مصروفیتونو له اړخه یو ځانګړی خصوصیت لري او د مانځه اداء پکې سخته ده ځکه پدې وخت کې خلک په کارونو زیات مصروف وي او پدې وخت کې عبادت کول د زیات ثواب لامل ګرځي رسول الله ﷺ فرمايي له چا څخه چې د مازیګر مونځ پاتې شي لکه د هغه چې ټول کور او د ژوند شیان لوټ شوي وي .

او یا قسم دی په زمانه د رسول الله ﷺ باندې چې پدې وخت کې د عظمې رسالت او کبری خلافت رڼا او نور ډېر ښه ځلیږي او بهتره ده له نورو زمانو څخه دا قسم دی او ددې قسم ځواب دادی چې الله

[1] سورة العصر آية ۱ او ۲

وړاندې فرمايي چې انسان په زيان کې دی ځکه چې انسان شيبه په شيبه خپله قيمتي سرمايه له لاسه ورکوي او که هره لحظه انسان داسې څه ونه کوي چې دده د آخرت لپاره سرمايه او ذخيره شي نو دده د نقصان لوری تر ګټې څخه زياتيږي ځکه که دی د خپلې ابدي فايدې لپاره څه کوي او که يې نه کوي دده قيمتي عمر مخ په وړاندې روان دی او يوه ورځ به داسې راشي چې دده عمر به ختم شي بيا به دی د همدې تېر شوي عمر نتيجې ته ناست وي که يې ښه کړي وي او که بد نتيجه به دده په وړاندې وي بيا به دی ډېر ووايي چې رب ارجعوني لعلي اعمل صالحاً (ای ربه ما بېرته و ګرځوه زه به نېک عمل وکوم) لکن هيڅ به هم نه کيږي .

امام رازي ددې آيت په تفسير کې فرمايي :

الله په زمانه باندې ځکه قسم کوي ځکه چې زمانه په ډېرو عجيبو شيانو باندې مشتمله ده ځکه له همدې زمانې څخه خوشحالي راځي او له همدې څخه غم راځي او د همدې وخت د تېريدلو سره انسان بېمار کيږي او بېمار بېرته جوړيږي او د همدې وخت په آوښتون سره انسان مالدار کيږي او غريب کيږي او دا وخت دومره مهم دی چې انسان يې يوه لحظه ترينه هم په سمه توګه استعمال کړي الله يې نتيجه ورته ښکلې کوي د مثال په ډول که څوک په کلونو کلونو ګناهونه کوي او بالآخره په يوه لحظه کې الله تعالی ته رغبت وکوي او په سمه توګه

توبه وباسي نو الله به يې جنت ته بوزي او د هغې دنيا هر ډول نيکبختي به يې په برخه شي نو چې ستا د يوې لحظې چې ته يې په سمه توګه مصرف کړې الله د هغه دنيا ابدي نعمتونه درکوي نو ددېنه ښکاره کيږي چې وخت څومره قيمتي نعمت دی .

ډېر ځله په تاريخ کې ثابت شوي دي چې چاته لږ وخت څومره لويه فايده ورکړې وي لکه په صحيح حديث کې چې واقعه نقل شوېده يو کس مشرک وو بيا مسلمان شو ډېر وخت دده د اسلام نه وو تېر چې د جهاد اواز وشو هغه له مجاهدينو سره ووتلو ډېر وخت نه وو تېر چې الله ورته د شهادت لوړه مرتبه ورکړه رسول الله ﷺ يې په اړه وويل : لږ عمل او ډېر لوی اجر .

د عباداتو لپاره خپل وخت تعين شوی دی

په شريعت کې ټول عبادتونه په وخت باندې موقت شوي او وخت ورته تعين شوی دی د مثال په ډول پنځه وخته مونځ ، د رمضان د مياشتې روژه او داسې نور ...

مونځ په خپل وخت کې فرض دی

الله په مسلمانانو باندې مونځ فرض کړی دی او هغه مونځ په خپل معين او مقرر وخت کې فرض دی الله پدې اړه فرمايي :

اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتۡ عَلَى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ كِتٰبًا مَّوۡقُوۡتًا (١٠٣) [1]

ترجمه : بېشکه چې لمونځ دی پر مؤمنانو باندې فرض کړی (ټاکلی مقرر) شوی په معلومو اوقاتو کې .

په تفسير السعدي کې ددې آيت په تفسير کې ليکلي دي يعني چې مونځ په مؤمنانو باندې د وخت مطابق فرض کړل شوی دی او د خپل معلوم وخت نه بغير نه صحيح کيږي او دا هماغه وختونه دي چې د يوې مسلمانې جامعې لوی او وړوکی يې د هغه هداياتو له مخې پېژني چې له رسول الله ﷺ څخه را نقل شوي دي او رسول الله ﷺ ددې وختونو تشريح کړېده او په پورتني آيت کې چې الله وويل على المؤمنين پدې کې دېته اشاره ده چې لمونځ د مؤمن نښه ده او څوک چې څومره په ښه طريقه مونځ کوي نو په هماغه اندازه مونږ د هغه په ښه مؤمن کېدلو باندې فيصله کولی شو .

[1] سورة النساء آية ١٠٣

په بل ځای کې الله فرمايي :

اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوۡکِ الشَّمۡسِ اِلٰی غَسَقِ الَّیۡلِ وَ قُرۡاٰنَ الۡفَجۡرِ ؕ اِنَّ قُرۡاٰنَ الۡفَجۡرِ کَانَ مَشۡہُوۡدًا (۷۸) وَ مِنَ الَّیۡلِ فَتَہَجَّدۡ بِہٖ نَافِلَۃً لَّکَ * ٭ۖ عَسٰۤی اَنۡ یَّبۡعَثَکَ رَبُّکَ مَقَامًا مَّحۡمُوۡدًا (۷۹)[1]

ترجمه : قائموه (سم ودروه له ټولو حقونو) لمونځ وروسته له زواله د لمر تر تیارې د شپې پورې (یعني د ماسپښین ، مازیګر ، ماښام ، او ماسختن مونځونه اداء کړه او له قرائت د فجر (یعني د سهار مونځ اداء کړه) بېشکه چې قرآن لوستل (مونځ کول) د فجر حاضر شوی دی (یعني ور حاضریږي ملائک د شپې او د ورځې او په (یوه ټوټه د) شپې کې خوب پرېږده او ویښ اوسه (په لوستلو د قرآن په مانځه کې دا (زیاتي عبادت دی خاص تاته ښايي چه وبه دروي تا رب ستا په هغه مقام محمود (ستایل شوی ځای د شفاعت) کې.

په پورتنيو آيتونو کې الله حکم فرمايي چې هروخت د الله طرف ته متوجه اوسئ او د هغه عبادت کوئ او د سحر وختي نه د شپې بيا تر ناوخته پورې په مختلفو معينو وختونو کې د الله فريضه مونځ اداء کوئ علماء کرام پدې ځای کې فرمايي چې ښايي د (قرآن الفجر) له تعبير نه دې ټکي ته اشاره وي چې د سحر په مانځه کې

[1] سورة بني اسرائيل آية ۷۸ او ۷۹

اوږد تلاوت غوره خبره ده او پدې اړه يو حديث شريف هم دى چې فرمايي زمونږ د سحر او مازيګر د مونځونو په وخت کې د پرښتو وظيفې بدليږي او پدې دوو وختونو کې ډيرې پرښتې دلته وي چې د ورځې کومې پرښتې وي هغه د مازيګر د مانځه نه وروسته ځي او د شپې چې کومې پرښتې په دنيا کې وي هغوى د مازيګر د مانځه څخه وړاندې را ځي په همدې ډول د شپې پرښتې د سحر د مانځه څخه وروسته ځي او د ورځې پرښتې د سحر د مانځه څخه وړاندې راځي نو پدې دوو وختونو کې په عبادت ډير زيار ايستل د زيات ثواب لامل کيدلى شي او کومې پرښتې چې له دنيا څخه ولاړې شي هغوى د خپل رب په وړاندې د بنده په اړه ګواهي ورکوي چې مونږ هغه پداسې حالت کې پريښود چې ستا په عبادت مصروف وو .

د (و من الليل فتهجد به) په تفسير کې علماء ليکي چې د شپې په وخت کې له خوب نه را ويښ شه په (تهجد) کې قرآن ولوله الله دا حکم رسول الله ﷺ ته کړى دى او ددې حکم حکمت د آيت په آخر کې ښکاره شوى دى چې الله ورته فرمايي چې مونږ تاته تر ټولو خلکو نه غوره او لوړه مرتبه درکوو نو ځکه په رسول الله ﷺ باندې د تهجد مونځ فرض او په امت باندې يې مستحب دى .

روژه د رمضان په مياشت کې فرض ده

روژه يې خاصه کړې ده د رمضان تر مياشت پورې الله پدې اړه فرمايي :

شَهۡرُ رَمَضَانَ الَّذِىۡ اُنۡزِلَ فِيۡهِ الۡقُرۡاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الۡهُدٰى وَ الۡفُرۡقَانِ‌ۚ فَمَنۡ شَهِدَ مِنۡكُمُ الشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُ[1]

ترجمه : مياشت د رمضان هغه مياشت ده چې پکې نازل شوی دی قرآن چې هدايت دی لپاره د خلقو او دليلونه دي ښکاره (له جنسه د هغو شيانو) چې هغه لاره ښيي او بيلوونکي د حق او باطل دي نو څوک چې ومومي له تاسې (ای مکلفينو) دا مياشت نو ضرور دې روژه ونيسي د هغې (مياشتې).

د احاديثو له مخې په حضرت ابراهيم باندې صحيفې هم په همدې مياشت کې نازلې شوې وې په همدې ډول تورات انجيل زبور او نور اسماني کتابونه تول په همدې مبارکه مياشت د رمضان کې نازل شوي دي قرآن کريم هم د رمضان مبارک په څليرويشتمه شپه کې له لوح محفوظ څخه اول اسمان ته ټول سره يو ځای نازل شوی دی بيا له هغه ځايه څخه له ضرورت سره سم او د احوالو په مقتضی په حضرت محمد رسول الله ﷺ په ۲۳ کلونو کې ټوټه ټوټه (لږ لږ) نازل شوی دی او حضرت جبريل به د رسول الله ﷺ په حضور کې په هر رمضان کې ختم کاوه او د تکرار په ډول به يې

[1] سورة بقرة آية ۱۸۵

بيا رسول الله ﷺ ته ور آوراوه چې لدې تولو خبرو څخه د رمضان مبارک د مياشتې قدر مرتبه او عظمت ښکاره کيږي .

حج په خاصو مياشتو کې فرض دی

حج خاص کړل شوی دی تر خاصو مياشتو پورې د هغه په اړه الله فرمايي :

اَلۡحَجُّ اَشۡهُرٌ مَّعۡلُوۡمٰتٌ [1]

ترجمه : وخت د حج څو مياشتې دي معلومې (چې بغير له هغه خپل وخت څخه په بل هيڅ وخت کې نه صحيح کيږي)

په بل ځای کې الله فرمايي :

يَسۡـَٔلُوۡنَکَ عَنِ الۡاَہِلَّۃِ ؕ قُلۡ ہِیَ مَوَاقِیۡتُ لِلنَّاسِ وَ الۡحَجِّ ؕ [2]

ترجمه : پوښتنه کوي خلق له تا څخه (ای محمده!) له حاله د نويو مياشتو ووايه (ای محمده! دوی ته) چې دا مياشتې ټاکلې (مقرر) شوې وختونه دي له پاره د خلقو او د حج .

يعني لمر تل په يو صورت او يو حال وي او د سپوږمۍ شکل تل بدليږي او د هغې د رڼا مقدار

---
1 سورة بقرة آية ١٩٧
2 سورة البقرة آية ١٨٩

هروخت یا کمیږي او یا زیاتیږي نو ځکه خلکو د سپوږمۍ ددې کموالي یا زیاتوالي په اړه له رسول الله ﷺ څخه پوښتنې کولې نو دا آیات پداسې وخت کې نازل شو چې ددېنه په مخکې آیتونو کې د رمضان د میاشتې او د روژې ذکر وو او پدې آیت کې د هلال ذکر دی او د روژې هم تعلق د هلال د لیدلو سره دی بیا مخکې الله فرمایي چې ای محمده! ته دوی ته ووایه چې د سپوږمۍ په ختلو او بدلون سره ډیرې چارې او معاملې تعلق لري او د سپوږمۍ په وسیله ورځې ، د عباداتو او معاملاتو وختونه ، د قرض، اجارې ، حمل، رضاعت، روژې، زکوة، عدت ، عقود، شروط، مزدورې او نورو شیانو نیټې معلومیږي او هره نیټه او تاریخ له سپوږمي څخه په ښه ډول سره ښکاره کیږي .

په همدې ډول نورلوی احکام هم تر وخت پورې تړل شوي دي لکه د ښځې د طلاق او یا د زوج د وفات عدت همدارنګه جهاد لکه چې الله فرمایي:

فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدتُّمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ[1]

ترجمه : نو کله چې تېرې شوې څلور میاشتې حرامې نو وژنئ (ای مومنانو عهد ماتونکي مشرکان په هر ځای کې چې و موندل تاسې دوی او

[1] سورة التوبة آیة ٥

نیسئ (بندیان قیدیان کړئ) دوی او حصار کړئ دوی (په کلاګانو کې) او کینئ دوی ته (منتظر) په هر ځای کې .

په بل ځای کې الله فرمایي :

إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ ۚ فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنْفُسَكُمْ ۚ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ (٣٦)[1]

ترجمه : بېشکه چې شمار د میاشتو (چې معتبر دی) په نزد د الله کې دوولس میاشتې دي په کتاب د الله (لوح محفوظ) کې هغه ورځ (وخت) چې پیدا کړي ئې دي آسمانونه او زمکه د هغو (له جملې) څنې څلور میاشتې محرمې دي دغه (حساب یا تحریم) دین دی سم نو مه کوئ ظلم په دغو کې په ځانونو خپلو (په کولو د ګناه) او جنګونه کوئ تاسې (ای مؤمنانو) له مشرکانو سره ټول (په هر حال کې) لکه چې جنګونه کوي دوی له تاسې سره ټول او پوه شئ چې بېشکه الله سره له پرهېزګارانو دی (په ساتنه ، مرسته (امداد) او ثواب ورکولو سره) .

[1] سورة التوبة آية ٣٦

په عربو کې له پخوا څخه يو دود او دستور را روان وو چې د کال په دوولسو مياشتو کې به يې څلور مياشتې محرمې ګڼلې او پدې څلورو مياشتو کې به يې وينه تويول او جنګ کول ښه نه ګڼل او دېته به يې اشهر الحرم ويلې چې پدې مياشت کې به څوک هم د څه ډول خطر څخه نه ډارېدل او هغه کسان چې د دښمنيو له امله به په نور کال کې ډارېدل او سفر به يې نه شواى کولى نو پدې مياشتو کې به يې په امن او امان سره د حج ، عمرې او تجارتي مقصدونو لپاره سفرونه کول او پدې مياشتو کې به چا د پلار په قاتل باندې هم غرض نه کاوه بلکه ځينې علماء پدې ځاى کې ليکي چې په ابراهيمي ملت کې اشهر الحرم مقررې شوې وې لکن کله چې په عربو کې د جهالت تياره ډېره سخته خپره شوه او د يو بل سره په دښمنۍ کې سخت آخته شول نو له يوه پلوه د جهالت تورې تيارې او له بله پلوه سختو دښمنيو دوى داسې کړل چې په خپله دښمني پاللو کې به د هېڅ ډول قانون تابع نه وو نو بيا به چې کله د کومې لويې ډلې ظالم او طاقتور مشر غوښتل چې پدې مياشتو کې جنګ وکوي نو بيا به يې اعلان وکولو چې مونږ اوس جنګ کوو نو بيا به ددې مياشتو په ځاى نورې مياشتې محرمې وګرځوو او په هغې کې به بيا جنګ نه کوو چې وروسته په بل آيت کې الله د دوى دې کار ته (النسئ يعني تاخير د حرمت) ويلى دى او رد يې وربانديې کړى دى امام مغازي محمد بن اسحق ليکلي دي چې اول دا کار

قلمس کناني نومي کس وکولو بيا دا عادت دده په اولاد کې جاري شو نسلاً بعد نسل به دوی په خپله خوښه اعلان کولو چې پدې کال کې کومې مياشتې محرمې او کومې نه دي نو د دوی په اعلان به مياشتې حلالې او حرامې کېدلې ګواکې د جاهليت په زمانه کې د کفر او ګمراهي د زياتوالي سبب يو دا هم وو چې د الله د حلالو او حرامو کړو مياشتو د بدلولو حق د کنانة قبيلي سردار ته سپارل شوی وو او هغه به يې په حلال والي او حراموالي باندې فيصله کوله .

په همدې اړوند الله وړپسې په بل آيت کې فرمايي :

اِنَّمَا النَّسِیۡٓءُ زِیَادَۃٌ فِی الۡکُفۡرِ یُضَلُّ بِہِ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا یُحِلُّوۡنَہٗ عَامًا وَّ یُحَرِّمُوۡنَہٗ عَامًا لِّیُوَاطِـُٔوۡا عِدَّۃَ مَا حَرَّمَ اللّٰہُ فَیُحِلُّوۡا مَا حَرَّمَ اللّٰہُ ؕ زُیِّنَ لَہُمۡ سُوۡٓءُ اَعۡمَالِہِمۡ ؕ وَ اللّٰہُ لَا یَہۡدِی الۡقَوۡمَ الۡکٰفِرِیۡنَ (۳۷)[1]

ترجمه : بېشکه چې دغه تاخير (د حرمت د يوې مياشتې بلې مياشتې ته) ډېر والى دى په (زمانه د) کفر کې چې ګمراه کاوه شي پدې (عمل) سره هغه کسان چې کافران شوي دي حلالوي دوی دغه (حرامه مياشت) يو کال (پکې جنګ کوي) او حراموي دوی (پرېږدي په حرمت) دغه (حرامه مياشت) بل کال (او دغه د نسئ عمل کوي) له

---

1 سورة التوبة آية ۳۷

پاره د دې چې پوره کړي دوی شمار د هغو مياشتو چه حرامې کړي دي الله نو حلالوي (په زعم او عمل خپل) هغه مياشتې چې حرامې کړي دي الله ښائسته کړي شوي دي دوی ته ناکاره عملونه د دوی او الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم کافرانو ته .

الأشهر الحرم

لكه په پورتني آيت كې چې تېر شول چې اشهر الحرم څلور مياشتې دي البته په قرآن كريم كې يې تعين نه دى شوى چې كومې دي لكن رسول الله ﷺ پدې اړه فرمايي :

السنة اثنا عشر شهراً، منها أربعة حرم، ثلاث متواليات: ذو القعدة وذو الحجة والمحرم، ورجب مضر الذي بين جمادى وشعبان. [1]

ترجمه : كال دولس مياشتې دى پدې كې څلور د حرم مياشتې دي درى سره يو ځاى دي ذو القعدة ، ذو الحجة، او محرم او يوه د مضر رجب ده هغه چې د جمادى الثاني او شعبان په مينځ كې ده .

په پورتني حديث كې د رجب مضر لفظ په اړه علماء فرمايي :

وسُمي رجب برجب مضر لأن ربيعة بن نزار كانوا يحرمون شهر رمضان ويسمونه رجباً، وكانت مضر تحرم رجباً نفسه فلذلك قال النبي صلى الله عليه وسلم: ((الذي بين جمادى

[1] صحيح البخاري

وشعبان)) ليرفع ما وقع في اسمه من الاختلال . الجامع لاحکام القرآن

ترجمه : او رجب ته يې د مضر رجب وويله ځکه چې ربيعة بن نزار خلکو به د رمضان مياشت محرمه ګڼله او بيا به يې ورته رجب ويل او مضر خلکو به خپله رجب محرمه ګڼله ددې امله رسول الله ﷺ ښه واضحه کړه او ويې فرمايل هغه چې د جمادي او شعبان په مينځ کې ده ددې لپاره چې لفظ ښه واضح شي .

دا څلور مياشتې عربو د جاهليت په وخت کې هم محترمې ګڼلې او جنګ به يې پکې نه کاوه دا درې متصلې مياشتې ذو القعده ، ذو الحجة او محرم يې ددې لپاره د امن مياشتې کړې وې چې پدې کې به دوی حج ته تلل نو د ذی الحجې نه يې يوه مياشت مخکې به يې جنګونه بند کړل او ذی القعده يې ورته ويل په دې کې به دوی له جنګ څخه کېناستل (قعود به يې کاوه) او په ذی الحجة کې به يې د حج مناسک اداء کول او په همدې مياشت کې به يې تجارت هم کاوه او بيا يې يوه مياشت ورپسې بله حرامه ګڼله چې په هغې کې دوی خپلو کورونو ته لاړ شي او بيا به يې بله مياشت (رجب) د کال په مينځ کې حرامه ګڼله چې دوی ته د بيت الله زيارت کول او عمره کول اسان

شي او په دې مياشتو کې به هر چا په بېغمه زړه د بيت الله زيارت کاوه .[1]

په اشهر الحرم کې جهاد کول

پدې اړه د علماوو اتفاق دی چې په اشهر الحرم کې له ځان څخه د دفاع په موخه جنګ کول بېشکه روا دي او هېڅ شک پکې نشته او پدې اړه بنيادي دليل قرآني آية دی الله فرمايي :

يَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنِ الشَّهۡرِ الۡحَرَامِ قِتَالٍ فِيۡهِ ؕ قُلۡ قِتَالٌ فِيۡهِ كَبِيۡرٌ ؕ وَ صَدٌّ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَ كُفۡرٌۢ بِهٖ وَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ * وَ اِخۡرَاجُ اَہۡلِهٖ مِنۡهُ اَكۡبَرُ عِنۡدَ اللّٰهِ ۚ وَ الۡفِتۡنَةُ اَكۡبَرُ مِنَ الۡقَتۡلِ ؕ وَ لَا يَزَالُوۡنَ يُقَاتِلُوۡنَكُمۡ حَتّٰى يَرُدُّوۡكُمۡ عَنۡ دِيۡنِكُمۡ اِنِ اسۡتَطَاعُوۡا ؕ وَ مَنۡ يَّرۡتَدِدۡ مِنۡكُمۡ عَنۡ دِيۡنِهٖ فَيَمُتۡ وَ هُوَ كَافِرٌ فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتۡ اَعۡمَالُهُمۡ فِى الدُّنۡيَا وَ الۡاٰخِرَةِ ۚ وَ اُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ (٢١٧)[2]

ترجمه : پوښتنه کوي خلق له تانه (ای محمده!) له مياشتې حرامې څخه له جنګ کولو په دې کې (چې روا دي که نا روا؟) ووايه (ای محمده! دغو پوښتنه کونکو ته) چې جنګ کول په دې (اشهر الحرم) کې (عمداً) لويه ګناه ده او منع کول له لارې (دين) د الله څخه او کافر کېدل په الله او

---

[1] تفسير قرآن العظيم (ابن کثير)
[2] سورة البقرة آية ٢١٧

(منع کول له) مسجد حرام نه او اېستل د اهل د مسجد حرام له ده څخه (ګناه) ډېره لويه ده په نزد د الله (له قتال په اشهر الحرم کې) او فتنه (له دين د الله څخه د خلقو اېستل) ډېره لويه (ګناه) ده له جنګ څخه او همېشه به وي دوی (يعني کافران) چې جنګ به کوي دوی له تاسې سره تر هغه پورې چې بېرته وګرځوي دوی تاسې له دينه ستاسې که ئې لاس ورسيږي (او موقع ومومي) . او هرڅوک چې وګرځي له تاسې له دينه خپله پس مړ شي حال دا چې دی کافر وي نو دغه کسان ضائع شوي دي (تېر) عملونه د دوی په دنيا او آخرت کې ا و دغه کسان صاحبان د اور (د دوزخ) دي هم دوی به په دې (اور) کې تل (همېشه) وي .

د پورتني آيت د نزول واقعه زمونږ په سلسله (د اسلامي تاريخ له پانو څخه) کې تېره شوې وه چې رسول الله ﷺ د هجرت په دوهم کال د رجب په مياشت کې حضرت عبد الله بن جحش د څه کسانو مهاجرينو سره ولېږلو او هغه ته يې يو ليک ورکړو او ورته يې وفرمايل چې تاسې به سفر کوئ او دا ليک به د دوو ورځو سفر کولو نه وروسته پرانيزئ دوی په خوشحالي

د رسول الله ﷺ د امر او حکم په تعميل کې روان شول او دوه ورځې وروسته يې چې د رسول الله ﷺ ليک پرانيستو نو په هغه کې ليکلي وو ((تاسې لاړ

شئ ترڅو د مکې او طائف په مینځ کې د خورما ونې ته ورسېږئ له هغه ځای نه د قریشو حال وګورئ او څه مو چې ولیدل خبر یې مونږ ته راوړئ)) حضرت عبد الله وویل سمعاً و طاعة (خبره مو واورېده او منو یې) بیا یې خپلو ملګرو ته د رسول الله ﷺ د لیک د مضمون په اړه وویل او بیا یې ورته وویل ((د هرچا چې شهادت خوښ وي هغه دې زما سره راشي او د چا چې شهادت خوښ نه وي هغه دې وګرځي د خپلو ملګرو څخه هېڅوک هم ترې پاتې نه شول په دوی کې له دوه ملګرو حضرت سعد بن ابي وقاص او عتبة بن غزوان څخه اوښ ورک شو دوی د هغه په لټون کې مصروف شول حضرت عبد الله بن جحش له خپلو ملګرو سره مخ په وړاندې لاړو ترڅو چې د کجورې د ونې ساحې ته ورسېدل په دوی باندې د قریشو تجارتي قافله راغله حضرت عبد الله بن جحش او ملګرو یې وربانډې حمله وکوله او په هغوی کې مشر کس عمرو بن الحضرمي یې ووژلو او دوه کسان یې له ځان سره اسیران راوستل نو د تجارتي قافلې او دوو بندیانو سره مدینې منورې ته را ستانه شول کله چې رسول الله ﷺ ته وړاندې شول نو رسول الله ﷺ ورته وویل (ما امرتکم بقتال في الشهر الحرام) ما خو تاسې ته د حرام په میاشت (رجب) کې د جنګ امر نه وو کړی بیا رسول الله ﷺ د قافلې او د بندیانو په اړه د څه ډول تصرف کولو څخه منع وکوله نو پدې واقعه کې

حضرت عبد الله بن جحش د دوو خبرو په مینځ کې را ګیر شوی وو یو د مشرکینو سره جنګ کول وو او بل د رجب د میاشتې د حرمت ساتل وو نو ده په خپل اجتهاد باندې د مشرکینو سره جنګ کول غوره کړل دا دده اجتهاد وو نو په پورتني آیت کې دده د اجتهاد تائید وشو چې الله وفرمایل (قل قتال فیه کبیر و صد عن سبیل الله و کفر به و المسجد الحرام و اخراج اهله منه اکبر عند الله) او دا آیت هم په هغه وخت کې نازل شو چې مشرکینو به په هر ځای کې ډنډوره جوړه کړې وه او ویل به یې چې مسلمانانو د رجب د میاشتې حرمت ونه ساتلو او د محرمې میاشتې په حرمت یې پښې کېښودې نو الله ورته وویل چې د مسجد حرام څخه د هغه د اهل (پیغمبر او صحابه کرامو) ویستل د حرمت په میاشت کې له جنګ کولو څخه لویه ګناه ده .

په بل ځای کې الله فرمایي :

اَلشَّهۡرُ الۡحَرَامُ بِالشَّهۡرِ الۡحَرَامِ وَ الۡحُرُمٰتُ قِصَاصٌ ؕ فَمَنِ اعۡتَدٰی عَلَیۡکُمۡ فَاعۡتَدُوۡا عَلَیۡہِ بِمِثۡلِ مَا اعۡتَدٰی عَلَیۡکُمۡ ۪ وَ اتَّقُوا اللّٰہَ وَ اعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰہَ مَعَ الۡمُتَّقِیۡنَ (۱۹۴)[1]

ترجمه : میاشته حرامه په بدل د میاشتې حرامې کې ده او د تعظیمونه (ددې شیانو) سره برابر دي پس هر چا چې تېری وکړ پر تاسې باندې نو تاسې هم تېری کوئ په هغوی باندې په شان د هغه تیري چې ئې کړی وو پر تاسې باندې او و ویرېږئ له الله څخه او پوه شئ چې بېشکه الله له پرهېزګارانو سره دی (په علم او نصرت سره) .

یعني دا د حرمت میاشت یعني ذي قعدة الحرام چې د عمرې د قضاء لپاره پکې درومئ د هغه حرمت میاشتې په ځای ده چې د پروسږ کال تیر شوي کال په ذي قعدة الحرام کې تاسې د کفارو له خوا د عمرې او د بیت الله شریف له زیارت څخه ممنوع شوي وئ ، او پرې ئې نه ښودئ چې مکې معظمې ته لاړ شئ یعني اوس تاسې په ډېره خوښي سره له هغوی څخه خپل بدل واخلئ ځکه چې په ادب او حرمت لرلو کې برابري ده یعني کوم کافر د حرام د میاشتې عزت او حرمت وکړي او پدې مایشت کې له تاسې سره جنګ ونه کړي نو تاسې هم همغسي وکړئ

[1] سورة البقرة آية ١٩٤

او د مکې خلکو چې تېر کال پر تاسې باندې ظلم وکړو نه يې د حرام د مياشتې حرمت وساته او نه يې د بيت الله شريف پت او نه يې ستاسې احرام ته وکتل او نه يې لحاظ وساته او تاسې په هغو ټولو باندې صبر وکاوه نو که دا ځلې هغوی بيا له دې ټولو حرمتونو څخه سترګې پټې کړې او جنګ ته تيار شي نو تاسې هم د هېڅ ډول حرمت لحاظ ونه کړئ لکن هر کار چې کوئ په هغه کې د الله وېره په زړه کې ساتئ او هېڅ داسې کار مه کوئ چې په هغې کې د الله د احکامو مخالفت موجود وي الله د هغه کسانو مرسته کوي چې هغی تقوای لرونکي او نيکان وي .

خو دا چې مسلمانان په کفارو پدې مياشتو کې حمله کوي نو د جمهورو علماوو نظر دا دی هغوی فرمايي چې په اشهر الحرم کې جهاد منع کړل شوي وو دا آيت منسوخ شوی دی د پورته تېر شوي (د سورة توبې د ٣٦ آية) په آخر کې الله فرمايي :

قَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَآفَّةً

ترجمه : او جنګونه کوئ تاسې (ای مؤمنانو) له مشرکانو سره ټول (په هر حال کې) لکه چې جنګونه کوي دوی له تاسې سره .

نو پدې سره مخکې د جنګ د منع حکم نسخ شوی دی او همدارنګه د يوم حنين څخه وروسته رسول الله

❁ طائف محاصره کړو او هغه د ذی القعدې میاشت وه .[1]

په اشهر الحرم کې د دیت مسئله

د امام شافعي او د هغه د مذهب د علماوو له نظره پدې میاشتو کې که قتل وشي نو دیة به یې له هغه قتل نه زیات وي کوم چې په عامو میاشتو کې شو دی دوی وایي چې یو مکمل دیة او بل د دیة دریمه برخه به ورکوي .

امام شافعي فرمایي چې صرف د قتل نه بلکه د اندامونو په دیة کې به هم زیادت راځي او په عامو میاشتو کې چې د جنایت کونکي نه کوم دیت اخستل کیږي پدې میاشتو کې به له هغه څخه زیات وي .

امام ابو حنیفه او متعدد تابعین، امام ابي لیلی، او امام قرطبي فرمایي چې د انسان قتل او یا د هغه کوم اندام تلف کول په نفس ذات کې حرام او ناروا دي که په اشهر الحرم کې وي او که بغیر ددې میاشتو څخه وي نو پدې کې څه فرق نه راځي دا هر وخت حرام دي نو که په اشهر الحرم کې وشي بیا هم هماغه عادي دیت به ورڅخه اخستل کیږي .

---

[1] قرطبي

امام قرطبي ددې لپاره دلیل ذکر کړی دی چې د رسول الله ﷺ څخه په مختلفو ځایونو کې د دیة واقعې را نقل شوي دي او هغه په خپلو فیصلو کې د اشهر الحرم او نورو میاشتو څه فرق نه دی کړی .

خپلې ښځې ته د ور نېږدې کېدلو نه د قسم وخت

که څوک قسم وکوي چې دی خپلې ښځې ته نه ورنېږدې کیږي دې قسم ته ایلاء ویل کیږي تفصیلې مسئلې او بحث یې زمونږ په سلسله (د فقهي کتابونو له پانو څخه) کې تېر شوی دی د ښځو نه د ایلاء د وخت په اړه الله فرمایي :

لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ ۚ فَاِنْ فَآءُوْ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ (٢٢٦) [1]

ترجمه : دي هغه کسانو لره چې قسمونه کوي له (جماع د) ښځو خپلو نه (مطلقاً یا تر څلورو میاشتو پورې) انتظار د څلورو میاشتو نو که بیا رجوع وکړه دوی (او سره یو ځای شول) پس بېشکه چې الله ښه بښونکی (دخطیئاتو) پوره رحم لرونکی دی (د اجر او ثواب په انعام سره)

[1] سورة البقرة آیة ٢٢٦

یعني که څوک قسم وخوري چې زه به خپلې ښځې ته نه نیږدې کیږم بیا که دی د څلورو میاشتو په مینځ کې هغې ته ور نیږدې شو نو د خپل قسم (کفاره) به ورکوي او ښځه به د هغه په نکاح کې پاتې کیږي که څلور میاشتې تیرې شوې او دی هغې ته ور نیږدې نه شو نو د ده ښځه به په (بائن طلاق) سره طلاقه شي .

فائده: په شریعت کې ایلاء دېته وایي چې سړی قسم وخوري چې زه خپلې ښځې ته تر څلورو میاشتو یا له څلورو زیات یا بې د مودې له قیده نه نژدې کیږم (ایلاء) څلورو میاشتو څخه لږه نه کیږي د ایلاء په دې دریو واړو صورتونو کې که نارینه خپلې ښځې ته د دې څلورو میاشتو په مینځ کې ور نږدې کیږي نو (کفاره) پرې اوړي او ښځه یې په نکاح کې پاتې کیږي که نه د څلورو میاشتو په پای کې له ده څخه بې د طلاق د یادولو هغه ښځه په (بائن طلاق) سره جدا کیږي که د څلورو میاشتو څخه یې په لږ وخت قسم وخوړو د مثال په ډول قسم یې وخوړو چې تر دریو میاشتو پورې خپلې ښځې ته نه ور نیږدې کیږي نو دا شرعي (ایلاء) نه ده او حکم یې دادی که هغه قسم یې مات کړو یعني په همدې یاده شوې موده کې ښځې ته ور نیږدې شو نو د قسم کفاره ورباندې لازمیږي او که په خپل قسم باندې ټینګ شو او تر دریو میاشتو پورې ښځې ته ور نیږدې نه شو نو نه ورباندې قسم آوړي او نه ورباندې کفاره لازمیږي.

عدت

عدت د يوې خاصې مودې انتظار دی چې په ښځه باندې لازمیږي د نكاح د زوال نه وروسته ، د شبه د جماع نه وروسته ، د خاوند د مرګ نه وروسته .

كه يو سړي د يوې ښځې سره روا نكاح وكوله او د دخول نه يا د خلوت صحيحه (چې مېړمن او خاوند دواړه په يو ځای كې سره جمع شي او هلته له جماع نه هېڅ ډول مانع موجود نه وي) نه وروسته يې طلاق كړه نو دا به عدت تېروي [1]

كه جماع نه وي شوې او تر جماع وړاندې طلاق واقع شي بيا عدت نشته الله فرمايي :

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا نَكَحۡتُمُ الۡمُؤۡمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقۡتُمُوۡهُنَّ مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ تَمَسُّوۡهُنَّ فَمَا لَكُمۡ عَلَيۡهِنَّ مِنۡ عِدَّةٍ تَعۡتَدُّوۡنَهَا‌ ۚ فَمَتِّعُوۡهُنَّ وَ سَرِّحُوۡهُنَّ سَرَاحًا جَمِيۡلًا (۴۹) [2]

ترجمه : ای مومنانو چې تاسې مومنانې په نكاح كړې او بيا مو د جماع نه وړاندې طلاق وركړو په هغوی باندې د عدت تېرول ضروري نه دي دوی ته متعه وركړئ او په ښه توګه يې رخصت كړئ .

او كه چېرته نكاح فاسده وه او د قاضي په حكم دوی سره جدا كړل شول نو كه د جماع نه وروسته سره بېل كړل شول نو بيا عدت ورباندې لازم دی

1 فتاوی قاضي خان
2 سورة احزاب آية ٤٩

او كه د جماع نه وړاندې سره جدا كړل شول بيا وربانديې عدت نشته.[1]

د عدت وخت

⇦ كله په وضع د حمل سره وي .

هغه مېرمن چې حامله وي نو دهغې عدت هغه وخت ختميږي چې كله يې ماشوم پيدا شي كه زر وو او كه وروسته وو دليل يې لږ وروسته راځي .

⇦ عدت كله په حيضونو سره وي .

هغه اصيله (چې وينزه نه وي) ښځه چې حيض ورته راځي هغه كه طلاقه شوه نو عدت يې درى حيضونه دي كه مسلمانه وي او كه له اهل كتابو څخه وي .

الله پدې اړه فرمايي :

وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلاَثَةَ قُرُوء[2]

ترجمه : هغه ښځې چې طلاقې كړل شي هغوى به انتظار كوي درى حيضونه

عدت كله په مياشتو سره وي

[1] الظهيرية
[2] سورة البقرة آية ٢٢٨

هغه ښځه چې حيض ورته نه راځي يا ماشومه وي او يا ډېره بوډۍ وي نو دهغې عدت درې مياشتې دی او کومې زنانه چې حاملې وي د هغې عدت د حمل وضع کول (د ماشوم پيدا کېدل) دي ا الله پدې اړه فرمايي :

وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ وَأُوْلَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ[1]

ترجمه : هغه زنانه چې اوس د حيض د راتلو څخه نا اميده شوې وي (زړې شوې وي او حيض اوس ورته نه راځي) که ستاسې پکې شک شو نو د هغوی عدت درې مياشتې دی او همدارنګه هغه چې تر اوسه ورته لا حيض نه راځي او هغه چې حاملې وي د هغوی عدت د حمل وضع کول (ماشوم پيدا کېدل دي)

⇦ که چا خپله مېرمن په حيض کې طلاقه کړه دا حيض يې په عدت کې نه شمارل کيږي عدت به يې له بل حيض نه شروع کيږي اوپه مکمله توګه درې حيضونه به تېر شي بيا به ددې عدت پوره شي .

د کونډې د عدت وخت

او هغه ښځه چې خاوند ترينه وفات شي عدت يې څلور مياشتې او لس ورځې دی که جماع ورسره شوې

1 سورة النساء آية ٦٥

وي او که نه که دا ښځه مسلمانه وي او که کتابیة وي چې د مسلمان تر نکاح لاندې وي که دا لویه وي او که ماشومه وي پدې اړه الله ① فرمايي :

وَ الَّذِیۡنَ یُتَوَفَّوۡنَ مِنۡکُمۡ وَ یَذَرُوۡنَ اَزۡوَاجًا یَّتَرَبَّصۡنَ بِاَنۡفُسِہِنَّ اَرۡبَعَۃَ اَشۡہُرٍ وَّ عَشۡرًا ۚ فَاِذَا بَلَغۡنَ اَجَلَہُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَیۡکُمۡ فِیۡمَا فَعَلۡنَ فِیۡۤ اَنۡفُسِہِنَّ بِالۡمَعۡرُوۡفِ ؕ وَ اللّٰہُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِیۡرٌ (۲۳۴)[1]

ترجمه : او هغه کسان چې مړه شي له تاسې نه او پریږدي دوی ښځې انتظار دی کوي دا ښځې (د نکاح کولو څخه) په ځانونو خپلو څلور میاشتې او لس (ورځې) نو کله چې ورسیږي دوی مودې د عدت خپل ته پس نشته هیڅ ګناه پر تاسې باندې په هغه کار کې چې کوي یې دا ښځې په (حق د) نفسونو خپلو کې په ښه توګه (طور) (سم له شرعي اصولو) سره .

یعني هغه ښځه چې خاوند ترینه مړ شي نو د عدت یې څلور میاشتې او لس ورځې دی نو دا ښځه به دا عدت تیږروي پدې موده کې که دا خبره ښکاره شوه چې ښځه حامله ده نو د بل چا سره تر هغه وخته پورې د نکاح تړلو اجازه نشته ترڅو یې چې دا حمل ایښی نه وي او که دا حمل تر څلورو میاشتو څخه زر هم پیدا شي نو د ښځې عدت ورسره ختمیږي او که دا حمل تر آتو یا نهو میاشتو پورې اوږد هم شي نو عدت ورسره اوږدیږي نو دا

[1] سورة البقرة آية ٢٣٤

کونده چې خپل عدت تېر کړي حامله د حمل تر کېښودلو او غیر حامله څلور میاشتې او لس ورځې نو ددینه وروسته بیا ورته اجازه شته چې له چا سره غواړي نکاح وتړي .

عدت د طلاق او د وفات نه وروسته متصل شروع کیږي او که مېرمن په طلاق او وفات نه وه خبره او په همدې بې خبري کې د عدت موده تېره شوه نو عدت تېر شوی دی .[1]

ظهار

ظهار دېته وایي چې څوک د خپلې مېرمن ټول ځان او یا کوم مهم اندام چې کله هغه یاد کړل شي مراد ترینه ټول بدن وي د داسې چا سره مشابه کړي چې هغه دې سړي ته په حرمت ابدي سره حرامه وي که هغه نسبي حرمت وي او یا رضاعي او یا د خسرګنۍ حرمت وي .[2]

د ظهار په عدت کې هم وخت تعین شوی دی

د ظهار د عدت په اړه الله فرمایي :

1 الهدایة
2 فتح القدیر

وَ الَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ؕ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ؕ وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ (٣) فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ۚ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا ؕ ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ ؕ وَ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ (٤)[1]

ترجمه : او هغه کسان چې (مور وائي) ظهار کوي له ښځو خپلو نه بیا را ګرځي دوی (ماتولو د) هغې خبرې ته (چې ویلې ئې وي) نو لازم دی دوی ته ازادول د مریې پخوا د هغه چې یو بل سره مسه کړي (په وطی سره) دغه (حکم په کفارت سره) پند درکاوه شي تاسې ته په دغه (حکم) سره او الله په هغه څه چې کوئ تاسې ښه پوهېدونکی دی (نو جزاء به پرې درکړي) پس هغه چا چې ونه موند (مریی) نو (پرې لازم) روژه نیول دي د دوو میاشتو پرله پسې (چې پکې بې له عذره فصل واقع نشي) پخوا له هغه چې یو بل سره مسه کړي (په وطی سره) ، پس هغه توان نه لري (د روژې نیولو) نو (پرې لازم) طعام (خواړه) ورکول دي شپېتو مسکینانو ته، دغه (تخفیف په کفاره کې) د پاره د دې دی چې ایمان راوړئ تاسې په الله او په رسول د دغه (الله) دا (یاد کړل شوي احکام) حدونه (مقرر

[1] سورة مجادلة آیة ٣ او ٤

شوي) د الله دي او كافرانو ته عذاب دردناك دی
.

د ظهار کفاره

نو چې کله ظهار واقع شي نو بیا د خاوند لپاره دوه لارې دي .

۱. دا ښځه به نوره په ده باندې حرامه وي دی به هغې ته نیزدیکت نشي کولی نو پدې صورت کې صرف همدا خبره ده چې ښځه ورته حرامه شوه نور وربانديې کوم شی واجب نه دي .

۲. دوهم صورت یې دادی چې دی نه غواړي خپله ښځه پریږدي نو چې کله دې خپلې ښځې ته ور نېږدې کېدل غواړي نو د ظهار کفاره به ورکوي او که د کفارې څخه نه وو خبر بیا چا ورته وویل چې اوس خو په تا باندې کفاره واجب ده نو بیا یې عزم وکولو چې نه ور نېږدې کیږم نو بیا هم وربانديې کفاره نشته .

د ظهار کفاره یو غلام ازادول دي که ددې وس نه وي بیا دوه میاشتې مسلسلې روژه نیول او که ددې وس یې نه وي بیا شپېتو مسکینانو ته خوراک ورکول دي او دا هرڅه تر جماع وړاندې لازم دي .

د قتل خطاء په کفاره کې هم وخت دی

وَ مَا كَانَ لِمُؤۡمِنٍ اَنۡ يَّقۡتُلَ مُؤۡمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا ۚ وَ مَنۡ قَتَلَ مُؤۡمِنًا خَطَـًٔا فَتَحۡرِيۡرُ رَقَبَةٍ مُّؤۡمِنَةٍ وَّ دِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهۡلِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ يَّصَّدَّقُوۡا ؕ فَاِنۡ كَانَ مِنۡ قَوۡمٍ عَدُوٍّ لَّكُمۡ وَ هُوَ مُؤۡمِنٌ فَتَحۡرِيۡرُ رَقَبَةٍ مُّؤۡمِنَةٍ ؕ وَ اِنۡ كَانَ مِنۡ قَوۡمٍ بَيۡنَكُمۡ وَ بَيۡنَهُمۡ مِّيۡثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهۡلِهٖ وَ تَحۡرِيۡرُ رَقَبَةٍ مُّؤۡمِنَةٍ ۚ فَمَنۡ لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ شَهۡرَيۡنِ مُتَتَابِعَيۡنِ ۟ تَوۡبَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ عَلِيۡمًا حَكِيۡمًا (٩٢)[1]

ترجمه : او نه ښايي (يا نه دي روا) هېڅ مؤمن ته (يا نه دی د مؤمن کار) دا چه مړ کړي بل مؤمن مګر په خطاء سره (يعني که د مؤمن د لاس نه د مؤمن قتل واقع کيږي هغه به په خطاء سره وي او قصداً به هېڅ مؤمن هم بل مؤمن ونه وژني) او هرڅوک چې مړ کړي کوم مؤمن په خطاء سره نو (شته په قاتل) آزادول د غاړې (د مريې) مؤمن او (بل) ديت دی سپارلی شوی اهل (وارثانو) د مقتول ته مګر دا که معاف کړي دا (وارثان دغه قاتل) پس که وو (دا مقتول) له (هسې) قومه چې دښمن وي تاسې لره حال دا چې دا (مقتول) مؤمن وي نو (شته په قاتل تش) ازادول د غاړې (د مريې) (بې له ديته) او که وو دا مقتول له

1 سورة النساء آية ٩٢

(هسې) قومه چې په مینځ ستاسې او په مینځ د هغه قوم کې عهد وي نو (شته پر قاتل یو) دیت ور سپارلی شوی اهل (وارثانو) د مقتول ته او (بل) ازادول د غاړې (د مریي) مؤمن دی پس هرڅوک چې ونه مومي (مریی یا مال چې پرې مریی واخلي) نو (پرې) روژه نیول د دوو میاشتو دي پر له پسې (بلا انقطاع د پاره د قبلولو د) توبې له (جانبه د) الله او دی الله ښه عالم (په ټولو احوالو) لوی حکمت واله (چې هر کار په حکمت او مصلحت سره کوي) .

په اذکارو او تسبیحاتو کې د وخت یادېدل

د ځینو اذکارو او تسبیحاتو سره هم د ورځې د وخت یادښت شوی دی الله پدې اړه فرمایي :

فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمۡسُونَ وَحِينَ تُصۡبِحُونَ (١٧)[1]

ترجمه : پس (تسبیح ووایئ د الله) تسبیح د الله کله چې داخل شئ په بېګا (ماښام) کې او کله چې ننوځئ په سبا کې .

یعني که جنت غواړئ نو د الله یاد وکوئ په سحر او ماښام یعني د ورځ په شروع او د ورځ په ختم کې .

[1] سورة الروم آیة ١٧

د هغه چا ستاینه شوې چې د وخت ساتنه کوي

الله په قرآن کریم کې د هغه چا ستاینه کوي چې هغوی خپل وخت عبث نه تېروي او هر وخت له خپل وخت نه فایده اخلي او د الله په ذکر او تسبیح کې یې تېروي او په هر حالت کې الله یادوي الله فرمايي :

الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰہَ قِيٰمًا وَّ قُعُوْدًا وَّ عَلٰى جُنُوْبِہِمْ وَ يَتَفَكَّرُوْنَ فِىْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۚ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ ہٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَکَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ (۱۹۱) [1]

ترجمه :دغه (عاقلان) هغه کسان دي چې یادوي الله په ولاړې او په ناستې او په اړخونو خپلو (چې پراته وي) او فکر کوي دوی په پیدائښت د آسمانونو او زمکې (او هغه چې پدې کې دي) (نو وائي) ای ربه زمونږه ! نه دي پیدا کړي تا دا مخلوقات عبث (بې حکمته) نسبت د پاکي دی تا ته (له ټولو عیبونو) نو وساته مونږ له عذابه د اور (د دوزخ نه) .

یعني په هیڅ حال کې د الله د ذکر څخه نه غافل کیږي او د هغه یاد هروخت د دوی په زړه او ژبه

[1] سورة آل عمران آیة ۱۹۱

باندې جاري وي لکه د رسول الله ﷺ په اړه په يوه حديث کې ام المؤمنين حضرت عايشه صديقة فرمايي ((كان يذكر الله على كل احيانه)) يعني رسول الله ﷺ به په هروخت کې د الله ذکر کاوه يعني يو څوک دې په ولاړه مونځ وکوي او که يې نشي کولی نو په ناسته د وکوي او که دا هم نشي کولی نو په ملاسته دې وکوي په ځينې رواياتو کې راغلي چې په کومه شپه دا آيت نازل شو رسول الله ﷺ پدې هر حالت ولاړه، ناسته او ملاسته باندې ډېر زيات د الله په ذکر کې مصروف وو او په هر حالت کې به يې له ذکر سره ژړل.

او دا (عاقلان) بنده ګان د الله په قدرتونو کې او د هغه په نعمتونو کې فکر کوي او بيا وايي دا دومره لوی مخلوقات تا بې فايدې نه دي پيدا کړي دا دومره لوی تخليقات خامخا د کومې لويې نتيجې په انتظار کې دي ګواکي په فکر او تدبر کې ددې ځای نه د دوی ذهنونه د آخرت نتيجې ته پخپله منتقل شي او بيا دا فکر کوي چې ددېنه وروسته د آخرت ژوندون راتلونکی دی چې د دنيا د ژوند آخري نتيجه ده ځکه چې وروسته له دې نه د دوزخ د عذاب څخه د محفوظ پاتې کېدو دعاء هم شوېده او په مينځ کې يې د الله د تسبيح او تنزيه بيان وشو او اشاره ئې وفرمايله چې هر هغه نا پوه او احمق چې د قدرت د هسې صافو او صريحو دلا ئلو او آثارو له ليدلو څخه وروسته

بیا هم الله نه پېژني یا د الله شان وړوکی ګڼي یا د عالم دا کار خانه چټي او بېکاره ګڼي او دا یو ډول لوبې بولي او یا یې د طبیعت محصول بولي او هسې طبیعي اتفاق ورته وایي نو هغوی د پدې پوه شي چې الله لدې فضول هزلیاتو او خرافاتو څخه پاک او منزه دی او دا زمکه او اسمانونه د حکمتونو څخه ډک دي بې فایدې او چټي نه دي پیدا شوي .

د بې فایدې وخت نه تېرولو حکم

الله انسانانو ته دا خبره کوي چې دوی باید وخت بې ځایه تېر نه کړي او الله انسانانو ته فرمایي چې تاسې دا فکر کوئ چې مونږ تاسې هسې عبث پیدا کړي یئ ؟ الله فرمایي :

اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّ اَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ (١١٥)[1]

ترجمه : آیا پس ګمان کوئ تاسې داسې چې بېشکه خبره داده چې پیدا کړي مو یئ تاسې عبث (د لوبو د پاره) او (داسې ګمان کوئ چې) بېشکه تاسې مونږ ته نه راوستلی کېږئ (حساب او کتاب ته) .

یعني داسې بالکل نه ده بلکه تاسې عبادت ته پیدا شوي یاست او الله ته رجوع کونکي یاست د

---

[1] سورة المؤمنون آیة ١١٥

حساب او مجازاتو د پاره یعني په دنیا کې د نیکي او بدي پوره نتیجه نه در رسیږي که په دې ژوندون پسې بل ژوندون نه وي نو ګویا دغه ګرده (ټوله) کارخانه به محض یوه لوبه او تماشا او بیخي یوه بې نتیجې شی وي حال دا چې د الله ذات لدې نه ډېر اعلی او ارفع دی چې د هغه په نسبت داسې خیال وکول شي .

بې فایدې وخت تېرونکي به پښېمانه وي

الله په قرآن کریم کې د هغه کسانو په اړه فرمایي چې خپل قیمتي وخت بې ځایه تېروي چې دوی به بیا پښېمانه وي لکن وخت به تېر وي پدې اړه الله فرمایي :

وَ لَوۡ تَرٰۤی اِذِ الۡمُجۡرِمُوۡنَ نَاکِسُوۡا رُءُوۡسِہِمۡ عِنۡدَ رَبِّہِمۡ ؕ رَبَّنَاۤ اَبۡصَرۡنَا وَ سَمِعۡنَا فَارۡجِعۡنَا نَعۡمَلۡ صَالِحًا اِنَّا مُوۡقِنُوۡنَ (۱۲)

ترجمه : او که ووینې ته (ای محمده) کله چې دغه کافران شکته اچوونکي به وي د سرونو خپلو په نزد د رب خپل (په ورځ د قیامت کې له ذلت ندامت او خجالت نه او وائي به) ای ربه زمونږ ولیده مونږ او واوریده مونږ (وعده ستا او تصدیق د رسولانو) پس بېرته بوزه مونږ (دنیا ته له پاره ددې) چې وکړو ښه عمل بېشکه چې مونږ یقین کوونکي یو (نو وبه وینې ته یو سخت

بد کار او دغه وینا به دوی ته له سره څه ګټه (فایده) نه رسوي.

یعني کفار کله چې د قیامت سختی او هرڅه ووینې نو بیا به وایي چې اوس زمونږ سترګې خلاصې شوې د رسول الله ﷺ په هغه خبرو چې مونږ ته به یې کولې زمونږ اوس یقین راغلو او دا ټول شیان مو په خپلو سترګو ولیدل او پدې پوه شوو چې یوازې ایمان او نېک عمل د الله په نزد منظور او د قبول وړ دی او په کار راځي اوس مو یو ځلې بیا دنیا ته ولېږه او ومو ګوره چې مونږ څرنګه ښه عملونه کوو.

پدې آیت کې الله د مشرکینو او نورو کفارو د خجالت او شرم نه ډک حالت ښکاره کوي چې کله له مرګ نه وروسته را پورته کړل شي نو د شرم او خجالت نه به یې خپل سرونه ښکته اچولي وي پورته به نه ګوري او وایي به چې مونږ ته یو ځل بیا وخت راکړه مونږ په نېک عمل وکوو.

په بل ځای کې الله دوی ته ځواب ورکوي او ورته فرمایي چې ددې ځای نه ګرځېدل نشته دلته چې یو ځل څوک له څه ډول عمل سره راشي د هماغه عمل بدله به دلته څکي که هغه ښه وي او که بده وي ځکه دوی ته وخت ورکړل شوی وو او ټول هغه کسان چې دلته پښېمان دي دوی هغه کسان دي چې په دنیا کې یې د خپل وخت نه سمه استفاده نه ده کړې داسې خو فرعون هم کله چې پوه شو چې

غرقيږي نو توبې ته يې غاړه کېښوده کله يې چې عذاب وليدو نو ايمان ته تيار شو لکن هغه وخت تېر شوی وو ډېره ناوخته وه .

ددې حالت تعبير قرآن کريم په بل ځای کې په بل ډول سره کوي هلته الله فرمايي :

اَوۡ تَقُوۡلَ حِيۡنَ تَرَى الۡعَذَابَ لَوۡ اَنَّ لِىۡ كَرَّةً فَاَكُوۡنَ مِنَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ (٥٨) [1]

ترجمه : يا (پخوا له دې نه) چې ووايي (نفس) په هغه وخت کې چې ويني عذاب کاشکي وی ماته بيا بېرته ورتګ (دنيا ته) پس وم به زه هلته له نېکو کارانو (موحدانو هم په عقائدو هم په اعمالو کې) .

کله چې خفګان او عذرونه ويل بېکاره شي او انسان د دوزخ له عذاب سره مخامخ شي نو په دغه وخت کې به د سخت خفګان او وارخطايي په حالت کې داسې وايي او په منتونو او زاريو سره به غواړي چې ای الله په هر شکل چې کېدای شي يو ځل بيا ما دنيا ته ولېږه د توبې او اطاعت وخت راکړه زه به ډېر نېک شم او هېڅ ډول ګناه به بيا نه کوم .

[1] سورة الزمر آية ٥٨

لکن پدې آيت پسې په بل آيت کې الله فرمايي :

بَلٰى قَدۡ جَآءَتۡكَ اٰيٰتِىۡ فَكَذَّبۡتَ بِهَا وَ اسۡتَكۡبَرۡتَ وَ كُنۡتَ مِنَ الۡكٰفِرِيۡنَ (۵۹)

ترجمه : هو همداسې ده چې په تحقيق راغلي وو تاته دلائل (قرآن) زما پس تکذيب کړی وو تا په هغو سره او تکبر دی کړی وو او وی ته له کافرانو څخه (له هغه کسانو څخه چې هغوی منونکي ددې دليلونو نه وو).

يعني کافران چې لدې هرڅه نه وروسته بېرته دنيا د ستنېدلو تمه او سوال کوي دا دوی غلط کوي آيا الله تعالی ورته سمه صافه لاره نه وه ور ښودلې؟ او خپل انبياء يې سره له معجزاتو او احکامو نه وو ور لېږلي؟ مګر د هغوی خبرې دوی ونه منلې او کومې خبرې به يې چې هغوی ته کولې دوی به وربانديې کبر کاوه او د هغوی دا کبر د دوی او د دوی د ايمان په مينځ کې مانع واقع شوی وو او هغه وخت چې دوی ته ورکړل شوی وو هغه دوی ضائع کړو اوس بيا دوهم ځل وخت ورکول نشته .

په همدې ډول الله په بل ځای کې فرمايي :

حَتّٰى اِذَا جَآءَ اَحَدَہُمُ الۡمَوۡتُ قَالَ رَبِّ ارۡجِعُوۡنِ ﴿٩٩﴾ لَعَلِّیۡۤ اَعۡمَلُ صَالِحًا فِیۡمَا تَرَکۡتُ کَلَّا ؕ اِنَّہَا کَلِمَۃٌ ہُوَ قَآئِلُہَا ؕ وَ مِنۡ وَّرَآئِہِمۡ بَرۡزَخٌ اِلٰی یَوۡمِ یُبۡعَثُوۡنَ ﴿١٠٠﴾ [1]

ترجمه : تر هغه پورې کله چې راشي يو د دوی ته (اسباب د) مرګ نو وبه وايي ای ربه زما بېرته وګرځوه ما (دنيا ته) ښايي چې زه عمل وکړم نېک په هغه ځيز کې چې بېرته پرېښي دي ما (په دنيا کې نو فرمايي الله چه) نه دی داسې (چه ته بېرته دنيا ته وګرځېدی شې ايمان او صالح عمل ته) بېشکه دغه د رجعت خبره داسې چټي (بېکاره) خبره ده چې دی ويونکی د هغې دی او په مخ کې د دوی د برزخ (پرده د قبر ده چه ئې نه پرېږدي رجوع ته) تر هغې ورځې پورې چه بيا ژوندي را پاڅولی کيږي.

وخت د الله د قدرت له نښو څخه دی

الله په قرآن کريم کې بيا بيا فرمايي چې دا وخت د الله له نښو د قدرت څخه دی او پدې کې د الله د قدرت له ورايه ښکاره کېدونکې نښې دي او

[1] سورة المؤمنون آية ٩٩ او ١٠٠

دا دورځې او شپې اختلاف او کله اوږدېدل او کله لنډېدل کله ګرمېدل او کله یخېدل تیاره کېدل او رڼا کېدل دا هرڅه له حکمتونو څخه ډک دي او دا ټول په خپله او یا د طبیعت له مخې نه بلکه د الله په حکم سره کیږي الله فرمایي :

إِنَّ فِى خَلۡقِ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ وَ اخۡتِلَافِ الَّيۡلِ وَ النَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِى الۡاَلۡبَابِ (١٩٠)[1]

ترجمه : بېشکه په پیدا کولو د اسمانونو او زمکې کې (سره له هغو شیانو چې په دوی کې دي) او په اختلاف د شپې او ورځې کې (چې تل اوږدیږي لنډیږي پر له پسې ځي او را ځي کله رڼا او کله تیاره کیږي کله یخې او کله تودیږي هرو مرو (خامخا) دلائل دي (د الله د قدرت) لپاره د خاوندانو د (خالصو) عقلونو .

یعني کله چې هوښیار انسان د آسمان او د زمکې په پیدائښت او د هغوی په عجیبو او غریبو احوالو او روابطو ا و د شپې او ورځې په مضبوط او محکم نظام کې غور کوي نو یقین کوي چې دغه مرتبه او منظمه سلسله هرو مرو (خامخا) د یو کل مختیار مطلق قادر او د لوی خالق د حکم او علم او قدرت په لاسکې ده چې په خپل عظیم قدرت او اختیار سره ئې د هر وړوکي او لوی مخلوق حد بندي کړې ده او هېڅ یو شی ته ددې خبرې مجال

1 سورة آل عمران آیة ١٩٠

نشته چې د خپل حد او عمل له دائرې ځينې د باندې پښه کيږدي که ددې عظيم الشان مشين يوه پرزه يا د دې لويې کارخانې يو مزدور هم د هغه على الاطلاق مالک له قدرت واک (قبضه) او اختيار ځنې د باندې وى نو د ټول عالم دا مکمل او محکم نظام به له سره ټينګ نه پاتې کېدى (لنډه دا چې ددې دنيا په ګردو موجوداتو کې د هغه الله

په وجود څو څو قسمه دلائل دي او پدې چې الله بلا شک او شبهې نه صانع، حکيم، عليم، احد، صمد، قديم، رحيم ، قادر او قاهر دى جل جلاله) .

په بل ځاى کې الله فرمايي :

اِنَّ فِى اخۡتِلَافِ الَّيۡلِ وَ النَّهَارِ وَ مَا خَلَقَ اللّٰہُ فِى السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَّتَّقُوۡنَ (۶) [1]

ترجمه : بېشکه په اختلا ف د شپې او ورځې کې (چې تل اوږديږي او لنډيږي او يوه په بلې پسې راځي يخې او ګرميږي او په هغو څيزونو کې چې پيدا کړي دي الله په اسمانونو کې او زمکه کې خامخا دلائل دي (د قدرت) د پاره د قوم چې ويريږي (له رحمانه او ځان ساتي له عصيانه) .

بېشکه د دنيا په هر وړوکي او لوى شي کې د الله د وجود او وحدانيت دليل موجود دى لکه يو عرب

1 سورة يونس آية ٦

شاعر چې فرمایي (و في کل شئ له آیة .... تدل علی انه واحد) یعني په هر شي کې داسې دلیل موجود دی چې هغه دا ښکاره کوي چې الله واحد دی .

په بل ځای کې الله فرمایي :

وَ ہُوَ الَّذِیۡ یُحۡیٖ وَ یُمِیۡتُ وَ لَہُ اخۡتِلَافُ الَّیۡلِ وَ النَّہَارِ ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ (۸۰)[1]

ترجمه : او دغه الله هغه ذات دی چې ژوندي کوي او وژل کوي او خاص د هم ده کار دی اختلاف بدلون د شپې او د ورځې نو آیا پس تاسې عقل نه چلوئ او عبرت نه اخلئ.

یعني د هغه الله لوی ذات په قدرت او قبضه کې چې د ژوندیو وژل او مړیو بیا را ژوندي کول یا له تیارو څخه رڼا ایستل یا په رڼا کې د تیارو ننه ایستل دي او د شپې او د ورځې سره اختلاف چې کله ئې اوږدوي او کله ئې لنډوي کله ئې یخوي او کله ئې تودوي) نو ددې لوی قدرت په مقابل کې دغه څه سختي او اشکال لري چې تاسې بیا را ژوندي کړي او د سترګو څخه مو دا د جهل پردې لرې کړي او هرڅه په حقیقي شکل کې درته ښکاره کړي (لکه د قیامت په ورځ به چې همداسې کیږي) .

[1] سورة المؤمنون آیة ۸۰

په بل ځای کې الله فرمایي :

يُقَلِّبُ اللّٰہُ الَّيۡلَ وَ النَّہَارَ ؕ اِنَّ فِیۡ ذٰلِکَ لَعِبۡرَۃً لِّاُولِی الۡاَبۡصَارِ ﴿۴۴﴾[1]

ترجمه : ګرځوي الله شپه او ورځ (په تبدیل، تزئید ، تنقیص ، حرارت او برودت ضیاء او ظلمت او نورو تغیراتو سره) بېشکه په دغو (مذکوره وو شیانو) کې خامخا عبرت دی خاوندانو د سترګو او بصیرت ته .

یعني د ورځې څخه وروسته شپه او د شپې څخه وروسته ورځ د همدغه پاک الله په قدرت ځي را ځي هم دغه الله کله ورځې او کله شپې اوږدوي او لنډوي او د هغوی تودوالی په یخوالي او یخوالی په تودوالي سره تبدیلوي نو په کار ده چې د قدرت د داسې عظیم الشان دلائلو او شواهدو د لیدلو څخه انسان بصیرت او عبرت حاصل کړي او د هغه حقیقي مالک الملکوت په طرف د زړه په صدق سره روجوع وکړي چې د ده په قدرت کې د دغو ګردو (ټولو) تقلباتو او تصرفاتو زمام او واګې دي .

په بل ځای کې الله فرمایي :

[1] سورة النور آیة ٤٤

وَ ہُوَ الَّذِیۡ جَعَلَ الَّیۡلَ وَ النَّہَارَ خِلۡفَۃً لِّمَنۡ اَرَادَ اَنۡ یَّذَّکَّرَ اَوۡ اَرَادَ شُکُوۡرًا (۶۲) [1]

ترجمه : او هم دا الله هغه ذات دى چې ګرځولې يې ده شپه او ورځ (سره مخالف يا خليفه يو د بل) پر له پسې د پاره د هغه چا چه اراده لري ددې چې ياد کړي (نعمتونه د رب ستا او فکر وکړي په مصنوعاتو د الله کې) يا اراده لري د شکر ايستلو.

يعني د شپې او ورځې په اوږديدلو او لنډيدلو کې د هغه چا لپاره پند دى چې هغوى پند اخيستونکي وي.

د خلفة مطلب يا دادى چې دواړه يو د بل خليفه دي چې يو لاړ شي بل راځي او که په يوه کې کوم کار پاتې وي په بل کې به ختم شي .

[1] سورة الفرقان آية ٦٢

په بل ځاى کې الله فرمايي :

وَ جَعَلۡنَا الَّيۡلَ وَ النَّهَارَ اٰيَتَيۡنِ فَمَحَوۡنَاۤ اٰيَةَ الَّيۡلِ وَ جَعَلۡنَاۤ اٰيَةَ النَّهَارِ مُبۡصِرَةً لِّتَبۡتَغُوۡا فَضۡلًا مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَ لِتَعۡلَمُوۡا عَدَدَ السِّنِيۡنَ وَ الۡحِسَابَ ؕ وَ كُلَّ شَىۡءٍ فَصَّلۡنٰهُ تَفۡصِيۡلًا (١٢) [1]

ترجمه : او ګرځولې ده مونږ شپه او ورځ دوه دليله (د کامل قدرت خپل) نو محوه کړه مونږ علامه د شپې او وګرځوله مونږ علامه د ورځې روښانه (چه هرشى پکې ليدل کيږي) لپاره ددې چې طلب کړئ تاسې (په رڼا د ورځ کې) فضل له رب خپل او (د پاره ددې) چه معلوم کړئ و پوهېږئ تاسې (په دغه اختلاف ددې شپو او ورځو کې) شمار د کلونو او حساب د اوقاتو او هرڅيز (چې تاسې ورته اړ (مجبور) يئ) بيان کړي دي مونږ هغه په بيانولو واضح سره.

په پورتني آيت کې الله د وخت بدلون او د شپې او ورځې يو په بل باندې آوښتل د خپل قدرت له نښو څخه شمار کړي دي ددې آيت په تفسير کې علماء ليکي :

د شپې تياره ، د ورځې رڼا ددې دواړو څخه کله د يوه لوئېدل او کله د بل بيا د شپې له مخې د مياشتې ورو ورو لوئېدل او د سپوږمي ورو ورو وړېدل د سپوږمي تته او يخه رڼا او د لمر

[1] سورة الاسراء (بني اسرائيل) آية ١٢

تيزې او تودې پلوشې .. دا ټول د الله قدوس د كامله قدرت نمونې دي چې د دوی ځنې د هر يوه نظام عليحده او مستقل دی او له هر يو سره په زر هاوو فايدې او مصلحتونه تړلي دي او ددې ټولو مجموعي نظام سره بېل دی چې له اول شروع څخه تر دې وخته پورې او تر هغه وخته پورې چې ترڅو د الله اراده وي د نهايتو كلكو او محكمو قوانينو لاندې دور او حركت كوي او د همدې دور او حركت نه زمونږ ستاسې وخت را پيدا كيږي او همدا وخت د انسان مهلت او عمر دی چې تر معلومه وخته پورې الله ورته ليكلی وي چې كله هغه پوره شي نو د انسان د ژوند موده پای ته ورسيږي .

امام ابن كثير ددې آيت په تفسير كې ليكلي دي :

الله په بندګانو باندې د بې شمېره نعمتونو انعام كړی دی يو له هغو څخه د شپې او ورځې بدلون دی ترڅو خلک د شپې آرام وكوي او د ورځې په كارونو ، عملونو او سفرونو كې بوخت شي او د همدې بدلون نه د ورځو شمار او د مياشتو بېلتون او كلونو باندې پوه شي او د همدې بدلون په مرسته د خپلو راكړې وركړې، قرضونو او نورو معاملاتو اجارو او عبادتونه وختونه معلوم كړي .

په بل ځای کې الله فرمايي :

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِضِيَآءٍ ؕ اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ (٧١) قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ تَسْكُنُوْنَ فِيْهِ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ (٧٢) وَ مِنْ رَّحْمَتِهٖ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ وَ النَّهَارَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَ لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ (٧٣)[1]

ترجمه : ووايه (ای محمده دوی ته) آيا وينئ (يعني څرنګه در ښکاره کيږي) که چېرته وګرځوي الله پر تاسې دغه شپه اوږده همېشه تر ورځې د قيامت پورې نو څوک دی هغه (معبود) بې له الله چې راوړي تاسې ته رڼا (چې پکې طلب د معاش کوئ) آيا پس نه آورئ تاسې (دغه خبره د زړه په غوږو سره؟) ووايه (ای محمده! دوی ته) آيا وينئ تاسې (يعني څنګه درته ښکاره کيږي) که چېرته وګرځوي ورځ په تاسې باندې اوږده همېشه تر ورځې د قيامت پورې چې هېڅ غروب الشمس به نه کيږي نو څوک دی (معبود) بې له الله چې راوړي تاسې ته شپه چه آرام درکړي تاسې ته په هغه کې آيا پس نه وينئ تاسې (دا آثار د قدرت) او (خاص) له رحمته مهرباني خپلې پيدا کړې ده

[1] سورة القصص آية ٧١ تر ٧٣

(الله) تاسې ته شپه او ورځ د پاره د دې چې آرام وکړئ تاسې په هغه (شپه) کې او چې ولټوي تاسې په دغه ورځ کې له فضله د دغه (الله) او د پاره د دې چې شکر وکړئ تاسې (د نعمتونو د الله) .

یعني الله هغه یوازینی ذات دی چې د شپې او ورځې په مینځ کې اړول او را اړول کوي کله په تاسې باندې رڼا راولي چې تاسې پکې د خپل رزق طلب او خپل کارونه وکوئ او بیا په تاسې باندې شپه راولي ترڅو تاسې پکې آرام وکوي چې هغه هم ستاسې د بدن ضرورت دی .

په بل ځای کې الله فرمایي :

وَ مِنۡ اٰیٰتِہٖ مَنَامُکُمۡ بِالَّیۡلِ وَ النَّہَارِ وَ ابۡتِغَآؤُکُمۡ مِّنۡ فَضۡلِہٖ ؕ اِنَّ فِیۡ ذٰلِکَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوۡمٍ یَّسۡمَعُوۡنَ (٢٣)[1]

ترجمه :او ځیني له نښو (د کامل قدرت) د دغه (الله) خوب ستاسې دی په شپه کې او د طلب ستاسې دی (په ورځ کې) له فضله د الله بېشکه په دې (خوب او معیشت) کې خامخا ډېرې نښې (د قدرت) دی د پاره (دهغه) قوم چې آوري .

حضرت شاه ولی الله صاحب لیکي چې د انسان دوه حالتونه سره بدلیږي که ویده شي نو د تیرې

---

[1] سورة الروم آیة ٢٣

(کانې) په شان بې هوښه او بې خبره پروت وي او که د رزق او روزي په تلاش لګیا شي نو په داسې پوهه او هوښیاري لګیا کیږي چې د ده په شان بل هېڅوک هوښیار نه لیدل کیږي په اصل کې شپه د خوب د پاره ده او ورځ د روزي د تلاش لپاره مخصوصه ده نو ځکه په همدغو دواړو وختونو کې همدغه دواړه کارونه اداء کیږي .

په بل ځای کې الله فرمايي :

يُوْلِجُ الَّيْلَ فِى النَّهَارِ وَ يُوْلِجُ النَّهَارَ فِى الَّيْلِ ۙ وَ سَخَّرَ الشَّمْسَ وَ الْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَّجْرِىْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ وَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ ﴿۱۳﴾ [1]

ترجمه : ننباسي (الله) شپه په ورځ کې او ننباسي (الله) ورځ په شپه کې او مسخر په کار کې ئې لګولي دي لمر او سپوږمی چې هر يو بهيږي (روان دي) تر يوې نيټې په نامه کړی شوي (چې ورځ د قيامت ده) دغه (ذات موصوف په پاس صفاتو) الله دی رب ستاسې خاص هم ده ته دی ملک او بادشاهي او هغه (بتان) چې بولی ئې تاسې (ای مشرکانو او عبادت ئې کوی) بې له دغه (الله) نه دی مالکان دوی د نری پردې (چې په زړی) د خرماوو (کې پرته وي) .

[1] سورة فاطر آية ۱۳

په بل ځای کې الله فرمایي :

اَللّٰہُ الَّذِیۡ جَعَلَ لَکُمُ الَّیۡلَ لِتَسۡکُنُوۡا فِیۡہِ وَ النَّہَارَ مُبۡصِرًا ؕ اِنَّ اللّٰہَ لَذُوۡ فَضۡلٍ عَلَی النَّاسِ وَ لٰکِنَّ اَکۡثَرَ النَّاسِ لَا یَشۡکُرُوۡنَ (۶۱) [1]

ترجمه : الله هغه (ذات) دی چې ګرځولی ئې ده تاسې ته شپه لپاره د دې چې آرام وکړئ تاسې په هغې کې او (ګرځولې ئې ده) ورځ لیدلو ته بېشکه الله خامخا څېښتن (خاوند) د فضل دی پر انسانانو و لیکن زیاتری د انسانانو شکر نه وباسي (په دغو نعمتونو د الله) .

یعني د شپې په یخه هوا او ارامه فضاء کې ټول خلق استراحت او ارام خوب کوي او هرکله چې ورځ شي نو په نوي نشاط او تازه قوت سره پاڅیږي او د لمر په رڼا کې پخپلو کارونو او روزګارونو کې بوخت (مشغول) او لګیا کیږي په دغه وخت کې د تګ را تګ لیدل کار کول او د نورو اعمالو د پاره د مصنوعي رڼا بیخي ضرورت نه وي ددې ټولو نعمتونو سره چې الله په انسان باندې کړي دي الله په خلکو باندې د فضل خاوند دی لکن اکثر خلک شکر نه وباسي .

په بل ځای کې الله فرمایي :

[1] سورة المؤمنون (غافر) آیة ٦١

وَ سَخَّرَ لَكُمُ الشَّمۡسَ وَ الۡقَمَرَ دَآئِبَيۡنِ ۚ وَ سَخَّرَ لَكُمُ الَّيۡلَ وَ النَّهَارَ ﴿۳۳﴾[1]

ترجمه : او الله مسخر کړي دي ستاسې د منافعو لپاره لمر او سپوږمۍ په دې حال چې ګرځېدونکي دي سم له دستور سره برابر او په کار کې يې لګولي دي تاسې ته شپه او ورځ .

پدې آيت کې الله انسانانو ته يو بل لوی نعمت يادوي چې د هغوی لپاره يې مسخر کړي (په کار لګولي) لمر او سپوږمۍ پداسې حال کې چې يو له بل څخه نه بېلېږي او په يو بل پسې راځي کله يو راشي بل پټ شي او کله بل را ښکاره شي هغه بل پټ شي او د همدې تبديل سره ورځ او شپه بدلېږي او کله دا يو ډېر وخت تير کړي نو ورځ اوږده شي او کله دا بل ډېر وخت تېر کړي نو شپه اوږده شي پدې هرڅه کې د الله حکمتونه خوندي دي .

---

[1] سورة ابراهيم آية ۳۳

په بل ځای کې الله فرمایي :

وَ سَخَّرَ لَكُمُ الَّيۡلَ وَ النَّهَارَ ۙ وَ الشَّمۡسَ وَ الۡقَمَرَ ؕ وَ النُّجُوۡمُ مُسَخَّرٰتٌۢ بِاَمۡرِهٖ ؕ اِنَّ فِیۡ ذٰلِکَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوۡمٍ یَّعۡقِلُوۡنَ ﴿ۙ۱۲﴾[1]

ترجمه : او مسخره کړې یې ده (په کار یې لګولې ده) تاسې ته شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ او ستوري مسخر (په کار لګول شوي) دي په حکم او امر د الله سره بېشکه پدې تصرفاتو کې خامخا ډېر دلائل (د قدرت) دي د پاره د (هغه) قوم چې عقل چلوي (پکې) .

شپه او ورځ برابر یو له بل سره نښتي دي ترڅو دنیوي کار بار وچلیږي او خلق سکون او آرام ترې حاصل کړلی شي همداسې لمر او سپوږمۍ هم تر یو خاص نظام او سیستم لاندې را ښکاره کیږي او پټیږي د شپې او د ورځې د دغه تګ او راتګ او د شمس او قمر د دغه ختلو او پرېوتلو سره د انسانانو بېشماره فائدې تړلې دي بلکه که په غور سره ولیدل شي نو بې له دغو څخه د انسان ژوند محال دی الله پخپل کامل قدرت سره لمر سپوږمۍ او نور ستوري یې زمونږ په خدمت کې زمونږ د فایدې لپاره لګولي دي چې په هغوی کې د لمر او سپوږمۍ د را ښکاره کېدلو او پټېدلو څخه شپه او ورځ او زمونږ وخت را پیدا کیږي .

1 سورة النحل آیة ۱۲

د وخت په ساتلو تنبیه

په قرآن کریم کې په مختلفو ځایونو کې انسان ته لارښونه شویده چې هغه د د خپل وخت ساتنه وکوي او خپل وخت د بې ځایه مصرف نه کړي او وخت ته دې په دې نظر وګوري چې یو داسې نعمت دی چې دزوال نه وروسته یې انسان ته بیا ډېر ارمان ورځي لکن چې انسان هرڅه وکوي تېر وخت بیا نشي را ګرځولی په همدې ډول په قرآن کریم کې په مختلفو آیتونو کې انسان ته د وخت په اړه او د وخت په ارتباط د هغه مسئولیتونه ور ښکاره کوي او خپلو مسئولیتونو ته یې متوجه کوي او انسان ته بیا بیا ور په زړه کوي چې داسې وخت به هرو مرو راشي چې انسان به د الله په وړاندې ولاړ وي او ددې لوی نعمت په اړه به ورسره حساب کیږي په همدې ډول په مختلفو آیتونو کې الله انسان ته فرمایي چې دا وخت او دا عمر د تاسې په تکبر کې وانه اچوي د آخرت د اوږده عمر په مناسبت دا ټول عمر ډېر لنډ دی او چې ددې عمر مقایسه د آخرت سره وکول شي نو دا لکه یوه لحظه داسې دی لکه چې الله فرمایي :

وَ يَوۡمَ يَحۡشُرُہُمۡ كَاَنۡ لَّمۡ يَلۡبَثُوۡۤا اِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّہَارِ يَتَعَارَفُوۡنَ بَيۡنَہُمۡ ؕ قَدۡ خَسِرَ الَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِلِقَآءِ اللّٰہِ وَ مَا كَانُوۡا مُہۡتَدِيۡنَ (۴۵)[1]

ترجمه : او هغه ورځ چې (پس له مرګه الله) را ټول کړي کفار حال دا لکه چې مدار نه وو کړی دوی (په دنیا یا په قبر کې) مګر په قدر د یوه ساعت له ورځې پېژني به دوی یو تر بله پخپلو مینځونو کې (په دغې ورځې کې) په تحقیق زیانمن شوي دي هغه کسان چې تکذیب یې کړی دی د ملاقات د الله او نه وو دوی سمه صافه لاره موندونکي .

یعني د محشر د هولناکو اهوالو او حوادثو د لیدلو څخه د ګرد (ټول) عمر عیش عشرت ، آرامتیا او هوسایي دومره حقیره او قلیله په نظر ورځي چې ګواکې په دنیا کې ئې د یوه ساعت څخه زیاته هستوګنه نه وه کړې او افسوس به کوي چې ګرد عمر یې څومره بې فایدې او بې کاره تېر شوی دی لکه چې یو سړی یو ساعت یا دوه ساعته هم داسې په چټي (بېکاره) او چپو خبرو اترو کې تېروي او هم د هغه ځای د زړه چاودونکو مصائبو د لیدلو څخه داسې خیال کوي چې ګواکې په دنیا کې دومره زیات نه دی پاتې شوی او دغه ویروونکي وخت یو نا څاپه را رسېدلی دی هلته تش یو ساعت یا دوه ساعته پاتې شوی یم او په

---

[1] سورة یونس آیة ٤٥

دغو تکلیفونو کې اخته شوی یم کاشکي د هغه ځای د قیام مدت مې لږ څه ډېر وی او دغې بدې ورځې ته دغسې ژر نه وی را رسېدلی ځینې مفسرین وایي چې د برزخ (قبر) هستېدلو مدت به ورته لکه یو ساعت ښکاره کیږي .

په بل ځای کې الله فرمایي :

يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِ وَ تَظُنُّونَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيلًا (٥٢)[1]

ترجمه : په هغه ورځ چې وبولي الله تاسې حساب ته نو قبول به کړئ (بلنه د ده په فعلي قبول سره) په دې حال کې چې ثناء ویونکي به یئ الله ته او ګمان به کوئ (له ډېره هیبته) چې ځنډ (تاخیر) نه دی کړی تاسې مګر لږ شانی (په دنیا یا په قبر کې) .

یعني څه وخت چې د الله له طرفه غږ را پورته شي نو په یوه زوروره بلنه او چغه سره به ټول مړي له زمکې څخه را وزي او د حشر میدان کې به سره را ټولیږي هېڅوک به د غاړې غړولو توان ونه لري هر انسان به په دغه وخت کې مطیع او منقاد کیږي او د الله حمد او ثناء به وایي او په تلوار سره به حاضریږي اګر که کفارو ته له دغه اضطراري حمد او ثناء څخه کومه فایده نه ور رسیږي په ځینو روایاتو کې راغلي دي چې د

1 سورة بني اسرائیل (الاسراء) آیة ٥٢

مؤمنينو پر ژبو به دغه الفاظ وي (الحمد لله ا
لذي اذهب عنا الحزن) .

او که تاسې اوس په ژوند کې دا عمر ته په غټه
سترګه ګورئ بيا به فکر کوئ چې تاسې په دنيا
کې ځنډ او تاخير نه دی کړی دغه پنځوس يا
شپېته او ياسل کاله عمر به د هغه زرګونو
کلونو په مقابل کې درته هېڅ معلوميږي .

په بل ځای کې الله فرمايي:

قٰلَ كَمۡ لَبِثۡتُمۡ فِى الۡاَرۡضِ عَدَدَ سِنِيۡنَ (١١٢) قَالُوۡا لَبِثۡنَا يَوۡمًا اَوۡ بَعۡضَ
يَوۡمٍ فَسۡـَٔلِ الۡعَآدِّيۡنَ (١١٣) قٰلَ اِنۡ لَّبِثۡتُمۡ اِلَّا قَلِيۡلًا لَّوۡ اَنَّكُمۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ
(١١٤) اَفَحَسِبۡتُمۡ اَنَّمَا خَلَقۡنٰكُمۡ عَبَثًا وَّ اَنَّكُمۡ اِلَيۡنَا لَا تُرۡجَعُوۡنَ (١١٥)[1]

ترجمه : و به فرمايي څومره ځنډ مو تېر کړی دی
تاسې په زمکه کې په شمار د کلونو؟ نو وبه
وايي (کفار) ځنډ (ايسارتيا) مو کړی ده يوه
ورځ يا يوه برخه د ورځې نو ته (پخپله) پوښتنه
وکړه له حسابګرو څخه و به فرمايي چې نه دی
ځنډ (تاخير) کړی تاسې (په دنيا کې) مګر لږ
مدت (په نسبت د عذاب د آخرت که چېرې بېشکه
تاسې يئ چه پوهېږئ (چه ژوند د دنيا په نسبت د
عقبا ډېر لږ دی) آيا پس ګمان کوئ تاسې داسې
چې بېشکه خبره داده چې پيدا کړئ مو يئ تاسې
عبث (د لوبو لپاره) او (داسې ګمان کوئ چه)

[1] سورة المؤمنون آية ١١٢ تر ١١٥

بېشکه تاسې مونږ ته نه به راوستلی کیږئ (حساب او کتاب ته) .

یعني دوی به ووایي چې هغه ملائکې چې زمونږ هره نیکي او هره ګناه یې شمارلې ده دا به یې هم شمارلې وي چې مونږ څومره وخت په دنیا کې تېر کړی دی بیا به الله دوی ته ووایي چې واقعاً ددنیا عمر ډېر لږ وو لیکن کاش که تاسې پدې خبره په دنیا کې پوهېدلی او تاسې په دنیا کې د پیغمبرانو او یا نورو حق لور ته د بلونکو خبرې منلی او د هغوی په خبرو پوهېدلی نو بیا به تاسې په هغه فاني دنیا نه غره کېدئ او نه به وربانديې غولېدلی او هغه بد عملونه او شرارتونه به لتاسې څخه نه صادر کېدل کوم چې درنه صادرېدل .

تاسې داسې فکر ونه کوئ چې تاسې عبث پیدا شوي یاست بلکه تاسې د الله عبادت ته پیدا شوي یاست او د الله لور ته رجوع کونکي یاست د مجازات د پاره یعني په دنیا کې به د هرې نیکي او بدي جزاء او سزاء در رسیږي .

په بل ځای کې الله فرمايي:

وَ يَوۡمَ تَقُوۡمُ السَّاعَۃُ يُقۡسِمُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ ۬ۙ مَا لَبِثُوۡا غَيۡرَ سَاعَۃٍ ؕ كَذٰلِكَ كَانُوۡا يُؤۡفَكُوۡنَ (۵۵) وَ قَالَ الَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡعِلۡمَ وَ الۡاِيۡمَانَ لَقَدۡ لَبِثۡتُمۡ فِىۡ كِتٰبِ اللّٰہِ اِلٰى يَوۡمِ الۡبَعۡثِ ۫ فَهٰذَا يَوۡمُ الۡبَعۡثِ وَ لٰكِنَّكُمۡ كُنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ (۵۶) [1]

ترجمه : او په هغې ورځ کې چې قائم شي قیامت نو قسمونه به خوري مجرمان (کافران په دې) چې نه دی پاتې شوي (په دنیا کې) غیر له یو ساعته همدارنګه (چې دوی دروغ وایي په آخرت کې) وو دوی چې ګرځول کېدل به (له رښتیا نه په دنیا کې) او وایي به دوی ته هغه کسان چې ور کړی شوی وو دوی ته علم او ایمان (یعني انبیاء ، پرښتې، مؤمنان چې ولې دروغ وائی بلکه) خامخا په تحقیق ډېر پاتې شوي یئ (په دنیا کې چې هغه لیکلي دي) په کتاب د الله (لوح محفوظ) کې تر ورځې د بعثت پورې پس دغه ده ورځ د بعث (چې تاسې ترې منکران وئ) ولیکن وئ تاسې په دنیا کې چې د جهل او غفلت له امله (وجې) نه پوهېدئ (د دغې ورځې په وقوع) .

یعني مجرمانو ته به په قبر کې یا دنیا کې هستوګنه ډېره لږه ښکاره کیږي کله چې غم او مصیبت دده په سر باندې ودرېږي او دی ورته

---

[1] سورة الروم آیة ٥٥ او ٥٦

وګوري نو په ډېر افسوس او ارمان سره به ووائي چې د برزخ او د دنیا ژوندون ډېر ژر را باندې تېر شو او لږ څه مهلت را په برخه نه شو چې په دنیا کې مو د دغه دردونکي عذاب څخه د خلاصون لپاه څه سعی او کوښښ کړی وی او یا په دنیا کې لږ پاتې وای چې ددې ورځې لپاره مو تیاري کړې وی دغه مصیبت خو یو نا څاپه راته پېښ شو .

او هغه کسان چې پوه دي ملائکې ، انبیاء او مؤمنان به هلته هم دوی ته وایي چې تاسې غلط وایاست او یا تاسې په غلطي کې یاست چې تاسې دا فکر کوئ چې په دنیا کې تاسې لږ وخت تېر کړو تاسې د الله د علم او د ده د خبر او د لوح محفوظ د لیکنې سره سم د قیامت تر ورځې پورې په دنیا او په برزخ کې اوسیدلي یئ چې د یوې شیبې (لحظې) په اندازه هم په هغه کې څه کمی نه دی واقع شوی نن له هم هغې وعدې سره سم هغه ورځ را رسېدلی ده اوس هغه وګورئ چې تاسې پرې نه پوهېدئ او نه مو منله که له پخوا څخه مو په دغې ورځې یقین کړی وی او له تیاری سره ورته راغلی وی نو د دغه ځای له لذتونو او مسرتونو څخه به برخه من او متمتع شوي وئ او د دغو انعامونو او اکرامونو د لیدلو په مقابل کې به مو داسې ویل چې دغه ورځ په ډېر ځنډ (ایسارتیا) راغلې ده او مونږ ددې ورځې ډېر انتظار ویستلی دی لکه چې مؤمنان یې همداسې ګڼي .

په بل ځای کې الله فرمایي:

اَوَ لَمۡ نُعَمِّرۡكُمۡ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيۡهِ مَنۡ تَذَكَّرَ وَ جَآءَكُمُ النَّذِيۡرُ ؕ فَذُوۡقُوۡا فَمَا لِلظّٰلِمِيۡنَ مِنۡ نَّصِيۡرٍ (٣٧)[1]

ترجمه: آیا نه وو درکړی مونږ تاسې ته عمر دومره (موده) چې پند اخلي په هغه کې هر هغه څوک چې پند اخیستل غواړي او راغلی وو تاسې ته ویروونکی (چې د هغو خبره مو ونه منله) پس و څکئ (عذاب) پس نشته ظالمانو (کافرانو) ته هېڅوک مددګار (چې له عذابه یې خلاص کړي).

دا ځواب به دوزخیانو ته ورکول کیږي یعني مونږ خو تاسې ته عقل او پوه درکړې وه او پوره عمر مو هم در په برخه کړی وو چې ښایي تاسې به په هغه کې ښه فکر او غور کاوه او ښه به مو له بده جلا (جدا) او سمه صافه لاره به مو ځان ته غوره کړې وي تر دې چې له تاسې څنې ډېر کسان تر شپېتو اویا او اتیا کلونو پورې هم په دنیا کې ژوندون کړی و برسېره په دې ستاسې د هدایت او لار ښوونې د پاره مونږ تاسې ته داسې اشخاص او حالات هم در لېږلي وو چې تاسې د بدیو له خرابې خاتمې څخه وویروي او د غفلت له خوبه مو ویښ کړي آیا وروسته له دې نه اوس تاسې ته کوم عذر او بهانه پاتې ده؟ اوس نو په هم دغه دوزخ کې اوسیږئ او د سختو عذابونو خوندونه و څکئ

[1] سورة فاطر آیة ٣٧

او له هیڅ لوري د هیڅ چا امداد او مرستې ته هم څه هیله (امید) او توقع مه لرئ .

ددې آیت معنی داده چې آیا تاسې په دنیا کې دومره ژوند ونه کړو چې که تاسې هغه په سمه توګه استعمال کړی وای نو تاسې به ورڅخه فایده اخیستې وه امام ابن قتاده پدې اړه فرمایي : اوږد عمر د الله له طرفه په بنده باندې یو د ملامت کولو دلیل دی الله د مونږ لداسې حالت څخه وساتي چې د اوږده عمر له امله په غوره کې شو .

په بل ځای کې الله فرمایي :

كُلُوا وَ اشْرَبُوا هَنِيْٓئًا بِمَا اَسْلَفْتُمْ فِى الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ (٢٤) [1]

ترجمه : (ورته وبه ویل شي) خورئ او څښئ په اشتهاء سره په بدل د هغو عملونو خپلو چې مخکې لیږلي وو (تاسې ای مؤمنانو) په ورځو تیرو شویو د دنیا کې.

یعني په دنیا کې تاسې خاص د الله لپاره د خپلو نفسیاتي خواهشاتو څخه مخ اړولی وو او د لوږې او تندې تکلیفونه مو پر ځان قبول کړي وو نو نن هیڅ ډول رنځ او تکلیف په تاسې نشته په ښو مزو او ښې اشتهاء سره مو چې هرشی زړه غواړي

[1] سورة الحاقة آیة ٢٤

هغه خورئ او څښئ ئې ځکه چې نه مو طبيعت خفه او نه خرابيږي او نه به مو په معده او نظام هضم کې څه مشکل را پيدا کيږي او نه به د بلې بيماري ويره او ډار لتاسې سره وي او نه به مو د نعمتونو د زوال ويره په زړه کې راځي .

په فارغ وخت کې ذکر کوئ

الله انسان ته امر کوي چې کله هم دی فارغ شي نو په هغه وخت کې د د الله ذکر وکوي او الله ته د مخ واړوي الله پدې اړه فرمايي :

فَاِذَا فَرَغۡتَ فَانۡصَبۡ ۙ(۷) وَ اِلٰی رَبِّکَ فَارۡغَبۡ ٪(۸)[1]

ترجمه : نو کله چې فارغ شې (ای محمده ﷺ ! له تبليغه يا له لمانځه نه) نو ځان ستړی کوه (په عبادت، دعاء کې) او رب خپل ته پس رغبت او زاري کوه (په هروخت کې) يعني کله چې د خلکو له پوهولو څخه فارغ شي نو په خلوت کې کېنه زيار (محنت) کوه او د خپل رب په لوري بلا واسطه متوجه شه .

خاتمه

وروسته لدې چې له پورتنيو آيتونو څخه لوستونکي ته د وخت اهميت ور ښکاره شو په

[1] سورة الشرح آية ۷ او ۸

خاتمه کې یو څو نکتې اېږدم چې د لوستونکي سره مرسته وکړي چې د هغه قیمتي سرمایه (وخت) په څه ډول وساتي .

د وخت اهمیت پېژندل

هغه کسان چې د وخت اهمیت ونه پېژني نو هغه ورځخه په سمه توګه فایده نشي پورته کولی د مثال په ډول هغه کس چې هغه هر وخت خپل وخت په عبثیاتو کې تېروي او اوس ستا په وړاندې د یوڅه وخت لپاره ولاړ دی که ته هغه ته ووایې چې دا وخت قیمتي شی دی ګټه ترینه پورته کړه هغه ستا ددې خبرې په قدر نه پوهیږي ځکه هغه د وخت قدر او رښتونی اهمیت پېژندلی نه دی نو تر هرڅه له مخه انسان باید د وخت اهمیت و پېژني بیا یې ساتنه هم کولی شي او فایده هم ورځخه پورته کولی شي او که مونږ په لاندې څو نکتو کې فکر وکوو نو هغه به مونږ ته د وخت اهمیت را ښکاره کړي .

الف : باید مونږ فکر وکړو چې زمونږ ورځ کله هم تر ۲٤ څخه نه مو یوه هفته له ۱٦۸ او نه مو کال له ۸٤۹٦ ساعتونو څخه زیاتیږي بلکه دا ټول محدود دي او چې څومره دي همدومره دي نه کمیږي او نه زیاتیږي نو چې مونږ یو ساعت تېروو ددې مطلب دادی چې مونږ ته په حساب راکړل شوي ساعتونه دي یو ترینه کم شو او چې کله انسان یو ساعت تېروي نو ددې دا معنی ده چې دا کس یو

ساعت له دنیا څخه تېول شو او د آخرت لوري ته یو ساعت نور هم ور نېږدي شو او دا ساعت چې تېر شو بیا بېرته په هېڅ قیمت او هېڅ وسیله نه را ګرځي رسول الله ﷺ فرمایي :

لیس یتحسر أهل الجنة علی شيء إلا علی ساعة مرت بهم لم یذکروا الله عز وجل فیها

ترجمه : هغه کسان چې جنت ته لاړ شي په هېڅ شي به خفه نه وي یوازې په هغه ساعت به خفه وي چې په دوی باندې په دنیا کې په داسې حالت کې تېر شو چې په هغه ساعت کې دوی د الله ذکر او عبادت نه وو کړی .

که پورتني حدیث ته په غور او فکر سره وګورو مونږ به د هرساعت او هرې لحظې په رښتوني اهمیت باندې ښه پوه شو چې جنتیان جنت ته د تلو نه وروسته هم د هغه حالت په اړه خفګان کوي چې دوی د الله د ذکر نه بغیر تېر کړی دی نو هغه کسان چې د همدې ساعتونو د ضائع کولو له امله له جنت څخه محروم شوي دي نو هغوی به څومره او په څه ډول ارمان کوي؟

ب : د وخت قیمت د هر ډول مال له قیمت څخه زیات دی بلکه وخت له مال څخه دومره قیمته دی چې بالکل نه سره مقایسه کیږي ددې امله به پخواني علماء ډېر په کوښښ کې وو چې د خپل وخت

ساتنه وکوي او هغه کوښښ به یې په مال پسې له کوښښ نه زیات وو حضرت حسن یو ځل فرمایل :

أدركت أقواماً كانوا على أوقاتهم أشد منكم حرصاً على دراهمكم ودنانيركم

ترجمه : ما داسې خلک لیدلي چې د خپل وخت نه د فایدې په پورته کولو کې یې دومره حرص کولو چې د دینارونو او درهمونو په اړه ستاسې له حرص څخه زیات وو .

ج: که انسان خپل عمر ته په غور سره وګوري نو د خپل عمر لویه برخه یې په خوب کې تیریږي په پاتې برخه کې ډیره برخه دده په ګرځېدلو او د خپلو حاجتونو په پوره کولو کې تیریږي لدې نه په پاتې عمر کې اکثر دده په خبرو کې تیریږي او همدا د یو انسان د عمر قیمتي لحظې دي داسې نه ده چې دا لحظې دده په عمر کې په حساب کې نه راځي او یا ده ته اضافي ورکول کیږي .

د: انسان باید پوه شي چې کوم عمر دده تیریږي دا بېرته کله هم د راګرځیدو قابل نه دی او هغه وختونه چې په ده باندې لدې وروسته راځي د هغه خپل کارونه وي نن ورځ چې تېره شي دا تېره شوه سبا ورځ چې راځي نو د نویو مسئولیتونو سره راځي پدې اړه امام ابن قیم رحمه الله په مدارج السالکین کې فرمایي :

أن الوقت هذا لا يمكن أن يعوض لأن كل يوم له واجب جديد لا يمكن أن تقضي فيه الواجب الذي قد فوته في هذا الوقت الذي ضيعته بالأمس

ترجمه : بېشکه د وخت عوض بالکل نه راځي بلکه هره ورځ چې راځي د هغې سره يو تړلی واجب راځي چې په هغه وخت کې بايد وکول شي او په بل وخت کې هغه کار نه کيږي .

په ډېرو کارونو کې د مهمو کارونو غوره کول

پدې ټکي باندې پوهېدل له انسان سره مرسته کوي چې خپل وخت له ضائع کېدلو او په بې فايدې شيانو کې له تېرېدلو څخه وساتي انسان بايد صرف د يو فايده من کار کوښښ ونه کوي بلکه د داسې کار کولو کوښښ وکوي چې هغه ده ته ډېر فايده من وي پدې اړه علماء کرام فرمايي (إن من مكائد الشيطان أن يشغل الإنسان بالعمل المفضول عن العمل الفاضل)

ترجمه : د شيطان له چلونو او فريبونو څخه يو دا هم دی چې هغه غواړي انسان له ډېرغوره کار څخه په داسې کار باندې آخته کړي چې هغه ډېر غوره نه وي .

او انسان بايد مخکې له شروع څخه د کار انتخاب په ښه ډول وکوي او څومره چې غوره کار انتخاب

کړل شي همدومره غوره به نتیجه ترې راوزي او هغه کارونه چې ډېر مهم وي اول وکول شي نو اکثر بیا نور کارونه اسانه شي او کله کله یې کولو ته ضرورت هم پاتې نشي ددې امله په هر کار کې د کار طریقه او دا چې له کوم ځای نه شروع کړل شي او په کوم ځای ختم کړل شي ډېر مهم وي ددې امله یوه مقوله ده چې وایي (اعمل بطريقة أذكى لا بمشقة أكثر) یعني کار په ډېر تکلیف سره نه بلکه په ښه طریقه سره وکوه .

د هدف تعین کول

کله کله کار کول اسان وي لکن د کار کولو څخه د هدف تعین کول مشکل وي انسان باید له هر کار نه خپل هدف تعین کړي او بیا هغه کار وکوي او له خپل ځان څخه پوښتنه کوي چې دا کار دی ولې کوي؟ او همدې سوال ته د معقول ځواب د پیدا کولو څخه وروسته په کار شروع وکوي او کله چې د انسان هدف او مقصد معلوم شي کله کله هغه ته رسېدل په اسانه سره هم ممکن شي کله هغه ته د اوږدې لارې د لنډولو څخه بغیر انسان ته ممکنه شي چې له لنډې لارې نه هغه هدف ته ورسیږي .

د هر کار لپاره د هغه مناسب وخت ورکول

کله چې انسان په خپله ورځ کې د ځان لپاره تقسیم اوقات جوړ کړي او هر کار ته داسې وخت

ورکړي چې انسان په هغه وخت کې هغه کار په ښه توګه کولی شي نو دا هم د وخت په ساتنه کې ډېره مرسته کوي د مثال په ډول انسان تلاوت او يا مطالعې ته داسې وخت خاص کړي چې په هغه کې ارامي وي او دی ښه په فارغ زړه باندې مطالعه او يا تلاوت کولی شي او له ده سره وخت وي چې د آيتونو او يا د کتاب د متن په اړه فکر او تدبر وکوي او پدې ډول که سپورت کول غواړي او يا نور داسې کارونه وي نو داسې وخت ورته تعين کړي چې هغه دده په فکر ددې عمل لپاره بهترين وخت وي .

د وعدو اول او آخر محدود کول

کله چې مونږ له ملګرو سره کينو يا پاڅيږو او يا هغه کور ته راغواړو او يا له هغه سره چېرته په بل ځای کې د ملاقات وعده کوو نو بايد له ځان سره ددې ملاقات لپاره وخت محدود کړو د مثال په ډول چې د څو بجو نه به شروع کيږي تر څو بجو پورې اکثر داسې وي چې مونږ له چا سره وعده وکوو چې زه نن ماسپښين درځم نو چې ماسپښين شي نو وخت يې نه وو معلوم چې څه وخت ورځي نو کله مونږ ډېر وختي هلته لاړ شو او بيا آخر يې نه وي معلوم چې ترڅه وخته پورې به هلته پاتې کيږي او کله خو چې ملګري د شپې سره کيني نو تر نيمې شپې پورې او کله تر سهاره پورې ډېر زيات وخت پداسې خبرو او مجلس کې تېر کړي چې هغه مجلس ددې ارزښت نه لري چې انسان

پکې وخت تېر کړي او که چېرته مونږ د کوم ملاقات اول وخت نه شو تعین کولی یعني د څه مشکلاتو له امله څوک مونږ نشو مجبور کولی چې په فلاني وخت کې به خبرې وکوو نو باید آخر یې تعین کړو او کله چې مونږ پوه شو چې نا وخته کیږي نو هغه کس ته معذرت وړاندې کړو او د خپل وخت ساتنه وکوو او مجلس بند کړو .

د وخت له ضائع کونکو څخه ځان ساتل

زمونږ په ژوند کې ډېر داسې شیان دي چې هغه زمونږ وخت ډېر زیات ضائع کوي د مثال په ډول زمونږ کمپیوټر، موبایل، انټرنېټ اکثر چې مونږ له چا سره په خبرو مصروف شو نو بیا وروسته چې مونږ خپل موبایل وګورو نو زیات وخت مو مصرف شوی وي په همدې ډول کمپیوټر او انټرنېټ چې مونږ غواړو د یو څو دقیقو لپاره ئې استعمال کړو نو هغه دقیقې مو په ساعتونو بدلې شي نو باید لدې څخه صرف د ضرورت تر حده پورې کار واخلو په همدې ډول راغلي ملګري اکثر زمونږ تقسیم اوقات خرابوي او په خپلو راتلو سره زمونږ وخت خرابوي نو باید زمونږ ورته فام وي چې د ضروري خبرو تر حد پورې وخت ورسره تېر کړو پدې ځای کې امام ابن جوزي رحمه الله مونږ ته مشوره راکړې ده او فرمایي چې پداسې مجلسونو کې د واقع کېدلو څخه ځان ساتئ او که

چېرته خامخا ورسره مخامخ کیږي نو د ضرورت تر حده پورې پکې وخت تېروئ او چې کله مو په وس پوره شوه چې ځان ترې خلاص کړئ نو ترې خلاص یې کړئ او د خپل وخت ساتنه وکوئ .

د عذر په ویلو کې زړورتیا

زمونږ اکثر وخت ددې امله عبث تیریږي چې مونږ چاته خپل عذر نشو ویلی او ددې امله مونږ د قیمتي وخت ضائع کېدل برداشت کوو لکن دا نشو زغملی چې مونږ یوه راغلي مېلمه ته عذر ووایو او ورته ښکاره کړو چې پدې وخت کې زه زیات وخت نه لرم او دا اکثر ددې امله وي چې مونږ پدې پوهیږو چې که زه خپل راغلي مېلمه ته عذر ووایم او هغه ته دا خبره ښکاره کړم چې زه اوس نه یم خلاص نو هغه خفه کیږي سره ددې چې دا د خفګان خبره نه ده الله مونږ ته فرمایي :

وَإِن قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ

ترجمه : او که تاسې ته وویل شي چې تاسې لاړ شئ نو بیا تاسې لاړ شئ دا ستاسې لپاره د پاکي خبره ده الله په هغه څه باندې ښه خبر دی چې تاسې یې کوئ .

نو ددې امله که مونږ د چا کور ته ورشو او هغه مونږ ته ووایي چې زه اوس ډېرو خبرو ته وخت نه لرم باید مونږ ورڅخه خفه نه شو او په خوشحالي

د هغه نه ولاړ شو او هغه پرېږدو چې د خپل وخت څخه فايده پورته کړي .

خپلو کارونو ته ترتيب ورکول

بل هغه شی چې له مونږ سره د وخت په ساتنه کې مرسته کوي هغه ورځنيو ټولو کارونو ته په ښه ډول سره ترتيب ورکول دي چې مونږ له ځان سره خپل تقسيم اوقات ولرو او هغه کارونه چې بهر ته پکې وتل وي هغه مونږ په يو ځای جمع کړو او هغه کارونه چې مونږ يې په کمپيوټر کې کوو هغه بل ځای جمع کړو پدې سره به دوه او درې کارونه زمونږ دومره وخت ونيسي که بېل بېل يې کوو نو يو کار به له مونږ نه هغه وخت نيسي پدې توګه مونږ کولی شو خپل وخت په ښه توګه سره مصرف کړو او له ضائع کېدلو څخه يې وساتو .

کلکه اراده

اکثر وخت مونږ پدې پوهيږو چې بايد د وخت قدر وکوو او ساتنه يې وکوو او له ضائع کېدلو څخه يې وساتو لکن دا چې څنګه يې بايد عملي کړو ددې لپاره د کلکې او مضبوطې ارادې ضرورت وي ترڅو هغه له مونږ سره مرسته وکوي چې د وخت د ساتلو نظريه عملي کړو او که له مونږ سره داسې کلکه اراده او عزم نه وي نو بيا که مونږ هرڅو پدې پوه شو چې وخت يوه قيمتي سرمايه ده او ساتل يې ضرورري دي بيا هم مونږ د وخت ساتنه نشو کولی .

هر کار په خپل وخت کول

اکثر له مونږ نه وخت پدې ضائع کيږي چې مونږ کار له خپل وخت څخه وروسته کوو او که مونږ غواړو چې د خپل وخت ساتنه وکوو نو يوه کاميابه فارموله يې داده چې بايد کله هم د کوم کار وخت شي په هماغه وخت وکول شي او لدې نه وروسته ورته د موقع انتظار ونه ويستل شي د هر کار لپاره بهترين وخت د هغه خپل وخت دی او څومره چې يو کار تر خپل وخت وروسته کيږي همدومره به نقصاني کيږي او همدومره به د انسان په تقسيم اوقات کې خلل راځي امام ابن حسن بصري رحمه الله پدې اړه فرمايي :

إياك والتسويف؛ فإنك بيومك ولست بغدك، فإن يكن غدٌ لك فكن في غدك كما كنت في اليوم وإن لم يكن غدٌ لك لم تندم على ما قد فعلت اليوم.

ترجمه : کار له خپل وخت نه د وروسته کولو څخه ځان وساته ته اوس په نن ورځ کې یې په سبا کې خو نه یې (سبا خو به سبا راځي) او که په سبا کې شوې (سبا هم دربانديې راغلو) نو په هغه کې هم همداسې شه لکه په نن ورځ کې چې یې او که چېرته په تا باندې سبا رانشي نو ته به وربانديې پښېمانه نه وې.

حضرت عمر ابن عبد العزیز رحمه الله د زیات کار له امله بېمار شو چا ورته وویل چې دا لږ کار تاسې سبا ته پرېږدئ سبا به یې وکوئ ده مبارک رحمه الله ورته وفرمایل :

أعياني عمل يوم واحد فكيف إذا اجتمع علي عمل يومين؟

ترجمه : زه د یوې ورځې کارونو بېمار کړم او که زه دا کار سبا ته پرېږدم او د دوو ورځو کارونه راته یوې ورځې ته ټول شي بیا به یې څنګه کوم؟

د آرام او خوب وخت محدود کول

کله کله د انسان زیات وخت په خوب تیریږي هغه ددې امله چې انسان ویده کیږي دا فکر یې نه وي

چې دی به څه وخت را پاڅیږي نو چې کله یې زړه وشي را پاڅیږي هغه کسان چې د وخت په قدر پوهیږي هغوی داسې نه کوي بلکه د ویده کېدو په وخت کې د خپل خوب آخري وخت تعین کوي یا د را وېښولو لپاره زنګ برابروي او یا چاته وایي چې دی باید را ویښ کړي پدې سره انسان کولی شي خپل وخت له ضائع کېدلو او بې ځایه تېرېدلو څخه وساتي په خاصه توګه هغه کسان چې په کوم ځای کې کار کوي او یا شاګرد وي په عامو ورځو کې سحر وختي پاڅیږي او په کومه ورځ یې چې رخصتي وي نو تر ناوخته پورې ویده کیږي او د مکملې شپې د خوب نه وروسته دا ساعتونه په خوب کې تېرول صرف ددې ساعتونو ضائع کول وي.

د بل چا د وخت قدر کول

انسان باید فکر وکوي چې دده خپل وخت څومره د قدر وړ دی د بل چا وخت همداسې محترم دی او یوازې خپل نه بلکه باید د هغه وخت هم ورته وساتي او له هغه سره هم مرسته وکوي چې د هغه وخت بې ځایه تېر نشي ددې امله چې انسان چېرته ځي نو هلته دومره کیني چې دده هلته د کېناستلو او پاتې کېدلو ضرورت وي او چې ضرورت ختم شي نو باید له هغه ځای نه ستون شي او هغه خلک پرېږدي چې د خپل وخت نه په هغه ډول چې هغوی یې غواړي فایده پورته کړي او که بیا خامخا مونږ هلته پاتې کېدل غواړو نو باید هغوی ته اجازه ورکړو چې هغوی د خپل کار وکوي

او د هغوی د کار مانع نه شو مونږ چې په اکثر وختونو کې چاته ورشو نو هغه تلاوت کوي مونږ شه وینو چې هغه تلاوت یا مطالعه او یا بل کار زمونږ لپاره بند کړی دی نو بیا مونږ هلته ناست وو او له هغه څخه غواړو چې له مونږ سره خبرې وکوي او که هغه بیا هم په بل شي مصروف کیږي نو مونږ خفه کیږو معنی دا چې مونږ د هغه د وخت په اړه د ساتنې فکر نه کوو پدې اړه

امام ابن قیم فرمایي : هغه کسان چې د بل چا د وخت د ساتنې خیال نه ساتي مثال یې داسې دی لکه څوک په لاره کې د یوه مسافر سره مخامخ شي او هغه په خپلو خبرو کې را ګیر کړي او له هغه سره دومره خبرې کوي ترڅو د هغه نه د سفر موقع او منزل ته د رسیدلو وخت له لاسه وزي همداسې مثال د هغه کس دی چې د بل چا سره خبرې وکوي او د هغه لږ تر لږه یو ساعت او یا څو دقیقې ور ضائع کړي نو ددې کس څخه هغه هدف له لاسه ووتلو چې دی به په دې یو ساعت کې ورته رسیدلو همدارنګه امام ابن قیم فرمایي چې مونږ باید چاته اجازه ورنه کړو چې زمونږ وخت په بې فایدې کارونو کې تیر کړي او بلکه مونږ باید په زړه کې داسې خیالونو ته هم اجازه ورنه کړو چې زمونږ په زړه باندې مسلط شي او مونږ د الله له یاد څخه غافل کړي .

ماخذونه

1-التاريخ الإسلامي مواقف وعبر، د. عبد العزيز الحميدي، دار الدعوة، الإسكندرية.

2- السيرة النبوية دروس وعبر، د. مصطفى السباعي، المكتب الإسلامي، بيروت، لبنان، الطبعة التاسعة، 1406هـ - 1986م.

3- السيرة النبوية، لأبي محمد بن عبد الملك بن هشام، دار الفكر.

4- السيرة النبوية عرض حقائق وتحليل أحداث د.على محمد الصلابي الطبعة الأولى.

5- السيرة النبوية الصحيحة، د. أكرم العمري، الطبعة الأولى 1412هـ/ 1992م، مكتبة العلوم والحكم بالمدينة المنورة.

6-السيرة النبوية في ضوء المصادر الأصيلة:الدكتور مهدي رزق الله أحمد ط1-1412ه مكتبة الملك فيصل.

7- السيرة النبوية مواقف وعبر :الدكتور عبد العزيز بن عبد الله الحميدي ط2 دار الدعوة .

8-القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ-1990م.

9- تفسير القرطبي، لأبي عبد الله القرطبي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، لبنان، 1965م.

10- سير أعلام النبلاء: شمس الدين الذهبي، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1403هـ.

11- صور وعبر من الجهاد النبوي في المدينة، تأليف: د. محمد فوزي فيض الله، دار القلم، دمشق، الدار الشامية، بيروت، الطبعة الأولى، 1419هـ- 1996م.

12- صحيح السيرة النبوية، إبراهيم العلي، دار النفائس، الطبعة الثالثة، 1408هـ - 1998م.

13- صحيح البخاري، محمد إسماعيل البخاري، دار الفكر، الطبعة الأولى،

1411هـ - 1991م.
14- على خطى الحبيب :عمرو خالد
17- فقه السيرة النبوية :الدكتور محمد سعيد رمضان البوطي ط11 1991م
18- من معين السيرة، صالح أحمد الشامي، المكتب الإسلامي، الطبعة الثانية، 1413هـ- 1992م.
19- فقه السيرة النبوية، منير الغضبان، معهد البحوث العلمية وإحياء التراث مكة المكرمة.
20- شرح النووي على صحيح مسلم للإمام النووي المتوفى 676هـ - طبع المطبعة المصرية ومكتبتها – القاهرة عام 1347هـ.
21-البداية والنهاية، أبو الفداء ابن كثير الدمشقي. دار الريان للتراث.
22- غزوة بدر الكبرى الحاسمة، محمود خطاب.
23-غزوة بدر الكبرى، محمد أبو فارس، دار الفرقان، الطبعة الأولى، 1402هـ-1982م.
24- غزوة بدر الكبرى، محمد أحمد باشميل، طبعة دار الفكر، الطبعة السادسة، سنة 1394هـ
25-فتح الباري، ابن حجر العسقلاني، دار المعرفة، بيروت، لبنان.
26- الدر المنثور في التفسير بالمأثور، الإمام السيوطي، الناشر محمد أمين دمج، بيروت، لبنان.
27-زاد المعاد في هدي خير العباد، أبو عبد الله ابن القيم حققه: شعيب الأرناؤوط وعبد القادر، الطبعة الأولى، 1399هـ، دار الرسالة.
28-السيرة النبوية في ضوء القرآن والسنة، محمد أبو شهبة، دار القلم، دمشق، الطبعة الثالثة، 1417هـ - 1996م.
٢٩-المستفاد من قصص القرآن للدعوة والدعاة، عبد الكريم زيدان، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1418هـ- 1997م.
3٠- طبقات ابن سعد الكبرى، محمد بن سعد الزهري، دار صادر، ودار بيروت

للطباعة والنشر، 1376هـ- 1957م.

31- المغازي للواقدي، محمد عمر بن واقد المتوفي 207هـ، تحقيق د. مارسدن جونس، عالم الكتب، بيروت، الطبعة الثالثة، 1404هـ- 1984م

32- القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ- 1990م.

33- إمتاع الأسماع بما للرسول من الأبناء والأموال والحفدة والمتاع، للشيخ أحمد المقريزي، صححه وشرحه محمود محمد شاكر، مطبعة لجنة التأليف والترجمة بالقاهرة 1941م.

د مؤلف چاپ شوي آثار

1. د حضرت محمد ﷺ د نبوت معجزې
پښتو
2. ړنګه ځاله
پښتو
3. آشيانه سوخته
فارسي
4. په اسلام کې د انسان حقوق
انګليسي
5. دين يې دام دی ددنيا په لار کې ايښی
پښتو
6. فرار از کزار
فارسي
7. له کزاره تېښته
پښتو
8. زوړ دين نوی مسلمان
پښتو
9. ډم ډمکو جي او ليکوال
پښتو
10. اديان پشت در
فارسي
11. له دروازې تر شا دينونه
پښتو
12. د انصاف او اعتدال لاره
پښتو

13. کفري الفاظ
پښتو
14. کل بچه فارسي
15. معلومات عمومي
فارسي
16. د حج لارښود پښتو
او انګليسي
17. محمد رسول الله ﷺ سيرت اخلاق او پېژندنه
پښتو
18. د اسلامي تاريخ له پانو څخه اول
پښتو
19. د اسلامي تاريخ له پانو څخه دوهم
پښتو
20. د اسلامي تاريخ له پانو څخه دريم
پښتو
21. د اسلامي تاريخ له پانو څخه څلرم
پښتو
22. د اسلامي تاريخ له پانو څخه پنځم
پښتو
23. د اسلامي تاريخ له پانو څخه شپږم
پښتو
24. د اسلامي تاريخ له پانو څخه اوم
پښتو
25. د اسلامي تاريخ له پانو څخه آتم
پښتو
26. د اسلامي تاريخ له پانو څخه نهم
پښتو

27. د اسلامي تاریخ له پانړو څخه لسم پښتو
28. د فقهي کتابونو له پانړو څخه اول پښتو
29. د فقهي کتابونو له پانړو څخه دوهم پښتو
30. د فقهي کتابونو له پانړو څخه دریم پښتو
31. د فقهي کتابونو له پانړو څخه څلورم پښتو
32. د فقهي کتابونو له پانړو څخه پنځم پښتو
33. د علم حدیث مطالعه پښتو او انګلیسي
34. د فقهي کتابونو له پانړو څخه شپږم پښتو
35. کلمه طیبة پښتو
36. الدعاء پښتو
37. اللهم عربي، پښتو، انګلسي
38. المسجد پښتو
39. قرآني معلومات لمړی برخه پښتو
40. سلام پښتو

41. د فقهي کتابونو له پانو څخه اومه برخه پښتو
42. د وخت ا هميت (لمړی برخه)

ستاسې په لاس کې